د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیاتو پوهنځی
د فقه او قانون د ماسترۍ
پروګرام

# د مطالعو اختلاف او پر فقهي احکامو يې اغيزي د فقهي په رڼا کي

(د ماسترۍ رساله)

محصل: عنایت الله (نوري)

لارښود استاد: پوهنوال دوکتور محمد یونس (ابراهیمي)

کال: ۱۴۰۳ هـ ش - ۱۴۴۶ هـ ق

Scanned with OKEN Scanner

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون

د شرعیاتو پوهنځی

د فقه او قانون د ماستري پروګرام


# د مطالعو اختلاف او پر فقهي احکامو يې اغیزي د فقهي په رڼا کې

## ( د ماستري رساله )


محصل: عنایت الله (نوري)

لارښود استاد: پوهنوال دوکتور محمد یونس (ابراهیمي)


کال: ۱۴۰۳ هـ ش ـ ۱۴۴۶ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## علمي معاونيت

## د فوق ليسانس برنامو آمريت

## د شرعيات اوقانون پوهنځی

## د فقهي او قانون ماستری برنامه

---

# تــــصديق پـــــانـــــه

ښاغلی (عنايت الله) د (مراد خان) زوی د ID: SH-MSF-S1402-979 نمبر لرونکي، د فقهي او قانون د (يوولسم) دورې محصل، خپله د ماستری مرحلې رساله چې عنوان یې دی:

( د مطالعو اختلاف او پر فقهي احکامو یې اغیزې د فقهې په رڼا کې)

په ۱۶/ ۱۱ /۱۴۰۴ هـ ل نېټه بریالیتوب سره دفاع کړه او د حـــکم پلاوي د ارزونې پر بنسټ د ۹۳ (نمرو په عدد) درې نوي (نمرو په حروفو) وړ وګرځېد، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتي بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي غړي :

| شماره | داستاذ نوم | مسئولیت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور نجیب الله صالح | دحکم پلاوي غړی | [signature] |
| ۲ | دکتور محمد اکبر زاهد | د حکم پلاوي غړی | [signature] |
| ۳ | دکتور محمد یونس ابراهیمی | لارښود او دحکم پلاوي مشر | [signature] |

د فوق ليسانس برنامو آمر.......................... علمي مرستيال ..........................

## ډالۍ:

دا څېړنه ټولو لوستونکو ته، او په ځانګړي ډول هغو مبارکو شخصیتونو ته ډالۍ کوم، چې خپل ارزښتناک ژوند یې د اسلامي امت د یوالي، او شرعي علومو د خدمت لپاره وقف کړی وي.

**مننلکيک:**

له هر څه وړاندې د خپل رب شکر ادا کوم چې ماته يې د دې علمې رسالې د ليکلو، او بشپړه کولو توفيق را په برخه کړ،

او بيا د سلام پوهنتون له محترم رييس صاحب دکتور مصباح الله عبدالباقي، او له ټولو قدرمنو استادانو څخه د زړه له تله مننه کوم، چې د خپل خواږه ژوند يوه لويه برخه يې د شرعي علومو د خدمت، او د ګران هيواد د راتلونکي لپاره د لوړو کدرونو د روزلو لپاره وقف کړي ده، په ځانګړي توګه له خپل لارښود استاد محترم پوهنوال دوکتور محمد يونس (ابراهيمي) څخه د زړه له تله مننوی يم، د لوی الله (جل جلاله) له دربار څخه يې د تل لپاره موفق او سر لوړی غواړم.

## د څېړنې لنډيز:

په دې څېړنه کې د مطالعو د اختلاف مهمه مسأله څېړل شوي ده. د اختلاف المطالع قضيه په فقهي مسايلو کې په ځانګړې توګه د رمضان د احکامو په اړه له بنسټيزو قضيوڅخه ده، اختلاف المطالع يعني د سپوږمۍ د راختلو د ځايونو اختلاف، نو که په يوه هيواد کې مياشت وليدل شي، او په بل هيواد کې د مياشتې د راختلو د مختلفو ځايونو له امله ونه ليدل شي، نو دې حالت ته اختلاف المطالع وايي، د مطالعو د اختلاف په اړه د فقهاوو تر منځ اختلاف شتون لري، او هغه داسې چې ځيني علماء د خپلو دلايلو پر اساس اعتبار ورکوي، يعني هر هيواد به د خپل رؤيت مطابق عمل کوي، او اکثريت علماء د مطالعو اختلاف ته اعتبار نه ورکوي، يعني د يوه هيواد رؤيت د بل هيواد لپاره دليل کېدلای شي، چې دا قول راجح او مُفتى به ګڼل شوی دی، لکه څرنګه چې علامه ابن عابدين (رحمه الله) په خپله رساله کې دا دويم قول ته ترجيح او غوروالی ورکړی دی، او په دې اړه چې کوم حديث شريف دی، هغه تر مطلق رؤيت پوري تړاو لري، بناء که په هر ځای کې په شرعي توګه د مياشتې ليدل ثابت شي، او ناليدلو ته په داسې طريقې د سپوږمۍ د ليدلو خبر ورسيږي چې د هغوی د غالب ګومان لپاره مفيد وي، نو د ليدونکو ليدل ورته دليل ګڼل کيږي، البته که په ناليدلي هيواد کې د مطالعو اختلاف ته اعتبار ورکېدل، يعني خپل رؤيت ته يې اعتبار ورکول، نو بيا به خلک د خپل هيواد د آمر د امر مطابق عمل کوي، تر څو مخالفت را منځ ته نه شي، او د آمر حکم په اختلافي مسايلو کې اختلاف له منځ څخه رفع کوي. او دويمه قضيه چې اړينه او بايد څېړل شوي وای، هغه د فلکي حساب په وړاندوينو باندې په روژې او اختر کې عمل کول د ځلورو امامانو او اکثريت فقهاوو په وړاندې جواز نه لري، ځکه مسلمانان د روژې او اختر په کولو هغه وخت مکلف ګرځول شوي دي چې مياشت ووينې، او د سترګو په وسيله د مياشت ليدل شرعاً يقين افاده کوي، او که د کومې ستونزې له کبله مياشت ونه ليدل شي، نو په دې اړه حکم دا دی چې د هرې مياشتې دېرشم تاريخ به پوره کيږي، دا او دې ته ورته مسائل په دې څېړنه کې څېړل شوي دي.

**د څېړنې کيلدي کلمې:** اهميت، مطالع، اختلاف، حکم، هلال، روژه، اختر، فلک.

# د موضوعاتو لړلیک


**سریزه: ........................................................................................................ ۱**

د موضوع ارزښت: ........................................................................................ ۲

د موضوع د اختیار لاملونه: ........................................................................... ۳

د څېړنې ستونزې: ....................................................................................... ٤

د څېړنې پوښتنې: ....................................................................................... ۵

د څېړنې شالید: ......................................................................................... ۵

د څېړنې کړنلاره: ...................................................................................... ٦

د څېړنې موخې: ........................................................................................ ۷

د څېړنې پلان: ........................................................................................... ۸


## لومړی فصل

## لومړني مفاهیم او مطالعو د اختلاف پېژندنه


**لومړی مبحث : د مطالعو د اختلاف مفهوم او تعریف ........................................ ۹**

لومړی مطلب: د مطالعو د اختلاف، او اتحاد مفهوم ............................................... ۹

دوهم مطلب: د مطالعو د اختلاف تعریف ........................................................ ۱۰

دریم مطلب: د اختلاف تعریف ...................................................................... ۱۱

**دوهم مبحث: د فقهې او حکم تعریف ........................................................... ۱۲**

لومړی مطلب: د فقهې تعریف ....................................................................... ۱۲

دویم مطلب: د حکم تعریف .......................................................................... ۱۳


## دویم فصل

## فلکي حساب او پېژندنه يې


**لومړی مبحث: د فلک تعریف او اهمیت يې ....................................................... ۱۵**

لومړی مطلب: د فلک تعریف ........................................................................ ۱۵

دویم مطلب: د فلک د علم اهمیت ................................................................. ۱٦

**دوهم مبحث : د فلک د علماوو پر اقوالو باندې د عمل کولو شرعي حیثیت ........................... ۱۸**

لومړی مطلب: د لومړي قول د اصحابو اقوال او دلایل............................................... ۱۹

دویم مطلب: د لومړي قول د اصحابو د دلایلو مناقشه ................................................ ۲۲

دریم مطلب: د دویم قول د اصحابو اقوال او دلایل .................................................. ۲۵

څلورم مطلب: په روژه او اختر کې د فلکي حساب په وړاندوینو باندې د نه باور په هکله د معاصرو علماوو رأیي:
................................................................................................................ ۳۰

پنځم مطلب: د راجح قول بیان: ........................................................................ ۳۱

شپږم مطلب: د فلکي حساب د وړاندوینو او د سترګو د لیدلو تر منځ تعارض ...................... ۳۲

اووم مطلب: د ستورو د څارني په آلاتو لکه تلسکوب (د لرې لیدلو آله، او یا د اسماني اجرامو د را نژدې کېدلو آله) د سپوږمۍ د لیدلو حکم........................................................................ ۳۴

**دریم فصل**

**د مطالعو اختلاف د فقهي مذاهبو په رڼا کې او د اختلاف عوامل**

**لومړی مبحث : د فقهي مذاهبو اقوال او د اختلاف لاملونه ........................................ ۳۶**

لومړی مطلب: د لومړي قول د اصحابو اقوال او دلایل ............................................... ۳۷

دویم مطلب: د دویم قول د اصحابو اقوال او دلایل .................................................. ۴۰

دریم مطلب: د لومړي او دویم قول د اصحابو د دلایلو مناقشه........................................ ۴۲

څلورم مطلب: د مطالعو د اختلاف مسافه.............................................................. ۴۶

پنځم مطلب: د دریم قول د اصحابو اقوال او دلایل .................................................. ۴۷

شپږم مطلب: د اختلاف المطالع په اړه د معاصرو علماوو رأیي...................................... ۵۷

اووم مطلب: د راجح قول بیان ........................................................................ ۵۹

اتم مطلب: د مطالعو د اختلاف لامل ................................................................. ۶۰

نهم مطلب: د میاشتې د اثبات طریقې ................................................................ ۶۱

لسم مطلب: د تلیفون او د نورو الکترونیکي وسایلو په وسیله د شاهدي ورکولو حکم .............. ۶۴

یوولسم مطلب: د اعلان په وسیله له نورو هیوادونو سره د روژې او اختر کولو حکم ................ ۷۰

دوولسم مطلب: د راديو او تلوېزيون په اعلان د روژې او اختر کولو حکم ............ ۷۳
ديارلسم مطلب: ايا د سپوږمۍ د ثبوت لپاره د حاکم (قاضي) حکم شرط دی؟ ............ ۷٤
**دويم مبحث: د مطالعو د اختلاف اغيزي ............ ۷٦**
لومړی مطلب: پر لمانځه باندې د سپوږمۍ د مطالعو د اختلاف اغيزه ............ ۷٦
دويم مطلب: پر روژه او عيدالفطر باندې د سپوږمۍ د مطالعو د اختلاف اغيزه ............ ۷۷
دريم مطلب: په لوی اختر کې د مطالعو اختلاف ............ ۷۸
د څېړنې پايلې: ............ **۸۱**
د څېړنې وړانديزونه: ............ **۸۳**
د قرآني آيتونو نوملړ ............ **۸۴**
د نبوي احاديثو نوملړ ............ **۸۵**
د اعلامو نوملړ ............ **۸۵**
مأخذونه: ............ **۸۷**
خلاصة البحث: ............ **۹۷**
Abstract ............ **۹۸**

## سریزه:

الحمد لله الذي جعل الشمس ضياءً، والقمر نوراً، وقدره منازل لتعلموا عدد السنين والحساب، والصلاة والسلام علي سيد الأنبياء والمرسلين و علي آله أجمعين.

أمابعدُ: په شریعت کې د عباداتو لپاره ځیني ځانګړي داسې وختونه ټاکل شوي دي چې د سپوږمۍ له لیدلو سره تړاو لري لکه د رمضان د میاشتي پیل او ختم، د اخترونو ټاکنه، او د حج د مناسکو وختونه، له همدې امله د سپوږمۍ لیدل، او د هغې شرعي اعتبار یو مهم او ضروري بحث ګرځېدلی دی، په همدې تړاو یوه مشهوره او علمي مسأله د (اختلاف المطالع ) ده، او د اسلامي فقهي له مهمو او ژورو بحثونو څخه ګڼل کیږې،

بناء یاده مسأله په اسلامي فقه کې یوه له هغو مسایلو څخه ده چې له پېړیو راهسي د علماوو تر منځ پکې د اعتبار او عدم اعتبار په اړه اختلاف شتون لري، نو اړتیا شته چې د اختلاف المطالع په اړه چې کوم نصوص او د فقهاوو اقوال دي له معتمدو کتابونو څخه راجمع شي، او په دې اړه یوه ښه او تر یو حده کامله څېړنه تر سره شي، ترڅو یاده موضوع د خلکو لپاره واضحه او څرګنده شي، په همدې اساس په دې بحث کې د اختلاف المطالع په اړه لومړني مفاهیم، د علماوو نظرونه، دلائل، د دلایلو تر منځ مناقشه، د غوره او راجح قول لیکنه، او د اختلاف لاملونه تر څېړنې لاندې نیول کیږې، همداراز هڅه به وشي چې د اختلاف المطالع په اړه یوې ښې پایلې ته ورسیږو، ترڅو د افغانستان خلکو لپاره یو متوازن او اسانه دریځ وړاندي شي.

## د موضوع ارزښت:

د اختلاف المطالع موضوع په فقهي بحثونو کې یو مهم او ارزښتناک بحث دی، ځکه دا مسأله د عباداتو د وختونو په ځانګړي ډول د روژې د پیل او پای، د اخترونو او ځینو نورو د وخت محوره احکامو سره مستقیما تړاو لري، او د یادو احکامو پوره پوره وضاحت پکې کیږي، بناء اهمیت یې په لاندې توګه بیانیږي:

۱ـ د اختلاف المطالع مسأله که څه هم علمي او فقهي اړخ لري، خو په علم کې د توسع او پراخې لامل هم کیږي، هغه داسې چې که دا اختلاف په اصولو او قواعدو مبني وي، نو مشروع، او په علم کې د د توسع او پراخي لامل کیږي، او که یاد اختلاف د اصولو او قواعدو مخالف پر مخ یوړل شي، او یا له اختلاف سره ښه تعامل ونه شي، نو بیا د غیر مشروع اختلافاتو لامل کیږي.

۲ـ دا موضوع د فلکي محاسبې او شرعي رؤیت بصري تر منځ یو پل جوړوي، یعني لکه څرنګه چې په اسلام کې په روژه او اخترونو کې په فلکي حساباتو باندې عمل کول منع ده، همداشان د دې موضوع د څېړلو په پایله کې د اختلاف المطالع اهمیت او ارزښت نور هم لا زیاتیږي، ترڅو په یادوو احکامو کې په فلکي حساب باندې عمل کولو ته اړتیا پیدا نه شي، او مسلمانان د روژې او اخترونو په هکله په فلکي حساباتو باندې د عمل کولو له حکم څخه با خبره وي.

۳ـ د مطالعو د اختلاف موضوع د فقهې، علمې، او تحقیقې مطالعاتو وده هم را منځ ته کوي، چې په نتیجه کې په اسلامي فقه کې د څېړنو او تحقیقاتو د لا زیادت لامل کیږي، او د مطالعو اختلاف د څېړلو په پای کې علماوو ته دا موقع برابروي، چې د مختلفو مذاهبو او د هغوی د استدلالاتو په اړه معلومات تر لاسه کړي، له دې کبله اختلاف المطالع یوه مهمه موضوع ده، چې د نظرونو د پراخوالي او د امت په همغږۍ کې مرسته کوي.

## د موضوع د اختیار لاملونه:

زمونږ د بحث موضوع (د مطالعو اختلاف او پر فقهي احکامو یې اغیزي د فقهي په رڼا کې) دی، د هرې موضوع په اړه چې څېړنه تر سره کیږي، نو د موضوع د اختیار او یا غوروالي لاملونه باید په نظر کې ونیول شي، ترڅو د څېړونکې اهداف مشخص شي، بناء د دې موضوع د اختیار څخه مو موخه د یوې فقهې مسألې په اړه شننه کول ده، تر څو دا مهمه موضوع له څېړنیز پلوه روښانه او ښکاره شي، او په ټولو اړونده موضوعاتو یې پوهاوی تر لاسه شي، بناء لکه څرنګه چې مونږ د دې عنوان لاندې د څېړني کار پیل کړی دی، نو له دې موضوع څخه د اختیار لاملونه په لاندې ډول دي:

**الف:** د مطالعو د اختلاف اړوندو مسایلو راټولول، او یوځای یې تحلیل کول، ترڅو له مختلفو منابعو څخه معلومات منسجم شي. د یوې موضوع په اړه څېړنه او د معلوماتو را ټولونه د اړونده قضیې ارزښت او اهمیت لوړوي، او د څېړونکو لپاره یوه ښه سرچینه ګرځي، او د لوستونکو لپاره د یوې قضیې په اړه پوره معلومات تر لاسه کیږي.

**ب:** د فقهې اختلاف د مفاهیمو څرګندوالی او ور باندې ژور علمي بحث تر سره کول، او د دې موضوع د غوروالي او اختیار بل لامل د اختلاف المطالع په اړه د فقهي مفاهیمو څرګندوالی، او ور باندې څېړنه کول دی، تر څو د دې موضوع په اړه هر اړخیز څرګندوالی وشي.

**ج:** د موضوع سره شخصي علاقه، او د علمي ارتقاء اړتیا، د یوې موضوع په اړه څېړنه کول د څېړونکې علمي ارتقاء را منځ ته کوي، او په پایله کې څېړونکی د څېړلو له اصولو سره آشنایي پیدا کوي، چې دا خبرداری د یو مهم هدف لاسته راوړنه ده.

## د څېړنې ستونزې:

د مطالعو د اختلاف موضوع په فقه کې د قمري میاشتو د پېلېدلو او پای ته رسېدلو لپاره یو مهم بحث دی، او دا موضوع د روژې، اخترونو او نورو اسلامي مناسبتونو د دقیقو نېټو د ټاکلو لپاره حیاتي اهمیت لري. او د اختلاف المطالع موضوع له پېړیو راهیسې د علماوو تر منځ اختلافي قضیه ده، هر څېړونکی د خپل مذهب او دلایلو پر اساس د څېړنې یوې پایلې او نتېجې ته رسیږي، له همدې کبله څېړنې کولای شي د ټولنې ځینې ستونزې ورحل کړي، او په ټولنه کې چې په دې اړه کوم ابهام شتون لري، د هغه لپاره ښه د حل لاره کېدلای شي، له همدې امله یاده څېړنه کولای شي چې د ټولنې یو شمېر ستونزې ورحل کړي، او د درد لپاره یې ښه معالجه جوړه شي.

**الف:** زمونږ په ټولنه کې د اختلاف المطالع په اړه په روښانه توګه وضاحت نشته، بناء دا څېړنه کولای شي د اختلاف المطالع په اړه د اعتبار او عدم اعتبار قضیه ښه روښانه کړي، او را پورته شوي اختلاف اصل او سرچینه یې بیان کړي، ترڅو د څېړونکو لپاره مصدر، او د لوستونکو لپاره یوه روښانه تګلاره وي.

**ب:** دا څېړنه په ټولنه کې د روژې او اختر د نېټې د نه یوالي ستونزه حل کولای شي، په یو شمېر هیوادونو کې او حتی د هیواد دننه خلک د روژې او اختر د پیل او پای په اړه سره نه جوړیږي، او هر کال په دې اړه نوي اختلافات را پورته کیږې، خو کومې پایلې ته نه رسیږي، ځکه هره ډله د خپلو دلایلو پر اساس یوه تګلاره غوره کوي، بناء دا څېړنه کولای شي د دې اختلاف لپاره یوه معیاري حل لاره وړاندې کړي، که څه هم لیکنې په بشپړه توګه د ټولنې ستونزې نشي حل کولای، خو بیا هم حق لاره د دلایلو پر اساس روښانه کولای شي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې به د لاندې سؤالونو ځوابونه إن شاءالله تر لاسه شي.

**الف:** اصلي پوښتنه

د مطالعو د اختلاف حقيقت، او اغيزې يې څه دي؟

**ب:** فرعي پوښتنې

۱ـ د کومو دلايلو پر بنسټ د مطالعو اختلاف اعتبار لري، او د کومو دلايلو پر اساس يې نه لري؟

۲ـ د مطالعو د اختلاف او د فلکي حساب د پېژندنې موخې څه دي؟

۳ـ د مطالعو د اختلاف تأثيرات پر کومو احکامو باندې ډېر ښکاره دي؟

## د څېړنې شاليد:

د مطالعو د اختلاف په اړه ډېرې رسالې ليکل شوې دي، او څېړونکو د دې موضوع د وضاحت لپاره خپلې هڅې کړې دي، بناء د هغو رسالو څخه يو شمېر په لاندې توګه دي:

د شيخ عبدالرحمن العروسي رساله چې نوم يې( اختلاف المطالع وأثره في أحكام الشريعة ) دی، د دکتور محمد محمود أحمد طلافحة رساله چې نوم يې ( أثر اختلاف المطالع في بدء الصوم والإفطار ) دی، او د شيخ أحمد محمد شاکر مصري رساله چې نوم يې( أوائل الشهور العربية ) دی، او داسې نور... په دغو رسالو کې د اختلاف المطالع او فلکي حساب په اړه معلومات را ټول شوي دي، البته هغه مسايل چې په نن وخت کې ورته اړتيا ليدل کيږې، او د دې بحث اړوند دي، نه دي پکې څېړل شوي، لکه د فلکي حساب د وړاندوينو او د رؤيت بصري تر منځ تعارض، د تلسکوب په وسيله د سپوږمۍ ليدل، د مياشتې د اثبات طريقې، د الکترونيکي وسايلو په وسيله د شاهدې ورکولو حکم، د اعلان په وسيله له نورو هيوادونو سره د روژې او

اختر کولو حکم، په لوی اختر کې د مطالعو اختلاف، او داسې نور... بناء د یادو شو مسایلو څېړلو ته اړتیا شته، ترڅو د مطالعو د اختلاف او د فلکي حساب تر څنګه معاصر قضایا هم ورسره په پښتو ژبه کې وڅېړل شي، اوس هم خلک د دې اړتیا احساسوي، چې په دې اړه نورې څېړني هم وشي، ځکه د اختلاف المطالع مسأله ډېره اړینه او مهمه ده، دې ته پاملرنه نه کول ټولنه د مبهمیت له ستونزو سره مخ کوي، نو دا قضیه ډېره بنسټیزه ده، په دې اړه باید نورې لیکني هم وشي.

تر دې څېړني د مخه لیکل شوي رسالې او کتابونه زما له دې څېړني سره توپیر شاید په محتوا کې ډېر نه وي، خو د څېړني په تګلاره کې یاده څېړنه له پخوانیو څېړنو سره بنسټیز توپیر لري، همدا شان په دې څېړنه کې هغه ځانګړي اړتیاوې تر شنني لاندې نیول شوي دي چې په اوسني حالتو کې زمونږ ملت ورسره مخ دی، ځکه د دې څېړني واقعي موخه د ستونزو معالجه ده چې زمونږ ټولنه یې پوره ښکارندویني ته اړتیا لري.

## د څېړنې کړنلاره:

د څېړنې تګلاري د څېړنې د هدف پر بنسټ له بلې څېړنې سره فرق کوي، د اسلام اړونده څېړنو کې ځیني څېړونکي او لیکوالان د شریعت له مصادرو څخه خپل فهم او درک خلکو ته وړاندې کوي، چې داسې څېړني یو شمېر خلکو ته د منلو وړ وي، البته که لوستوونکي د شریعت له احکامو څخه د څېړونکي په فهم باور نه کوي، نو په دې صورت کې لیکوونکي مجبوریږي چې په دې اړه د شرعي نصوصو او د شریعت د مصادرو څخه د فقهاوو او پخوانیو علماوو فهم او درک په خپل بحث کې داخل کړي، او د لوستونکو لپاره د منلو وړ وي، په دې څېړنه کې له همدې دویمي کړنلارې څخه کار اخیستل شوی دی، دا ډول څېړني مخاطب یوې پایلې ته روسوي، او دا مېتود د هدف د لاسته راوړني لپاره ډېر ګټور دی.

له همدې کبله په دې څېړنه کې د حنفي فقهي له معتمدو کتابونو څخه په استفادې او د مذاهبو د معتبرو فقهاوو د څرګندوالي او عبارتونو په رڼا کې د بحث اړونده قضایا څېړل شوي دي، په داسې عبارتونو بسنه شوي چې هغه په مسأله کې ترجیحِ صریحي او التزامي وي، نو په یاده څېړنه کې د انساني توان سره سم هڅه

شوي، چې د مطالعو د اختلاف په اړه د شریعت درست فهم وړاندې شي، خو له دې امله چې انساني هڅې همېشه نیمګړتیاوي لري، نو دا څېړنه هم د دې قاعدې څخه مستثنی نه ده، نو په دې څېړنه کې چې څه حق وي هغه د الله تعالی په توفیق لیکل شوي، او کوم چې پکې نا درست افکار وي له هغه څخه د الله تعالی دین پاک او مبرا دی، او هغه به د انساني سهوې پایله وي.

## د څېړنې موخې:

د څېړنې له څېړلو څخه هر سپړونکی او لیکونکی مختلف اهداف لري، چې د دې اهدافو پر بنسټ څېړونکی یوې تګلارې ته رسیږي، له دې کبله په دې څېړنه کې هم یو شمېر اهداف شته چې د څېړونکي مسیر ټاکي.

او دا اهداف په لاندې توګه دي:

**الف:** د الله تعالی د رضا حاصلول، او د ځان لپاره یوه علمي صدقه جاریه پرېښودل. هر نیک کار چې یو مسلمان کوي د الله تعالی رضایت، خوښي او د نېت اخلاص باید په نظر کې ونیسي، که دا کار ونشي، نو اعمال یې د الله تعالی په وړاندې د منلو وړ نه دي.

**ب:** د مطالعو د اختلاف پیژندنه او شننه، که څه هم د مطالعو اختلاف ښه روښانه او څرګند دی، خو سربیره پر دې په پښتو ژبه کې د دې موضوع ښه روښانه وضاحت ډېر کم په سترګو لیدل کیږي، بناء اړتیا شته چې په پښتو ژبه کې هم په دې اړه لیکني وي.

**ج:** د فقهي اختلاف د مفاهیمو وضاحت، او د فقهاوو د نظرونو را ټولونه، د یوې موضوع په اړه د فقهاوو د اقوالو راټول د لوستونکو لپاره یو ډېر لوی سهولت او اساني دی، او د زده کوونکو او محققینو لپاره یو باوري او مستند مأخذ برابریږي، او په پښتو ژبه کې د زده کوونکو او څېړونکو لپاره یو باوري او مستند مصدر جوړېدلای شي.

**د:** د معاصري دورې اړتیاوو ته په پام سره د موضوع څېړنه، د معاصر وخت اړتیاوي په نظر کې نیول او په اړه یې څېړنې کول د نن وخت له اړتیاوو څخه ګڼل کیږي، او د تېرو څېړنو لپاره تکمله او بشپړنه ده، په تېرو او مخکینیو څېړنو کې د اختلاف المطالع د موضوع مضامین په بشپړه توګه په نظر کې نه دي نیول شوي، بناء اړتیا شته چې ټول اړونده مسایل یو ځای را ټول شي.

## د څېړنې پلان:

یاده څېړنه په یوې سریزې او دریو فصلونو کې ترتیب شوي ده چې پوره وضاحت یې په لاندې ډول دی:

**د څېړنې سریزه**: د څېړني ارزښت، د اختیار لاملونه، د څېړنې ستونزي، اصلي او فرعي پوښتني، شالید، کړنلاره، او موخي ته ځانګړي شوي ده.

**لومړی فصل:** په دې فصل کې د دوو مبحثونو او پنځو مطلبونو په ترتیب سره لومړني مفاهیم روښانه شوي دي، لکه د مطالعو د اختلاف پېژندنه، د اختلاف پېژندنه، د فقهې او حکم معرفت او داسې نور.

**دویم فصل:** په دې فصل کې د دوو مبحثونو او نهو مطلبونو په ترتیب سره د فلکي حساب پېژندنه شوي دی، لکه د فلکي حساب پېژندنه، اهمیت، د فقهاوو دریځ، او د ستورو د څارني آلاتو په وسیله د سپوږمۍ لیدل.

**دریم فصل:** په دې فصل کې د دوو مبحثونو او د شپاړلسو مطلبونو په ترتیب سره د مطالعو د اختلاف احکام بیان شوي دي، لکه د اختلاف المطالع په اړه د فقهاوو دریځ چې ایا اعتبار لري او که یې نه لري؟ د اختلاف لامل، د دلایلو تر منځ مناقشه، د راجح قول بیان، او د مطالعو د اختلاف اغیزي بیان شوي دي. او د څېړني په پای کې د څېړني پایله، د څېړني وړاندیزونه، او د څېړني منابع او مأخذونه راوړل شوي دي.

# لومړی فصل

## لومړني مفاهیم او مطالعو د اختلاف پېژندنه

**په دې فصل کې د دوو مبحثونو او پنځو مطلبونو په ترتیب سره لومړني مفاهیم روښانه شوي دي.**

## لومړی مبحث : د مطالعو د اختلاف مفهوم او تعریف

### لومړی مطلب: د مطالعو د اختلاف، او اتحاد مفهوم

په دې مطلب کې به اختلاف المطالع، اتحاد المطالع، او د اعتبار او عدم اعتبار مفهوم به بیان شي، د سپوږمۍ طلوع په ځینو ځایونو کې له ځیني نورو ځایونو څخه مخکې او یا شاته وي، په دې لحاظ د سپوږمۍ لیدل فرق کوي، په ځینو ځایونو کې مخکې ولیدل شي، او په ځیني نورو ځایونو کې وروسته ولیدل شي، نو په نتیجه کې د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف را منځ ته شي، یعني د سپوږمۍ د راختلو ځایونه مختلف شي، او یا د دو هیوادونو تر منځ دومره فاصله وي چې د سپوږمۍ د راختلو ځایونه یو له بل سره مختلف وي، په داسې حال کې چې په یو هیواد کې میاشت ولیدل شي، او په بل هیواد کې میاشت د فاصلې د بُعد په خاطر ونه لیدل شي، بناء د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف را منځ ته کیږي، یعني د سپوږمۍ د راختلو ځایونه مختلف شي.[1]

او په مقابل کې اتحاد المطالع دی، یعني د دو هیوادونو تر منځ دومره فاصله شتون ولري چې د مطالعو اختلاف پکې تغیر نه خوري، بناء د سپوږمۍ د راختلو ځایونه متحد وي، او یا د سپوږمۍ د مطالعو اتحاد وي[2]

او که چیري په یوه هیواد کې میاشت ولیدل شي، او په بل هیواد کې ونه لیدل شي، نو په داسې حالت کې که د هغه هیواد اوسېدونکي چې میاشت نه دی پکې لیدل شوي، د هغه هیواد له خلکو سره چې میاشت پکې لیدل شوي، روژه او یا اختر یوځای وکړي، نو دوی د مطالعو اختلاف ته اعتبار نه دی ورکړی، او که روژه او یا اختر له هغوی سره یوځای ونه کړي، بلکې د خپل رؤیت او لیدني پر اساس روژه او یا اختر کوي، نو دوی

[1] اختلاف المطالع و أثره في أحكام الشريعة، بتصرف تأليف: محمد تاج شيخ عبدالرحمن العروسي ص ۸۴ .
[2] مخکینی مصدر: ص ۸۵ .

د مطالعو اختلاف ته اعتبار ورکړی دی، او دا اختلاف څکه رامنځ ته شوی دی، چې په دې اړه له نصوصو څخه د درک او فهم په پایله کې فقهي اختلاف شتون لري، نو د دې موضوع د ښه وضاحت لپاره اول لومړني مفاهیم، او بیا اصل موضوع تر څېړني لاندې نیول کیږي.

## دوهم مطلب: د مطالعو د اختلاف تعریف

مطالع د مطلع مفرد دی، چې ماضي يې طَلَعَ او مضارع يې يَطْلُعُ راځي او مصدر يې طُلُوعاً راځي، د راختلو او را پورته کيدلو په معنی راځي، لکه څرنګه چې عرب وايي: (طَلَعتِ الشمسُ مطلِعًا) ژباړه: لمر په را ختلو سره ښکاره او را څرګند شو.[1]

نو مطلَع د لام په فتحې سره د ختلو د وخت (زمان الطلوع) معنی لري، په قرآنکريم کې هم د مطلَع کلمه د لام په فتحې سره په همدې معنی راغلي ده. {**سَلامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ**}[2] ژباړه: هغه شپه له سره تر پایه، تر سهار ختلو پوري سلامتيا ده. په بيضاوي تفسير کې د مطلَع د معنی په اړه د لام په فتحې سره وايي: (أي وقت مطلعه)[3] ژباړه: د مطلَع معنی د لام په فتحې سره د سهار د راختلو وخت ته وايي.

او مطلع د لام په کسرې سره د ختلو ځای (مکان الطلوع) ته وايي، لکه څرنګه چي په قرآنکريم کې د ذوالقرنين په واقعه کې د دې کلمې همداسې معنی راغلي دی.[4] {**حَتَّى إِذا بَلَغَ مَطْلَعَ الشَّمْسِ...**}[5] ژباړه: تر دې پوري چې د لمر خاته حد ته ورسېدی. په بيضاوي تفسير کې د مطلع د معنی په اړه د لام په کسرې سره وايي: (أي مكان مطلع الشمس)[6] ژباړه: د مطلع معنی د لام په کسرې سره د لمر د را ختلو ځای ته وايي.

---

[1] لسان العرب تأليف: محمد بن مكرم بن علي، أبوالفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري، الشهير بابن منظور (ت ٧١١ هـ) چاپونکي اداره: دار صادر، بيروت، دريم چاپ، د چاپ کال: ١٤١٤هـ - ٨/ ٢٣٥ ماده: (طلع).
[2] سورة القدر آيت ٥.
[3] أنوار التنزيل و أسرار التأويل تأليف: ناصرالدين أبو سعيد عبدالله بن عمر بن محمد الشيرازي البيضاوي (ت ٦٨٥هـ) تحقيق: محمد عبدالرحمن المرعشلي، چاپونکي اداره: دار إحياء التراث العربي - بيروت، لومړی چاپ، د چاپ کال: ١٤١٨ هـ - ٥/ ٣٢٧.
[4] المعجم الوسيط تأليف: مجمع اللغة العربية بالقاهرة (ابراهيم مصطفى، أحمد الزيات، حامد عبدالقادر، محمد النجار) چاپونکي اداره: دار الدعوة - ٢/ ٥٦٣ ماده: (المطلع).
[5] سورة الكهف آيت ٩٠.
[6] تفسير البيضاوي تأليف: البيضاوي ٣/ ٢٩٢.

زمونږ په څېړنه کې له مطالع څخه موخه دا دویمه معنی دی، او اصطلاحي تعریف له لغوي تعریف څخه خارج نه دی، نو دا پایله شوه چې مطالع د مطلع مفرد دی د لام په کسرې سره د ختلو ځای ته وایي، او کله چې په یاده څېړنه کې د (مطالعو اختلاف) ذکر شي نو موخه ځیني د سپوږمۍ د راختلو مختلف ځایونه وي.

## دریم مطلب: د اختلاف تعریف

اِختَلَفَ یَختَلِفُ مصدر یې اختلافاً د افتعال په وزن راځي، په لغت د اتفاق نه کولو په معنی راځي. په معجم الوسیط کې وایي: «**اخْتلف الشیئانِ لم یتَّفقَا وَلم یتساویا**» ژباړه: دوو شیانو په خپل منځ کې اختلاف وکړل اتفاق او برابري یې ونه کړه.[1] نو دا ثابت شول چې اختلاف د اتفاق ضد دی د نه اتفاق او نه برابري په معنی راځي. او د اختلاف اصطلاحي تعریف د لغت علماوو په مختلفو بڼو کړی دی، چې د هغوی له ډلي څخه یو شمېر په لاندې توګه دي:

**لومړی تعریف:** «**منازعةٌ تجري بین المتعارضینِ لتحقیقِ حقٍّ أو لإبطال باطل.**»[2] ژباړه: اختلاف هغه منازعه ده چې د دوو متعارضو کسانو تر منځ د حق د لاسته راوړني او د باطل د ردولو لپاره تر سره کیږي.

**دویم تعریف:** «**إِذَا ذَهَبَ كُلُّ وَاحِدٍ إلَى خِلَافِ مَا ذَهَبَ إلَيْهِ الْآخَرُ وَهُوَ ضِدُّ الِاتِّفَاقِ**»[3] ژباړه: کله چې هر یو هغه لاره او یا طریقه اختیار کړي، چې د بل مخالف وي له اختلاف څخه عبارت دی، او اختلاف د اتفاق ضد دی.

**دریم تعریف:** «**أن یأخذ کل واحد طریقا غیر طریق الآخر في حاله أو قوله**»[4] ژباړه: دا چې هر یو د بل خلاف په خپل حالت او خبره کې بېله لاره اختیار کړي.

---

[1] المعجم الوسیط تألیف: مجمع اللغة العربیة بالقاهرة (ابراهیم مصطفی، أحمد الزیات، حامد عبدالقادر، محمد النجار) ۱/ ۲۵۱ ماده: (اختلف).

[2] کتاب التعریفات تألیف: علی محمد بن علی الزین المعروف بالشریف الجرجاني، چاپونکي اداره: دار الکتب العلمیة، بیروت، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۰۳ هـ - ص ۱۰۱.

[3] المصباح المنیر في غریب الشرح الکبیر تألیف: أبو العباس أحمد بن محمد بن علی الفیومي ثم الحموي (ت ۷۷۰ هـ) چاپونکي اداره: المکتبة العلمیة - ۱/ ۱۷۸.

[4] المفردات في غریب القرآن تألیف: أبو القاسم الحسین بن محمد المعروف بالراغب الأصبهاني (ت ۵۰۲ هـ) تحقیق: صفوان عدنان الداودي، چاپونکي اداره: دار القلم، بیروت، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۱۲ هـ - ص ۲۹۴.

دلته د اختلاف درې تعريفات راوړل شوي دي، د دغو تعريفاتو له ډلي څخه دا دريم تعريف ډېر روښانه او مشهور تعريف دی.

## دوهم مبحث: د فقهې او حکم تعريف

### لومړی مطلب: د فقهې تعريف

**فقه:** په لغت کې مطلق فهم، د يو شي درک کول، په يو شي علم لرل، او هر علم په يو شي باندې عبارت له فقهې څخه دی.[1] او دا کلمه په قرآنکريم کې هم څو ځايه راغلې ده، چې د هغو له ډلي څخه يو شمېر په لاندې توگه دي: {**وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡ...**}[2] ژباړه: هيڅ داسي شی نه شته چې د هغه له ستايني سره د هغه پاکي نه بيانوي؛ خو تاسي د هغو په تسبيح او پاکي بيانولو نه پوهيږئ، او يا يې درک نه شي کولای. په دې آيت کې د (**لا تفقهون**) کلمه راغلې ده چې دا کلمه په اصل کې د فهم او درک معنی لري. او په بل ځای کې راځي { **قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ مَا نَفۡقَهُ كَثِيرٗا مِّمَّا تَقُولُ...**} [3] ژباړه: هغوی وويل: اې شعيبه! ستا په زياتره خبرو خو مونږ له سره نه پوهيږو. په دې آيت کې هم د (**نفقه**) کلمه راغلې ده چې دا کلمه په اصل کې د پوهې او فهم په معنی راځي. لنډه دا چې فقه په لغت کې مطلق فهم ته وايي، او فقه د اصولو علماوو په اصطلاح کې «**العلم بالأحكام الشرعية العملية المكتسب من أدلتها التفصيلية**»[4] ژباړه: د شرعي او عملي احکامو پوهاوی چې دغه احکام به د تفصيلي دلايلو له لاري تر لاسه شوي وي.

**د تعريف د کلماتو او قيودو تشريح:**

**۱ـ العلم:** علم د يوشي درک کول او پېژندني ته وايي.

[1] مقاييس اللغة تأليف: أحمد بن فارس بن زكريا القزويني الرازي (ت ٣٩٥ هـ) تحقيق: عبدالسلام محمد هارون، چاپونکي اداره: دار الفكر، د چاپ کال: ١٣٩٩ هـ ـ ۴ / ۴۴۲ مادة: (فقه).

[2] سورة الإسراء آيت ۴۴.

[3] سورة هود آيت ۹۱.

[4] أصول الفقه الإسلامي تأليف: أ. د. وهبة بن مصطفى الزحيلي (ت١٤٣٦ هـ) چاپونکي ادار: مكتبة رشيدية ١/ ١٩.

**۲ـ الأحكام:** د حکم جمعه ده، او حکم د الله تعالی هغه خطاب دی چې د مکلفو کسانو تر افعالو پوري تعلق نیسي، چې دا خطاب به د غوښتني، اختیار، او یا د وضع په بڼه وي.

**۳ـ الشرعية:** هغه احکامو ته ویل کیږي چې تر شریعت پوري متوقف او تړلي وي.

**۴ـ العملية:** د عمل کولو تقاضا کوي هغه که د زړه لکه نیت، د ژبي لکه قراءة، او جوارحو لکه جهاد وي.

**۵ـ التفصيلية:** هغه دلائل چې تر یوې ځانګړي قضیې پوري تعلق نیسي، لکه د لمانځه وجوب.

**٦ـ من أدلتها:** دا جار او مجرور د علم تر صفت پوري تعلق نیسي، نو معنی یې داسي کیږي هغه علم چې له دلایلو څخه منځ ته راغلی وي.[1] نو د فقهې لنډه پېژندنه داسې کیږي چې د شرعي أحکامو له معرفت او پېژندني څخه عبارت دی.

## دويم مطلب: د حکم تعريف

حکم د احکام مفرد دی په لغت کې د منع معنی لري.[2] او د اصولینو په اصطلاح کې « **هو خطاب الله المتعلق بأفعال المكلفين بالاقتضاء، أو التخيير، أو الوضع.** »[3] ژباړه: د الله تعالی هغه خطاب دی چې د مکلفو کسانو تر افعالو پوري تعلق نیسي، چې دا خطاب به د غوښتني، اختیار، او یا د وضع په بڼه وي.

## د تعريف د کلماتو او قیودو تشریح:

**۱ـ خطاب:** د مخاطب د فهم لپاره د هغه لوري ته د کلام متوجه کول.

**۲ ـ اقتضاء:** د اقتضاء معنی طلب او غوښتنه دی، او د حصر وجه یې داده: دا طلب به د یو کار په کولو او یا نه کولو لازمي او غیري لازمي وي، که دا غوښتنه د یو کار په کولو په لازمي توګه وه، نو فرض او یا واجب

---

[1] الوجيز في أصول الفقه الإسلامي تأليف: الأستاذ الدكتور وهبة بن مصطفى الزحيلي، چاپونکي اداره: دارالخير، دمشق، دويم چاپ، د چاپ کال: ۱۴۲۷ هـ ـ ۱/ ۱۹ ـ ۲۰.

[2] مقاييس اللغة تأليف: أحمد بن فارس القزويني الرازي ۲/۹۱ ماده: (حَكَمَ).

[3] الإحكام في أصول الأحكام تأليف: أبوالحسن سيد الدين علي بن أبي علي بن محمد بن سالم الآمدي (ت ٦۳۱ هـ) تحقيق: عبدالرزاق عفيفي، چاپونکي اداره: المكتبة الإسلامي، بيروت ـ ۱/ ۴۹ او أصول الفقه الإسلامي، تأليف: الزحيلي ۱/ ۳۸ .

افاده کوي،که په لازمي توګه نه وي، نو بیا استحباب او ندب افاده کوي، او که دا غوښتنه د یو شي په پرېښودلو په لازمي توګه وي، نو حرمت افاده کوي، او که په لازمي توګه نه وي، نو بیا کراهت افاده کوي.[1]

**۳ـ تخییر:** مخاطب ته د یو کار په کولو او نه کولو کې اختیار ورکول.

**۴ـ وضع:** یو شی د بل شي لپاره سبب، شرط، او مانع ګرځول. د مثال په ډول، د میاشتي لیدل د روژې د فرضیت لپاره سبب دی. الله تعالی فرمایلي: {**فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ...**}[2] ژباړه: له دې کبله پر چا چې دا میاشت راشي، نو د هغې میاشتي روژه دي ونیسي. او د وخت داخلېدل د لمانځه د فرضیت لپاره سبب دی. الله تعالی فرمایلي: {**أَقِمِ الصَّلاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إلى غسق الليل...**}[3] ژباړه: لمونځ، د لمر له زوال څخه د شپې تر تیارې پورې قائم کړه. مالي او بدني قدرت د حج د فرضیت لپاره شرط دی. الله تعالی فرمایلي: {**وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلبَيتِ مَنِ ٱستَطَاعَ إِلَيهِ سَبِيلًا...**}[4] ژباړه: پر خلکو د الله دا حق (فرض) دی چې که څوک هغه کور ته د رسېدو وس ولري، د هغه حج دي وکړي. او د مورث قتلول د وارث لپاره مانع د میراث دی[5] یعني که زوی خپل پلار قتل کړي، زوی د میراث له برخي څخه محروم کیږي. ځکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: « **ليس لقاتل ميراث.**»[6] ژباړه: د قاتل لپاره میراث نه شته، یعني د خپل پلار قاتل، له پلار څخه د پاته شوي میراث مستحق نه دی.

نو په پای کې د حکم لنډ او خلاصه تعریف داسې کیږي چې حکم د الله تعالی هغه کلام دی چې د مکلفو بندګانو تر تصرفاتو او کړنو پورې تعلق او اړیکه نیسي.

---

[1] الوجيز في أصول الفقه الإسلامي تأليف: الأستاذ الدكتور وهبة بن مصطفى الزحيلي ١/ ٢٩١.

[2] سورة البقرة آیت ١٨٥

[3] سورة الإسراء آیت ٧٨

[4] سورة آل عمران آیت ٩٧

[5] أصول الفقه الإسلامي تأليف: الزحيلي ١/ ٣٨ـ٤٣.

[6] مصنف ابن أبي شيبة تأليف: أبوبكر بن أبي شيبة عبدالله بن محمد بن ابراهيم بن عثمان بن خواستي العبسي (ت ٢٣٥ هـ) تحقيق: كمال يوسف الحوت، چاپونکي اداره: مكتبة الرشد، رياض، لومړی چاپ، د چاپ کال: ١٤٠٩ هـ ـ٦/ ٢٧٩، د حدیث ګڼه: ٣١٣٩٤، او السنن الكبرى تأليف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخراساني البيهقي (ت ٤٥٨ هـ) تحقيق: محمد عبدالقادر عطا، چاپونکي اداره: دارالكتب العلمية، بيروت، دریم چاپ، د چاپ کال: ١٤٢٤ هـ ـ ٦/ ٣٦١، د حدیث ګڼه: ١٢٢٢٤، و قال الألباني: صحيح ـ صحيح الجامع، للألباني (ت ١٤٢٠ هـ) الناشر: المكتب الإسلامي، ٢/ ٩٥٤، رقم الحديث: ٥٤٢٠.

# دويم فصل

## فلکي حساب او پيژندنه يې

**په دې فصل کې د دوو مبحثونو او نهو مطلبونو په ترتيب سره د فلکي حساب پېژندنه شوي دی.**

### لومړی مبحث: د فلک تعريف او اهميت يې

### لومړی مطلب: د فلک تعريف

**د فلک لغوي تعريف:** فلک د لام په فتحې سره د شګو هغې غونډۍ ته وايي چې مستدير او يا دائروي شکل ولري، او شاوخوا يې فضاء وي.[1] نو فلک هغه شي ته وايی چې ګرد يا دايروي شکل ولري.

**د فلک اصطلاحي تعريف:** د فلک اصطلاحي تعريفونه په مختلفو بڼو شوي دي، چې هر يو يې په لاندې توګه دي:

**لومړی تعريف:** فلک د أفلاک مفرد دی، د لام په فتحې سره د ستورو مدار(مسير) ته وايي، او يا د اسمان دوران ته وايي.[2]

**دويم تعريف:** فلک د لمر، سپوږمۍ، او ستورو مدار ته وايي.[3]

**دريم تعريف:** فلک هغه مدار او يا مسير ته وايي چې پکې اسماني أجرام (جسمونه) ګرځي او لامبو وهي.[4]

د وړاندې تعريفاتو لنډيز دا شول چې فلک د اسمان هغه حلقوي يا کروي جوړښت ته ويل کيږي، چې پکې اسماني أجرام (لمر، سپوږمۍ، ستوري، سيارې او نور...) ګرځي او لامبو وهي،

[1] المعجم الوسيط تأليف: مجمع اللغة العربية بالقاهرة ( ابراهيم مصطفى، أحمد الزيات، حامد عبدالقادر، محمد النجار ) ۲/ ۷۰۱

[2] لسان العرب، تأليف: ابن منظور ۱۰/ ۴۷۸ .

[3] التفسيرالمنير في العقيدة والشريعة والمنهج تأليف: دوکتور وهبة بن مصطفى الزحيلي، چاپونکي اداره: دارالفکر، دمشق، دويم چاپ، د چاپ کال: ۱۴۱۸ هـ ـ۱۷/ ۴۳، او معجم اللغة العربية المعاصرة، تأليف: د. أحمد مختار عبدالحميد عمر (ت ۱۴۲۴ هـ) چاپونکي اداره: عالم الکتب، لومړی چاپ، دچاپ کال:۱۴۲۹ هـ ـ ۳ /۱۷۴۲.

[4] المعجم الوسيط تأليف: مجمع اللغة العربية بالقاهرة ( ابراهيم مصطفى، أحمد الزيات، حامد عبدالقادر، محمد النجار ) ۲/ ۷۰۱

او د  فلک کلمه هم ځو ځایه په قرآن کریم کې راغلي ده چې د مدار(مسیر) معنی لري، د هغو له ډلي څخه یو شمېر په لاندې توګه دي:

**لومړی آیت:** الله تعالی فرمایلي: **{وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ }**[1] ژباړه: او هماغه الله دی چې شپه او روځ، لمر او سپوږمۍ يې پيدا کړل، هر يو د دغو سيارو څخه په يو (بېل بېل) مدار کې حرکت کوي،ګرځي. په پورتني آيت کې دا ذکر شول چې لمر، سپوږمۍ، او نوري ټولي سيارې په يو مدار کې ګرځي، او لامبو وهي.

**دویم آیت:** په بل ځای کې  الله تعالي فرمایلي:**{ لا الشَّمْسُ يَنْبَغِي لَها أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلا اللَّيْلُ سابِقُ النَّهارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ }**[2] ژباړه: نه د لمر په وس کې دا شته چې سپوږمۍ ونيسي، او نه شپه پر ورځي مخکي کېدلای شي، دا ټول په يو فلک (مدار) کې لامبو وهي، او ګرځي (په اسمان کې چورلېدونکي دي).

په پورتني آيت کې هم د فلک نوم راغلی دی، او وايي چې دا ټولي سيارې په خپل مدار او مسير کې ګرځي.

**او د فلک د علم تعريف په لاندې توګه شوی دی:**

« **علم يبحث فيه عن الأجرام العلوية وأحوالها**»[3] ژباړه: له هغه علم څخه عبارت دی چې پکې اسماني جسمونه او د هغوی د حالاتو په اړه څېړنه او بحث کيږي.

## دویم مطلب: د فلک د علم اهميت

الله تعالی دا نړۍ پيدا کړې ده، او د انسان لپاره يې تابع وګرځوله، ځکه يې د انسان لپاره مسخره کړه، لمر او سپوږمۍ يې نور ګرځولي دي، او هغه يې په بېلابېلو پړاوونو وويشل، ترڅو خلک د کلونو، او نېټو حساب معلوم کړي، په قرآن کريم کې دا يادونه په څرګندو ټکو شوي ده. الله تعالی فرمايلي:**{هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ**

---

[1] سورة الأنبياء آيت ٣٣.

[2] سورة يس  آيت ٤٠.

[3] معجم اللغة العربية المعاصرة  تأليف: دكتور أحمد مختار عبدالحميد عمر٣/ ١٧٤٢.

**ضِيَاءً وَالْقَمَرَ نُوراً وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَاب مَا خَلَقَ اللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِالْحَقِّ يُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ}**[1] ژباړه: هماغه ذات دی چې لمر یې روڼ او سپوږمۍ یې روښانه پیدا کړیده، او د سپوږمۍ د نري کیدو او غټېدو پړاوونه یې په منظم ډول ټاکلي دي، چې تاسي په هغو سره د نېټو او کلونو حساب معلوم کړئ، الله تعالی دا هر څه (د لوبې په ډول نه، بلکې) له یو مقصد سره پیدا کړي دي، هغه خپلې نښانې د هغو خلکو لپاره چې علم لري، په روښانه توګه وړاندي کوي، د فلک علم خورا پراخ او مهم علم دی چې د مختلفو اړخونو له مخې ډېر اهمیت لري، د دې علم اهمیت په لاندې توګه دی:

د فلک علم د انسان ذهن ته د کایناتو د جوړښت او نظام په اړه ژوره پوهه ورکوي. دا علم د فزیک، ریاضیاتو، او هندسې په برخه کې د پرمختګ لامل شوی دی. د فلک علم د اسماني جسمونو د حرکتونو د څېړلو له لاري انسانان د کایناتو قوانین او طبیعي اصول درک کوي. دا علم د انسان د پوهې، پراخوالي، د نړۍ، او کائناتو د رازونو د کشف کولو یوه مهمه وسیله ده، او په انسان کې د الله تعالی د مخلوقاتو په اړه د فکر کولو ماده پیدا کوي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي:{ **وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ}**[2] ژباړه: هغه د اسمانونو او ځمکې ټول شیان ستاسي لپاره له خپل لوري څخه مسخر کړل، پدې کې ستري نښانې د هغو خلکو لپاره دي چې غور او فکر کوونکي دي، او د فلک علم د موسمونو د پېژندلو لپاره ډېر مهم دی، د لمر، سپوږمۍ، او د نورو اجرامو د حرکتونو، د موسمي بدلونونو، ساعتونو، او کلونو سره تړاو لري، د فلک علم د فضايي څېړنو او د فضا د سفر لپاره بنسټیزه پوهه وړاندې کوي، د فلک علم د پرمختګ، او د فضا د تحقیق او ټیکنالوژۍ په برخه کې مهم رول لري، د سپوږمۍ او نورو سیارو د څېړلو لپاره د فلک علم ته اړتیا ده، چې د فضايي تحقیق او فضايي څېړنو لپاره اړینه پوهه ورکوي، د مصنوعي سیارو د مدارونو د تنظیم او د فضا په اړه د دقیقو معلوماتو د راټولولو لپاره د فلک علم کارول کیږي، د فلک علم د اقلیم د بدلونونو او د طبیعي پېښو (طوفانونه، بارانونه، او وچکالي او داسې نور...)

[1] سورة یونس آیت ۵
[2] سورة الجاثیة آیت ۱۳

په وړاندوینه کې مرسته کوي، د فلک علم په انسانانو کې د الله تعالی د قدرت، کایناتو، او د عظمت په اړه ژوره پوهه راولي، چې له هغې سره سره یې د خالق د لویي او پوره تدبیر او تفکر پر باور کې زیاتوالی راځي، د فلک علم د الله تعالی په قدرت باندې د ایمان د قوي کولو لامل کیږې. او د اسماني جسمونو په لیدلو او څېړنه کې انسان د کایناتو د نظم او ترتیب په اړه د خپل ایمان قوت مومي، او انسان دې ته هڅوي چې د الله تعالی په مخلوقاتو کې فکر وکړي، او الله تعالی فرمایلي: **{إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ}**[1] ژباړه: د اسمانونو او ځمکي په پیدایښت، او د شپې او ورځې په تګ او را تګ کې، د عقل خاوندانو او پوهانو لپاره خامخا ډیري نښانې دي. لنډه دا چې د فلک علم یوازي د اسماني اجرامو د څېړلو او د فضایي حرکتونو په اړه معلومات نه ورکوي، بلکې دا د انسان د فکر، ټیکنالوژي، او په ټولو برخو کې پراخ اهمیت لري، دا علم د ځمکي او کایناتو په اړه د پوهي او پراختیا لامل کیږي، او د انسانانو لپاره د الله تعالی د مخلوقاتو په اړه د حیرانتیا او لویي احساس راولي.[2]

## دوهم مبحث : د فلک د علماوو پر اقوالو باندې د عمل کولو شرعي حیثیت

په دې مسأله کې د متقدمینو او متأخرینو فقهاوو دوه نظریې شتون لري، چې لومړۍ نظریه د ځینو شوافعو او ځینو معاصرو علماوو ده، هغوی وایي: په فلکي حساب باندې عمل کول جواز لري. او دویمه نظریه د جمهورو علماوو ده، هغوی د فلکي حساب په وړاندوینو باندې په روژه او اختر کې عمل کولو ته جواز نه ورکوي، د دوی اقوال او دلایل په لاندې توګه دي:

---

[1] سورة آل عمران آیت ۱۹۰.

[2] نظرية الحساب الفلكي والرؤية الفلكية، بتصرف تأليف: الدكتور مأمون الرفاعي ص ۹ـ۱۲

## لومړی مطلب: د لومړي قول د اصحابو اقوال او دلایل

د فلکي حساب په وړاندوینو باندې عمل کول جواز لري، دا رأیه د ځیني شوافعو ده. لکه تقي الدین السُّبکي[1] او د ځینو معاصرو علماوو هم ده، لکه شیخ أحمد محمد شاکر[2] دکتور یوسف قرضاوي[3] او داسې نور...

**د امام سبکي (رحمه الله) رأیه: «لِأَنَّ الْحِسَابَ قَطْعِيٌّ وَالشَّهَادَةَ وَالْخَبَرَ ظَنِّيَّانِ وَالظَّنُّ لَا يُعَارِضُ الْقَطْعَ»[4]**

ژباړه: له دې متن څخه لړ مخکې وایي: که چیري فلکي حساب د میاشتې په عدم رؤیت باندې دلالت وکړي، او که څه هم د میاشتې په لیدلو دوه شاهدان شاهدې ورکړي، نو په دې حالت کې د هغوی دواړو شاهدې نه قبلیږي، ځکه د فلکي حساب وړاندویني قطعي دي، حال دا چې شاهدې او خبره په رؤیت الهلال باندې ظني دي، نو ظن له قطع سره تعارض نشي کولای.

**د شیخ أحمد محمد شاکر مصري رأیه:**

(د میاشتي لیدلو ته چې یوازي د سترګو تر لیدلو پوري تړاو ورکړ شوی دی، د یو علت په اساس، هغه علت دا دی چې دا اُمت مخکې اُمي وو یعني لیک او لوست یې نه لرل. او علت د خپل معلول سره په شتون او یا نه شتون کې ګرځي، یعني که چیري علت شتون لري معلول هم موجود وي، او که علت نه وي معلول هم نه وي، نو کله چې اُمت د اُمیت له مرحلې څخه ووځي، لیک او لوست کولای شي، عام او خاص ټول خلک په فلکي حساب باندې یقین او باور ته ورسیږي، او دا امکان ولري چې د سترګو تر لیدلو په فلکي حساب

[1] نوم : أبو الحسن تقي الدین علي بن عبدالکافي السبکي، په کال ۶۸۳ هـ په (سبک الأحد) کې زیږیدلی دی، او سبک الأحد په مصر کې د منوفیه ولایت یوه سیمه ده، شافعي مذهب دی، د خپل وخت قاضي القضاة او شیخ الإسلام وو، او د دو ډیري لیکني دي، د هغو له ډلي څخه یوشمېر په لاندې توګه دي: ( شفاء السقام في زیارة خیر الأنام) (فتاوی سبکي) او داسې نور. او په کال ۷۵۶ هـ په قاهره کې وفات شوی دی. مصدر: طبقات الشافعیة الکبری، تألیف: تاج الدین عبدالوهاب بن تقي الدین السبکي ۱۰/ ۱۳۹ ـ ۳۱۶ .

[2] نوم: المحدث أبو الأشبال، شیخ أحمد بن محمد شاکر، په کال ۱۳۰۹هـ په قاهره کې زیږیدلی دی، د خپل وخت ښه محدث وو، ډېري لیکني یې کړي دي، د هغو له ډلي څخه (أوائل الشهور العربیة) دی، او داسې نور... او په کال ۱۳۷۷ هـ په مصر کې وفات شوی دی. مصدر: المعجم الجامع في تراجم العلماء المعاصرین، تألیف: أعضاء ملتقی أهل الحدیث، ص ۲۸ .

[3] نوم : یوسف بن عبدالله القرضاوي، په کال ۱۹۲۶ م د سبتمبر په نهم تاریخ د (المحلة الکبری) مرکز تابع یوه قریه ده، چې نوم یې (صفط تراب) دی ، هلته زیږیدلی دی، په الاتحاد العالمي لعلماء المسلمین، او مجمع البحوث الإسلامیة په أزهر کې او داسې نورو مجالسو کې رئیس او عضوه وو، او ډېر زیات کتابونه یې لیکلي دي، چې یو شمېر یې په لاندې توګه دي: ( من فقه الدولة في الإسلام) ( فقه الجهاد) ( الاجتهاد المعاصر بین الانضباط والانفراط)( فتاوی معاصرة) او داسې نور... او په کال ۲۰۲۲ م د سبتمبر په ۲۶ تاریخ په دوحه کې وفات شو. مصدر: المعجم الجامع في تراجم العلماء المعاصرین، تألیف: أعضاء ملتقی أهل الحدیث، ص ۳۷۰ .

[4] فتاوی السبکي تألیف: أبوالحسن تقي الدین علي بن عبدالکافي السبکي (ت ۷۵۶ هـ) چاپونکي اداره: دار المعارف ۱/ ۲۰۹ .

باندې اعتماد او باور قويتر شي، نو کله چې د دوی حالت په خپلو ټولنو کې همدا شان شي، او علت (اُميت) له منځ څخه ورک شي، نو واجب دی چې يوازې په فلکي حساب باندې د مياشتو په اثبات کې عمل وکړي، او د سترګو په وسيله چې کومه ليدنه کيږي، هغې ته روجوع ونه کړي، البته که چيري په فلکي حساب باندې علم حاصلول سخت کار وو، لکه د کوچيانو لپاره چې په صحراوو کې ژوند کوي، او د هغو کسانو لپاره چې په اطرافو کې ژوند کوي، او دوی ته د فلکي حساب صحيح خبرونه له أهل حساب څخه نه رسيږي، نو بيا کولای شي چې د سترګو له ليدلو څخه کار واخلي.)[1]

**د دکتور يوسف قرضاوي (رحمه الله) رأيه:**

**« إن الأخذ بالحساب القطعي، اليوم وسيلة لإثبات الشهور... وقد ناديت منذ سنوات بأن نأخذ بالحساب الفلكي القطعي على الأقل في النفي لا في الإثبات.»** [2] ژباړه: د اهل فلک په قطعي حساب باندې عمل کول، نن ورځ د مياشتو د اثبات لپاره يوه وسيله ده، او له څو کلونو راهيسې مې غږ پورته کړی، چې لږ تر لږه د فلک هغه قطعي حساب په نفي (روژه او يا اختر په فلان تاريخ نشته) کې قبول کړو، نه په اثبات کې چې روژه او يا اختر په فلان تاريخ شته.

د يو شمېر علماوو لکه مخکې چې يې يادونه وشوه دا رأيه وه چې په فلکي حساب باندې عمل کول د روژې او اختر د اثبات لپاره جواز لري. د دوی دلايل په لاندې توګه دي:

**(لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوُا الْهِلَالَ، وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوا لَهُ)**[3] ژباړه: تر څو چې د رمضان مياشت ونه وينئ روژه مه نيسئ، او تر څو چې د شوال مياشت ونه وينئ روژه مه ماتوئ، او د که کوم لامل له کبله پر تاسو باندې مياشت پټه کړل شي، نو بيا د مياشتي دېرشم پوره کړئ. دوی د دې حديث شريف له يوې برخې څخه استدلال کوي چې هغه د حديث اخيري (فاقدروا له) برخه ده، دوی وايي: له دې لفظ څخه

---

[1] أوائل الشهورالعربية تأليف: شيخ أحمد محمد شاكر، چاپونکي اداره: مکتبة ابن تيمية، دويم چاپ، د چاپ کال: ۱۴۰۷ هـ ـص ۱۳ ـ ۱۴.

[2] الحساب الفلكي وإثبات أوائل الشهور تأليف: أ.د. يوسف القرضاوي ص ۱ـ له حذف څخه وروسته په ۱۹ صفحه کې راغلي دي.

[3] صحيح البخاري، د کتاب پوره نوم: (الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ـ وسننه وأيامه.) تأليف: محمد بن إسماعيل أبوعبدالله البخاري الجعفي (ت۲٥٦ هـ) تحقيق: د. مصطفى ديب البغاء، نشرونکي اداره: دار طوق النجاة، بيروت، لومړی چاپ، د چاپ كال: ۱۴۲۲ هـ ـ ۲۷/۳ د حديث ګڼه: ۱۹۰۶، بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «إِذَا رَأَيْتُمُ الهِلاَلَ فَصُومُوا، وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا».

مراد دا دی چې کله پر تاسو میاشت پټه شي، نو بیا یې د فلکي حساب په منازلو او یا مراحلو باندې یې اندازه کړئ. یعني په دې وخت کې د فلکي حساب وړاندوینو ته رجوع وکړئ.

امام قرضاوي (رحمه الله تعالی) په خپل کتاب کې وایي: په صحیحو احادیثو کې دا ثابت دی چې د رمضان د میاشتي اثبات په دریو طریقو کیږي:

**لومړی طریقه:** رؤية الهلال.

**دویمه طریقه:** أو إكمال عدة شعبان ثلاثين.

**دریمه طریقه:** أو التقدير للهلال.[1] د فقهاوو اختلاف په دریمې طریقې کې دی، او دوکتور قرضاوي وایي: امکان لري چې فلکي حساب د دې په معنی کې داخل شي، او دا فلکي حساب زمونږ په اوسنی وخت کې د یقینیاتو په مرتبه کې دی.[2]

او امام قرضاوي (رحمه الله) د خپلي رأیې د تأکید لپاره د نورو علماوو رأیې هم راوړي دي، چې د دغو علماوو د نظرایاتو یادونه په فتح الباري او عمدة القاري کې شوي ده، لومړی أبو العباس أحمد بن عمر بن سریج[3] د دغو دوو روایتونو په منځ کې په داسې توگه تطبیق کړي دی، د (فاقدروا له) د قول معنی داسې کوي (میاشت د فلکي حساب په منازلو اندازه او حساب کړئ) او دا خبره د هغه چا لپاره خطاب ده چې الله تعالی هغه کس په علم الفلك باندې خاص کړی وي، او د دې قول (فأكملوا العدة) خطاب عام دی.[4] او نور علماء هم دا رأیه لري. او د دې قول همداسې تأویل کوي، لکه په لاندې توگه «**وَقَالَ آخَرُونَ: مِنْهُم مطرف بن عبد الله وَابْن قُتَيْبَة مَعْنَاهُ: قدروه بِحِسَاب الْمنَازل، يَعْنِي منَازِل الْقَمَر.**»[5]

---

[1] الحساب الفلكي وإثبات أوائل الشهور تأليف: د. يوسف القرضاوي ص ٣.

[2] مخکینی مصدر ١٨ـ ١٩.

[3] نوم: أبوالعباس أحمد بن عمر بن سريج البغدادي القاضي الشافعي. په ابن سریج مشهور شوی دی. په کال ٢٤٩ هـ په بغداد کې زیږېدلی دی. شافعي مذهب دی. او ډیري کتابونه یې لیکلي دي د هغو له ډلي څخه (البيان عن أصول الأحكام) (الودائع لنصوص الشرائع) او په کال ٣٠٦ هـ په بغداد کې وفات شوی دی. مصدر: طبقات الشافعية الكبرى، تأليف: تاج الدين عبدالوهاب بن تقي الدين السبكي، ٣/ ٢١ـ ٢٥. او په گوگل کې د (Wikipedia / ویکي پدیا) په نامه صفحه ده.

[4] فتح الباري شرح صحيح الباري تأليف: أبو الفضل أحمد بن علي بن حجر العسقلاني الشافعي، چاپونکي اداره: دار المعرفة، بيروت، ٤/ ١٢٢.

[5] عمدة القاري شرح صحيح البخاري تأليف: أبو محمد محمود بن أحمد بدرالدين العيني الحنفي (ت ٨٥٥ هـ) نشرونکي اداره: دار إحياء التراث العربي، بيروت، ١٠/ ٢٧١.

ژباړه: او نور علماء وايي: د هغو له ډلي څخه، مطرف بن عبدالله،[1] او ابن قتيبه،[2] چې د دې لفظ معنی داسې ده چې میاشت د سپوږمۍ په مراحلو باندې حساب او اندازه کړئ.

## دويم مطلب: د لومړي قول د اصحابو د دلايلو مناقشه

دا خبره ښکاره او څرګنده  ده چې میاشتي د خلکو د ژوند د ځيني حالتونو لپاره ټاکل شوي وختونه دي، ترڅو خلک د مياشتو په وسيله د ځيني عبادتونو وختونه وپیژني، او خپل عبادات په ټاکلو وختونو کې تر سره کړي، که څه هم د فلکي حساب سرچينه د میاشتې او نورو سيارو له نظام څخه دی، خو سره د دې د روژې او اختر د وختونو د پېژندني لاري او چاري جلا ذکر شوي دي، ترڅو مسلمانان د خپلو عباداتو لپاره په ټاکلو لارو د ځانونو لپاره ټاکلي وختونه معلوم کړي. بناء د لومړي قول د علماوو د  دلايلو مناقشه په لاندې توګه کيږي:

امام سبکي (رحمه الله) وويل: چې د فلکي حساب په وړاندوينو باندې په روژه او اختر کې اعتماد او عمل کول جواز لري. شهاب الدين رملي[3] (رحمه الله)  د امام سبکي (رحمه الله) خبره رد کړي ده. شهاب الدين رملي وايي:  «**وَمَا قَالَهُ السُّبْكِيُّ مَرْدُودٌ رَدَّهُ عَلَيْهِ جَمَاعَةٌ مِنْ الْمُتَأَخِّرِينَ... وَوَجْهُ مَا قُلْنَاهُ أَنَّ الشَّارِعَ لَمْ يَعْتَمِدْ الْحِسَابَ بَلْ أَلْغَاهُ بِالْكُلِّيَّةِ بِقَوْلِهِ نَحْنُ أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ لَا نَكْتُبُ وَلَا نَحْسِبُ الشَّهْرَ هَكَذَا وَهَكَذَا**»[4]

ژباړه: هغه څه چې امام سبکي وايي ( په فلکي حساب باندې باور) دا مردود دی، او د منلو وړ نه ده، له متأخرينو علماوو څخه یوې ډلي د دو پر قول رد کړی، او کومه خبره چې مونږ وکړه، د هغې خبري دليل دا دی، چې شارع  په اړونده قضيه کې فلکي حساب ته اهميت نه دی ورکړی، بلکې اصلاً يې لغوه کړی دی،

---

[1] نوم: مُطَرِّفُ بنُ عَبْدِ اللهِ بنِ الشِّخِّيْرِ الحَرَشِيُّ العَامِرِيُّ، له لويو تابعينو څخه دی، او لوی امام وو، او د بصرې دی. په کال ۹۵ هـ کې  وفات شوی دی. مصدر: سير الأعلام النبلاء، تأليف: شمس الدين محمد بن أحمد الذهبي ۴/ ۱۸۷ .

[2] نوم: ابْنُ قُتَيْبَةَ أَبُو مُحَمَّدٍ عَبْدُ اللهِ بنُ مُسْلِمٍ الدِّيْنَوَرِيُّ، په ابن قتيبه دينوري باندې مشهور شوي دی. په کال ۲۱۳ هـ په بغداد کې زيږېدلی دی. حنبلي مذهب دی. لوی  فقيه، محدث، او مؤرخ دی. ډېر کتابونه يې ليکلي دي، د هغو له ډلي څخه( عيون الأخبار) ( غريب القرآن) (أعلام النبوة) دي، او داسې نور... او په کال ۲۷۶ هـ  په بغداد کې وفات شوی دی. مصدر: سير الأعلام النبلاء، تأليف: الذهبي ۱۳/ ۲۹۶ ،  او په ګوګل کې د (Wikipedia / ويکي پديا) په نامه صفحه ده.

[3] نوم: شهاب الدين أحمد بن حمزة الرملي المصري، شافعي مذهب دی، او ډيري ليکني لري، د هغو له ډلي څخه ( فتاوی الرملي ) دی، په کال ۹۵۷ هـ کې په قاهره کې وفات شوی دی. مصدر: الأعلام، تأليف: خيرالدين بن محمود الدمشقي الزركلي ۱/ ۱۲۰ .

[4] فتاوی الرملي  تأليف: شهاب الدين الرملي الشافعي (ت ۹۵۷ هـ ) چاپونکي اداره: المکتبة الإسلامية،  ۵۹/۲ .

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دې قول پر اساس چې وايي: مونږ اُمي اُمت يوو، نه څه شی ليکلی شو، او نه د حساب علم پېژنو. مياشت کله دومره وي، او کله بيا دومره وي، يعني کله نوويشت وي، او کله دېرش وي.

**د (فاقدروا له) د لفظ څېړنه او په دې اړه د محدثينو رأيي:**

معتمد محدثين وايي: چې له دې لفظ څخه مراد د شعبان دېرشمه پوره کول دي، او دا لفظ د لومړي لفظ لپاره (فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِين) تأکيد دی.

**« قَوْلُهُ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدِرُوا لَهُ فَاحْتَمَلَ أَنْ يَكُونَ الْمُرَادُ التَّفْرِقَةَ بَيْنَ حُكْمِ الصَّحْوِ وَالْغَيْمِ فَيَكُونَ التَّعْلِيقُ عَلَى الرُّؤْيَةِ مُتَعَلِّقًا بِالصَّحْوِ وَأَمَّا الْغَيْمُ فَلَهُ حُكْمٌ آخَرُ وَيَحْتَمِلُ أَنْ لَا تَفْرِقَةَ وَيَكُونُ الثَّانِي مُؤَكِّدًا لِلْأَوَّلِ وَإِلَى الْأَوَّلِ ذَهَبَ أَكْثَرُ الْحَنَابِلَةِ وَإِلَى الثَّانِي ذَهَبَ الْجُمْهُورُ فَقَالُوا الْمُرَادُ بِقَوْلِهِ فَاقْدُرُوا لَهُ أَيِ انْظُرُوا فِي أَوَّلِ الشَّهْرِ وَاحْسِبُوا تَمَامَ الثَّلَاثِينَ وَيُرَجِّحُ هَذَا التَّأْوِيلَ الرِّوَايَاتُ الْأُخَرُ الْمُصَرِّحَةُ بِالْمُرَادِ وَهِيَ مَا تَقَدَمُ مِنْ قَوْلِهِ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ ثَلَاثِينَ وَنَحْوِهَا وَأَوْلَى مَا فُسِّرَ الْحَدِيثُ بِالْحَدِيثِ»**[1]

ژباړه: دا قول ( فإن غم عليكم فاقدروا له) دا احتمال لري چې موخه ځيني د شين اسمان او وريځي د حکم تر منځ جلاوالی وي، نو که اسمان شين وو تر رؤيت او ليدلو پوري تعلق نيسي، او کوم چې د وريځي حالت دی د هغه حکم بېل دی(د شعبان دېرش پوره کيږي) او دا هم احتمال لري چې د شين اسمان او وريځي د حکم په منځ کې فرق نه وي، او دا دويم (فاقدروا له) د لومړي( فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِين) لپاره تأکيد وي. هغه لومړۍ رأيه د ډېرو د حنابلو علماوو ده، او دويمه رأيه د جمهورو علماوو ده، او هغوی وايي: د (فاقدروا له) څخه مراد دا دی: د مياشتي په اول کې مياشت وګورئ، او که مياشت ونه ليدل شوه، نو بيا يې تر دېرشمه پوري حساب او پوره يې کړئ، او ياد تأويل ته نور صريح روايات ترجيح ورکوي، او هغه روايات دا دي (فأكملوا عدة شعبان ثلاثين) او داسې نور... او بهتر دا دی چې د حديث تفسير په حديث وشي. نو دا ثابت شو چې د (فاقدروا له) له لفظ څخه د مياشتي پوره والی مراد دی.

---

[1] فتح الباري على الصحيح البخاري تأليف: ابن حجرالعسقلاني، ۴/ ۱۲۱

او په عمدة القاري کې راځي: «**حمل جُمْهُور الْفُقَهَاء قَوْله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم (فاقدروا لَهُ) ، على أَن الْمُرَاد إِكْمَال الْعدة ثَلَاثِينَ ... وَلَا يجوز أَن يكون الْمُرَاد حِسَاب النُّجُوم، لِأَن النَّاس لَو كلفوا بِهِ ضَاقَ عَلَيْهِم لِأَنَّهُ لَا يعرفهُ إلاّ الْأَفْرَاد، والشارع إِنَّمَا يَأْمر النَّاس بِمَا يعرفهُ جماهيرهم.**»[1]

ژباړه: جمهورو فقهاوو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول(فاقدروا له) داسې حمل کړی چې له دې څخه مراد د میاشتې دېرشم تاریخ پوره کېدل دی، او د ستورو حساب ځیني اخیستل روا نه دی، ځکه که چیري خلک د فلکي حساب په پیژندلو مکلف کړل شي، نو په خلکو باندې دا کار سختیږي، ځکه د یوڅو کسانو پرته ډیری د ستورو حساب نه پېژني، او شارع (الله تعالی) په هغه څه باندې امر کوي چې د خلکو اکثریت هغه پېژني.

نو دا ثابت شو چې د (فاقدروا له) له لفظ څخه موخه د میاشتې دېرشم تاریخ پوره کول دي، د مسلم شریف روایت یاد اختلاف ته د پای ټکی ږدي. د مسلم په روایت کې له دې لفظ څخه وروسته د ثلاثین لفظ راغلی دی، لکه په لاندې توګه (**فَصُومُوا لِرُؤْيَتِهِ، وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ أُغْمِيَ عَلَيْكُمْ فَاقْدِرُوا لَهُ ثَلَاثِينَ**)[2] ژباړه: که پر تاسو میاشت پټه شي، نو د میاشتې د دېرشم تاریخ پوره کړئ، یعني تر دېرشم تاریخ پوري انتظار وکړئ، او د میاشتې لومړی تاریخ روژه او یا اختر کیږي، په یاد حدیث کې صراحتا دا ذکر شو چې د کوم علت پر مهال د میاشتې دېرشم تاریخ پوره کړئ.

---

[1] عمدة القاري شرح صحيح البخاري  تأليف: بدرالدين العيني الحنفي، ۱۰/ ۲۷۱ـ ۲۷۲

[2] صحيح مسلم، پوره نوم يې: (المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم) تأليف: مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (ت ۲٦۱ هـ) تحقيق: محمد فؤاد عبدالباقي، نشرونكي اداره: دار إحياء التراث العربي، بيروت، ۲/ ۷٥۹. دحديث كڼه: ۱۰۸۰( بَابُ وُجُوبِ صَوْمِ رَمَضَانَ لِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ، وَالْفِطْرِ لِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ، وَأَنَّهُ إِذَا غُمَّ فِي أَوَّلِهِ أَوْ آخِرِهِ أُكْمِلَتْ عِدَّةُ الشَّهْرِ ثَلَاثِينَ يَوْمًا).

## دريم مطلب: د دويم  قول د اصحابو اقوال او دلايل

د فلکي حساب په وړاندوينو باندې په روژه او اختر کې عمل کول مطلقا جواز نه لري، دا رأيه د څلور امامانو دی. لکه احناف، مالکيان، شوافع، او حنابله. او د ډېرو معاصرو علماوو ده، د دوی اقوال او دلايل په تفصيل سره په لاندې توگه دي:

**الف: لومړی د احنافو رأيه**

**«وَلَا عِبْرَةَ بِقَوْلِ الْمُؤَقِّتِينَ، وَلَوْ عُدُولًا عَلَى الْمَذْهَبِ...» (قَوْلُهُ: وَلَا عِبْرَةَ بِقَوْلِ الْمُؤَقِّتِينِ) أَيْ فِي وُجُوبِ الصَّوْمِ عَلَى النَّاسِ بَلْ فِي الْمِعْرَاجِ لَا يُعْتَبَرُ قَوْلُهُمْ بِالْإِجْمَاعِ، وَلَا يَجُوزُ لِلْمُنَجِّمِ أَنْ يَعْمَلَ بِحِسَابِ نَفْسِهِ»**[1]

ژباړه: د خلکو لپاره د روژې په واجبوالي کې د وخت ټاکونکو قول ته اعتبار نشته، که څه هم عادلان وي، بلکي په معراج نوم کتاب کې وايي: چې د دوی قول ته د علماوو په اجماع سره اعتبار نه ورکول کيږي. او د ستوري پېژندونکي لپاره هم جواز نه لري چې په فلکي حساب په وړاندوينه باندې پخپله عمل وکړي.

په پورتني متن کې دا خبره ښه واضحه شوه چې د فلکي حساب وړاندوينو ته د روژې په واجبوالي کې کوم اعتبار نه ورکول کيږي، بلکي ځانکړي وگړي  بايد خپله د مياشتي په ليدلو کې په ټاکلو طريقو (لکه د سترگو ليدنه، او د شعبان دېرشمه پوره کولو) باندې هڅه وکړي.

**الفقه الحنفي في ثوبه الجديد کې راځي:**

**« ولا يعتد شرعا بقول الفلكيين الذين يعتمدون على الحساب ولو كانوا عدولا»**[2] ژباړه: او شرعاً د فلکيانو اقوالو ته نه کتل کيږي، که څه هم هغوی عادلان وي. دلته هم دا څرگند شول چې د فلکي حساب وړاندوينو ته په روژه او اختر کې اعتبار نه ورکول کيږي.

---

[1] الدرالمختار مع رد المحتار  تأليف: د دُر مؤلف: محمد بن علي الحنفي الشهير بـ الحصفكي (ت ۱۰۸۸ هـ) چاپونکي اداره: دار الكتب العلمية، لومړی چاپ، دچاپ کال: ۱۴۲۳ هـ ،  د رد مؤلف: محمد أمين بن عمر بن عبدالعزيز الشهير بابن عابدين الدمشقي الحنفي ( ت ۱۲۵۲ هـ ) نشرونکي اداره: دار الفكر، بيروت، دويم چاپ، د چاپ کال: ۱۴۱۲ هـ  ـ ۲/ ۳۸۷ .

[2] الفقه الحنفي في ثوبه الجديد  تأليف: عبدالحميد محمود طهماز، چاپونکي اداره: دار القلم، دمشق، دويم چاپ، د چاپ کال: ۱۴۳۰ هـ ۱/ ۴۰۱ .

**او په فتاوی هنديه کې راغلي دي:**

**«وَهَلْ يَرْجِعُ إلىَ قَوْلِ أَهْلِ الْخِبْرَةِ الْعُدُولِ مِمَّنْ يَعْرِفُ عِلْمَ النُّجُومِ، الصَّحِيحُ أَنَّهُ لَا يُقْبَلُ... ، وَلَا يَجُوزُ لِلْمُنَجِّمِ أَنْ يَعْمَلَ بِحِسَابِ نَفْسِه.»**[1] ژباړه: او ايا د مياشتې د ثبوت لپاره به د هغو کار پوهانو او عادلانو قول ته چې د ستورو علم پېژني رجوع به کيږي او که نه؟ نو صحيح قول دا دی چې د دوی خبره به د سپوږمۍ په ثبوت کې نه قبليږي، او د ستورې پېژندونکې لپاره هم دا روا نه دی چې په خپل حساب باندې عمل وکړي.

**ب: دويمه د مالکيانو رأيه**

**«لَا بِمُنَجِّمٍ»: يَعْنِي أَنَّ الْهِلَالَ لَا يُثْبِتُ بِقَوْلِ الْمُنَجِّمِ، بَلْ وَلَا يَجُوزُ لِأَحَدٍ أَنْ يَصُومَ بِقَوْلِهِ، بَلْ وَلَا يَجُوزَ لَهُ هُوَ أَنْ يَعْتَمِدَ عَلَى ذَلِكَ...»**

ژباړه: د ستوري پېژندونکي په قول مياشت نه ثابتيږي، بلکي د هيچا لپاره روا نه دی چې د ستوري پېژندونکي په خبره روژه ونيسي، بلکې خپله د هغه لپاره هم روا نه دی چې اعتمادورباندې وکړي.

**وقال: «لا ينظر في الهلال الى قول المنجمين لِأَنَّ الشَّرْعَ قَصَرَ ذَلِكَ عَلَى الرُّؤْيَةِ أَوْ الشَّهَادَةِ أَوْ إكْمَالِ الْعِدَّةِ فَلَمْ يَجُزْ إثْبَاتُ زِيَادَةٍ عَلَيْهِ»** [2]

ژباړه: د مياشتې په ټاکلو کې د ستورو پېژندونکو خبرو ته نه کتل کيږي، دا ځکه چې شريعت د مياشتې ليدل د سترګو په ليدلو، په شهادت ورکولو ، او د شعبان د مياشتې په پوره کولو سره تړاو ورکړی دی، نو د مياشتې په ليدلو او ثابتولو کې په دغو اسبابو زيادت روا نه دی.

---

[1] الفتاوی الهندية تأليف: لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخي في الهند، چاپونکي اداره: دار الفکر، دويم چاپ، د چاپ کال: ۱۳۱۰ هـ ۱۹۷/۱.

[2] التاج والإكليل في شرح مختصر الخليل تأليف: أبو عبدالله محمد بن يوسف العبدري المالكي (ت ۸۹۷ هـ) چاپونکي اداره: دار الكتب العلمية، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۱۶ هـ ـ ۳/ ۲۸۹- ۲۹۲.

او په بل كتاب كې وايي: «**لَوْ شَهِدَ عَدْلَانِ بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ، وَقَالَ أَهْلُ الْحِسَابِ: إِنَّهُ لَا يُمْكِنُ رُؤْيَتُهُ قَطْعًا - فَالَّذِي يَظْهَرُ مِنْ كَلَامِ أَصْحَابِنَا: أَنَّهُ لَا يُلْتَفَتُ لِقَوْلِ أَهلِ الْحِسَابِ**»[1]

ژباړه: كه چيري د مياشتې په ليدلو كې دوه عادلان شاهدي وركړي، او په پر دې وخت كې د فلكي حساب خلك ووايي: (په دې طريقه د مياشتې ليدل قطعاً امكان نه لري) د كتاب صاحب وايي: كوم چې زمونږ د علماوو له خبرو څخه معلوميږي، هغه دا چې د أهل حساب قول ته نه كتل كيږي. دا د مالكي علماوو رأيه وه، دوی هم د دې خبري وضاحت وكړ چې د مياشتې ليدل د سترگو په ليدلو، او د شعبان د مياشتي په پوره كېدلو پوري تړاو لري، او په دې اړه د فلكي علم د علماوو خبرو ته اعتبار نه وركول كيږي.

## ج: دريمه د شوافعو رأيه

« **لَا يَجُوزُ تَقْلِيدُ الْمُنَجِّمِ فِي حِسَابِهِ، لَا فِي الصَّوْمِ، وَلَا فِي الْفِطْرِ...**»[2] ژباړه: په روژه او اختر كې د ستوري پېژندونكي تقليد (پيروي) جواز نه لري. په ياد متن كې امام نووي[3] (رحمه الله) دا خبره روښانه كړه چې د فلكي حساب په خبرو په روژه او اختر كې اعتماد او باور كول جواز نه لري.

## د: څلورمه د حنابلو رأيه

امام بُهوتي[4] (رحمه الله تعالى) د هغه چا په اړه چې پرته د كوم شرعي سند څخه روژه نيسي وايي:

---

[1] مواهب الجليل في شرح مختصر الخليل تأليف: شمش الدين أبوعبدالله محمد بن محمد، الشهير بالحطاب المالكي (ت ۹۵۴ هـ) چاپونكي اداره: دار الفكر، دريم چاپ، دچاپ كال: ۱۴۱۲هـ ـ ۲/ ۳۷۸ ـ ۳۸۸ .

[2] روضة الطالبين وعمدة المفتين تأليف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف، المعروف بالإمام النووي (ت ٦٧٦ هـ) تحقيق: زهير الشاويش، چاپونكي اداره: المكتب الإسلامي، بيروت، دريم چاپ، د چاپ كال: ۱۴۱۲ هـ ـ ۲/ ۳۴۷.

[3] نوم: أبو زكريا يحيى بن شرف، النووي، الشافعي، په كال ٦۳۱ هـ د شام په (نوا) قريه كې زيږېدلی دی، او نوی د حوران له قريو څخه په سوريه كې يوه قريه ده، او نسبت يې هم نوی ته كيږي، په شافعي مذهب كې لوی محدث او فقيه وو، او ډېر كتابونه يې ليكلي دي، چې يو شمېر يې په لاندې توگه دي: (المنهاج في شرح صحيح مسلم) ( روضة الطالبين وعمدة المفتين، په فقه كې ده) (الأربعون النووي، في الحديث) ( مناقب الشافعي) او داسې نور... او په كال ٦٧٦ هـ د شام په نوی كې وفات شوی دی. مصدر: الأعلام، للزركلي ۸/ ۱۴۹ .

[4] نوم: أبو السعادات منصور بن يونس البهوتي الحنبلي المصري، په كال ۱۰۰۰ هـ په بُهوت كې زيږېدلی دی، او بهوتي ځكه ورته وايي چې بهوت ته يې نسبت كيږي، او بهوت په مصر كې د يوې قريې نوم دی، د خپل وخت لوی فقيه وو، او مذهب يې حنبلي دی، او ډېري ليكني لري، لكه (كشاف القناع عن متن الإقناع) ( شرح منتهي الإرادات) ( الروض المربع شرح زاد المستقنع) او په كال ۱۰۵۱ هـ كې وفات شوی دی. مصدر: الأعلام، للزركلي ۷/ ۳۰۷.

«**أَوْ بِمُسْتَنَدٍ غَيْرِ شَرْعِيٍّ كَحِسَابٍ وَلَوْ كَثُرَتْ إصَابَتُهُ لَمْ يُجْزِئْهُ صَوْمُهُ.**»[1] ژباړه: او که څوک د کوم غیري شرعي دلیل په اساس روژه نیسي، لکه د فلکي حساب پر اساس روژه نیول، که څه هم د فلکي حساب خبري د حقیقت په لوري دېري وي، نو د هغه روژه نیول په فلکي حساب جواز نه لري.

د څلورو مذاهبو رأیي په بشپړه توگه ولیکل شوې، او ټولو دا خبره په ښکاره توگه وکړه چې د فلکې حساب خبري د روژې او اختر په اړه د منلو وړ نه دي. دا ځکه چې د میاشتي لیدلو لپاره په اسلام کې ځانگړي لاري ښودل شوي دي، ترڅو چې په ټاکلو لارو د سپوږمی لیدل ممکن وي، د فلکي حساب وړاندوینو ته اړتیا نشته، د دې لپاره چې د ټولو مذاهبو رأیي یو ځای راوړل شي، د څلورو مذاهبو د رأیو له مجموعې څخه هم په دې اړه رأیه لیکل کیږې.

**د الفقه علي المذاهب الأربعة د مؤلف رأیه:**

« **لا عبرة بقول المنجمين، فلا يجب عليهم الصوم بحسابهم، لأن الشارع علق الصوم ... على رؤية الهلال.**»[2] ژباړه: د روژې او اختر په هکله د ستورو پېژندونکو خبري ته اعتبار نه ورکول کیږې، نو د هغوی په حساب په مسلمانانو باندې روژه نه واجبیږي، ځکه الله تعالی د روژې واجبوالي ته د میاشتې تر لیدلو پوري تعلق ورکړی دی. او د جمهورو علماوو دلایل په لاندې توگه دي:

## الف: لومړی دلیل

**عن ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ، لاَ نَكْتُبُ وَلاَ نَحْسُبُ، الشَّهْرُ هَكَذَا وَهَكَذَا» يَعْنِي مَرَّةً تِسْعَةً وَعِشْرِينَ، وَمَرَّةً ثَلاَثِينَ.**[3]

---

[1] كشاف القناع عن متن الإقناع تأليف: منصور بن يونس البهوتي الحنبلي (ت ١٠٥١ هـ) چاپونکي اداره: دار الكتب العلمية، بيروت ـ ٣١٦/٢.

[2] الفقه على المذاهب الأربعة تأليف: عبدالرحمن بن محمد عوض الجزيري المصري (ت ١٣٦٠ هـ) چاپونکي اداره: دار الكتب العلمية، بيروت، دویم چاپ، د چاپ کال: ١۴٢۴ هـ ـ ١/ ٥٠٠.

[3] صحيح البخاري، البخاري ٣/ ٢٧ دحدیث نمبر: ١٩١٣، كتاب الصوم، بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ نَكْتُبُ وَلاَ نَحْسُبُ» او مسلم، أبوالحسن مسلم بن الحجاج النيسابوري ٢/ ٧٦١ د حدیث نمبر: ١٠٨٠ كتاب الصيام، بَابُ وُجُوبِ صَوْمِ رَمَضَانَ لِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ، وَالْفِطْرِ لِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ، وَأَنَّهُ إِذَا غُمَّ فِي أَوَّلِهِ أَوْ آخِرِهِ أُكْمِلَتْ عِدَّةُ الشَّهْرِ ثَلَاثِينَ يَوْمًا، واللفظ للبخاري.

ژباړه: مونږ اُمي اُمت یوو، نه څه شی لیکلی شو، او نه د حساب علم پېژنو. میاشت کله دومره وي، او کله بیا دومره وي، یعني کله نوویشت وي، او کله دېرش وي.

یاد حدیث شریف ټولو مذاهبو دلیل نیولی دی،[1] چې په فلکي حساب باندې په روژه او اختر کې عمل کول جواز نه لري، ځکه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قول دلیل نیسي.

د میاشتې لیدل د سترګو په وسیله باندې یو طبیعي او اسانه عمل دی، په هر ځای کې انسانان کولای شي چې په اسانۍ یې ویني، الله تعالی مسلمانان مکلف کړي نه دي، چې د فلکي حساب په وسیله باندې د میاشتو اثبات وکړي، بلکي د سترګو لیدل یې د مسلمانانو لپاره د یقین په منزله کې درولی دی، او که وریځ او یا بل مشکل وي، نو مسلمانانو ته دا حکم دی چې د هرې میاشتې دېرشم تاریخ به پوره کوي، او بیا به په لومړي تاریخ روژه او یا اختر کوي.

## ب: دویم دلیل

**عن أبي هريرة رضی الله عنه، عن النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: «صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ غُبِّيَ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلاَثِين »[2] وفي رواية عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: «لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوُا الْهِلاَلَ، وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوا لَهُ»[3]**

ژباړه: د رمضان د میاشتې په لیدلو سره روژه ونیسئ، او د شوال د میاشتې په لیدلو سره روژه وخورئ، او که پر تاسي باندې د وریځي له امله میاشت پټه شوله (د رمضان د میاشتي په لیدلو مو قدرت پیدا نه کړ) نو پس د شعبان د میاشتې دېرشمه ورځ پوره کړئ، او بیا روژه د رمضان د میاشتې په اوله ورځ ونیسئ.

---

[1] د احنافو په رد المحتار کې ۱/ ۳۸۷او د مالکیانو په (فتح العلي المالک في الفتوی علی الإمام مالك) کې ۱/ ۱۷۱ تألیف: محمد بن أحمد أبو عبدالله المالکي او شوافعو په فتاوی رملي ۲/ ۵۹ او داسې نورو... په خپلو کتابونو کې په دې اړه دلیل نیولی دی.

[2] صحیح البخاري تألیف: البخاري ۲۷/۳ ، تخریج یې وړاندې شوی.

[3] مخکینی مصدر۳/ ۲۷

له یادو احادیثو څخه داسې استدلال شوی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: که پر تاسي باندې میاشت پټه شوه، نو بیا د میاشتې دېرشم تاریخ پوره کړئ، داسې یې نه دي ویلي چې په دې وخت کې د فلکې حساب له خلکو څخه پوښتنه وکړئ.[1]

په یادو احادیثو کې صراحتاً دا ثابت شو چې روژه د میاشتې په لیدلو واجبیږي، او د میاشتې لیدلو ته یې د سترګو تر لیدلو پوري تړاو ورکړ، او که چیري د سترګو لیدل د کوم لامل له کبله ستونزمن شي، نو بیا د شعبان د میاشتې دېرشمه پوره کیږي، اوس نو تر څو پوري چې په دغو یادو شوو طرقو د هلال لیدل ممکن وي، نو په دې اړه د فلکي حساب وړاندوینو ته کومه اړتیا نه پیدا کیږي، او نه مونږ مکلف ګرځول شوي یوو، چې په روژې او یا اختر کې په فلکي حساباتو باندې عمل وکړو، دا ځکه چې د سترګو لیدل شرعا د یقین په مرتبه دی.

## څلورم مطلب: په روژه او اختر کې د فلکي حساب په وړاندوینو باندې د نه باور په هکله د معاصرو علماوو رأیي:

په دې مطلب کې د فلکي حساب په وړاندوینو باندې په روژه او اختر کې د معاصرو علماوو له ډلي څخه د یو شمېر رأیي بیانیږي:

**په اسلامې فقه کې راځي:**

«**ولا یعتمد علی ما یخبر به أهل المیقات والحساب والتنجیم**»[2] ژباړه: او په هغه څه باور نه کیږي کوم چې د وخت ټاکونکو، فلکي حساب، او د ستورو پېژندونکو له لوري خلکو ته خبر ورکول کیږي.

**په فتاوی اللجنة الدائمة کې وایي:**

«**ولا یجوز الاعتماد علی العلوم الفلکیة في إثبات بدء شهر رمضان المبارك أو الفطر**»[3] ژباړه: په فلکي علومو باندې د روژې او اختر میاشتو په شروع کې اعتماد او باور کول جواز نه لري.

---

[1] فتح الباري تألیف: ابن حجر العسقلاني ۱۲/۴

[2] الفقه الإسلامي وأدلته تألیف: أ. د. الزحیلي، چاپونکي اداره: دار الفکر، دمشق، څلورم چاپ ۳/ ۱۶۵۲.

[3] فتاوی اللجنة الدائمة تألیف: اللجنة الدائمة للبحوث العلمیة والإفتاء ۱۰/ ۹۹

**په فتاوی دارالعلوم زکریا کې وايي:**

( د میاشتې د لیدلو لپاره د نجومي عالم خبره د منلو وړ نه ده، نو ځکه د هغوی د حساب پر اساس د میاشتې ثبوت نه کیږې، ځکه چې شریعت روژې او اختر ته د میاشتې تر لیدلو پوري تعلق ورکړی دی، د نجومي عالم خبره که څه هم په ډېرو دقیقو نظریو باندې مبني وي، خو په هغه کې یقینیت موجود نه وي، بلکې په ډېرو وختونو کې د هغوی رأیي سره یو شان نه وي، البته نوی فلکي حساب په نفي کې استعمالولای شې، خو په اثبات کې هیڅ ګنجائش نه لري.)[1]

**په فتاوی عثماني کې وايي:**

( د سعودي عرب او مصر په هکله مونږ ته په یقیني توګه دا خبره معلومه ده، چې هلته ته په روژه او اختر کې په فلکي حساباتو باندې مدار نشته، بناء په حساباتو باندې د قمري میاشتو تعین شرعاً درست نه دی.)[2]

د معاصرو علماوو له ډلي څخه د یو شمېر علماوو اقوال د فلکي حساب په اړه ذکر شو، او دا خبره څرګنده شوه چې د یاد حساب په وړاندوینو باندې عمل کول د روژې او اختر د میاشو په اثبات کې جواز نه لري، که څه هم هغوی عادلان وي، دا ځکه چې شارع د روژې واجبوالي ته تر مطلق رؤیت الهلال پوري تړاو ورکړی دی، او له کومو احادیثو څخه چې جمهورو علماوو استدلال کول، له هغو احادیثو څخه هم معاصر علماء استدلال کوي.

## پنځم مطلب: د راجح قول بیان:

د فقهاوو د رأیو، دلایلو، او مناقشې ته په کتلو سره د فلکي حساب په وړاندوینو باندې په روژه او اختر کې د جمهورو علماوو رأیي ته ترجیح او غوره والی ورکړ شوی دی، ځکه چې د جمهورو رأیه د دلیل له پلوه پیاوړې ده، که څه هم د یو شمېر علماوو له پلوه د فلکي حساب په وړاندوینو باندې په روژه او اختر کې عمل کول روا دی، البته عدم روا والی غوره ګڼل شوی دی.

[1] فتاوی دارالعلوم زکریا تألیف: حضرت مولانا مفتي رضاء الحق ۳/ ۴۶۰ چاپونکي اداره: (رشیدیه مکتبه) ــ کندهار

[2] فتاوی عثماني تألیف: مفتي محمد تقي عثماني ۲/ ۱۸۰ فصل في رؤية الهلال چاپونکي اداره: (مکتبة دارالعلوم الدينية) ــ باکستان

**د جمهورو علماوو د رأيي د ترجيح لامل:**

د جمهورو علماوو رأيه د دليل له پلوه ډېره قوي ده، ځکه کوم مفهوم چې ځينو علماوو د ( فاقدروا له ) له لفظ څخه بيانول، هغه مفهوم هم د محدثينو له مراد سره مخالف وو، لکه څرنگه چې د مناقشې په ترڅ کې د هغوی پر دلايلو بحث وشو، او دا څرگند شو چې د ( فاقدروا له ) د لفظ معنی د مياشتې دېرشم تاريخ پوره کول وو، او هغوی صراحت وکړ چې له ياد لفظ څخه بله معنی اخيستل جواز نه لري، لکه څرنگه چې په عمدة القاري کې په دې اړه يادونه وشوه، « **ولا يجوز أن يكون المراد حساب النجوم...**»[1] ژباړه: او د (فاقدروا له) له لفظ څخه مراد د ستورو حساب اخيستل جواز نه لري.

## شپږم مطلب: د فلکي حساب د وړاندوينو او د سترگو د ليدلو تر منځ تعارض

کله نا کله داسې کېدای شي چې د فلکي علومو پر بنسټ اختر او يا روژه په ټاکلي تاريخ ښودل شوي وي، خو د سترگو ليدل په ټکر کې ورسره راشي، د مثال په توگه په فلکي حساب کې روژه سبا نه بل سبا ټاکل شوي وي، او په داسې حال کې چې د رمضان مياشت نن وليدل شوه، نو په داسې حالتونو کې به مسلمانان څه کوي؟ او په اختر کې همدا شان. کله چې داسې اختلاف رامنځ ته شي، نو کوم يوه ته ترجيح ورکول کيږي؟ ايا فلکي حساب ته او که د سترگو ليدلو ته، په دې اړه د علماوو تر منځ د نظرونو اختلاف شتون لري چې په لاندې توگه به واضح شي.

**الف: لومړۍ رأيه**

د ځيني شوافعو علماوو لکه تقي الدين السبکي (رحمه الله) دا رأيه ده چې په داسې حالت کې د فلکي حساب خبري ته لومړيتوب ورکول کيږي،« **وَهَهُنَا صُورَةٌ أُخْرَى وَهُوَ أَنْ يَدُلَّ الْحِسَابُ عَلَى عَدَمِ إمْكَانِ رُؤْيَتِهِ... وَلَوْ شَهِدَ بِهِ شَاهِدَانِ لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمَا لِأَنَّ الْحِسَابَ قَطْعِيٌّ وَالشَّهَادَةَ وَالْخَبَرَ ظَنِّيَّانِ وَالظَّنُّ لَا يُعَارِضُ الْقَطْعَ**»[2] ژباړه: او دلته يو بل صورت هم شته، او هغه داده چې که چيري فلکي حساب د مياشتې په

[1] عمدة القاري شرح صحيح البخاري تأليف: بدر الدين العيني الحنفي ١٠ / ٢٧١ ـ ٢٧٢ .

[2] فتاوى السبكي تأليف: أبوالحسن تقي الدين علي بن عبدالكافي السبكي (ت ٧٥٦ هـ) چاپونکي اداره: دار المعارف ١/ ٢٠٩ .

عدم رؤيت باندې دلالت وکړي، او که څه هم د مياشتې په ليدلو دوه شاهدان شاهدې ورکړي، نو په دې حالت کې د هغوی دواړو شاهدې نه قبليږي، ځکه د فلکي حساب وړاندويني قطعي دي، حال دا چې شاهدې او خبره په رؤيت الهلال باندې ظني دي، نو ظن له قطع سره تعارض نشي کولای.

له شهاب الدين رملي (رحمه الله) څخه د امام سبکي (رحمه الله) د قول په اړه پوښتنه شوي وه، او بيا يې امام رملي جواب کړی دی، او هغه پوښتنه او جواب داسې ده: **«سُئِلَ عَنْ قَوْلِ السُّبْكِيِّ لَوْ شَهِدَتْ بَيِّنَةٌ بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ لَيْلَةَ الثَّلَاثِينَ مِنْ الشَّهْرِ وَقَالَ الْحِسَابُ بِعَدَمِ إمْكَانِ الرُّؤْيَةِ تِلْكَ اللَّيْلَةَ عُمِلَ بِقَوْلِ أَهْلِ الْحِسَابِ لِأَنَّ الْحِسَابَ قَطْعِيٌّ وَالشَّهَادَةُ ظَنِّيَّةٌ... الشَّهَادَة نَزَّلَهَا الشَّارِعُ مَنْزِلَةَ الْيَقِينِ وَمَا قَالَهُ السُّبْكِيُّ مَرْدُودٌ رَدَّهُ عَلَيْهِ جَمَاعَةٌ مِنْ الْمُتَأَخِّرِينَ .»**[1]

ژباړه: د سبکي د خبري په اړه پوښتنه وشوه چې سبکي داسې وايي: که چيري شاهدان د مياشتې په ليدلو باندې د مياشتې په دېرشمه شپه شاهدي ورکړي، او د حساب خلک ووايي: چې په هغې شپه کې د مياشتې ليدل امکان نه لري، نو د أهل الحساب په قول عمل کيږي، ځکه د فلکي حساب خبري يقيني دي، او د خلکو شاهدي ظني ده، نو امام رملي يې په جواب کې داسې وايي: الله تعالی د سترگو ليدلو ته د يقين مرتبه ورکړي ده، او کومه خبره چې سبکي کوي هغه مردوده ده، له متأخيرنو علماوو څخه يوې ډلي د دو پر قول رد کړی.

## ب: دويمه رأيه

په داسې حالت کې د فلکي حساب اقوالو ته نه کتل کيږي، بلکي د سترگو ليدلو ته اعتبار ورکول کيږي، دا نظريه د مالکيانو ده او وايي:

**«لَوْ شَهِدَ عَدْلَانِ بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ، وَقَالَ أَهْلُ الْحِسَابِ: إنَّهُ لَا يُمْكِنُ رُؤْيَتُهُ قَطْعًا - فَالَّذِي يَظْهَرُ مِنْ كَلَامِ أَصْحَابِنَا: أَنَّهُ لَا يُلْتَفَتُ لِقَوْلِ أَهلِ الْحِسَابِ»**[2]

[1] فتاوی الرملي تأليف: شهاب الدين الرملي الشافعي (ت ۹۵۷ هـ) چاپونکي اداره: المکتبة الإسلامية، ۵۸/۲ ــ ۵۹
[2] مواهب الجليل تأليف: الحطاب ۲/ ۳۸۸

ژباړه: که چیري د میاشتې په لیدلو کې دوه عادلان شاهدې ادا کړي، او په پر دې وخت کې د فلکي حساب خلک ووایي، چې په دې طریقه د میاشتې لیدل قطعاً امکان نه لري، د کتاب صاحب وایي: کوم چې زمونږ د علماوو له خبرو څخه معلومیږي، هغه دا چې د أهل حساب قول ته نه کتل کیږي.

له وړاندې صراحت څخه دا ثابت شو چې په داسې حالت کې د سترګو لیدلو ته لومړیتوب ورکول کیږي، او د فلکي حساب په وړاندوینو به عمل نه کیږي.

یاده موضوع که څه هم په نورو مذاهبو کې صراحتا نه ده ذکر شوي، خو د هغوی له تصریحاتو څخه په ښکاره توګه معلومیږي چې په اړونده قضیو کې رؤیت بصري لومړیتوب لري، او د فلکي حساب وړاندوینو ته نه کتل کیږي.

## اووم مطلب: د ستورو د څارني په آلاتو لکه تلسکوب (د لرې لیدلو آله، او یا د اسمانې اجرامو د را نژدې کېدلو آله) د سپوږمۍ د لیدلو حکم

په دې مطلب کې به دا واضح شي چې کله د سپوږمۍ لیدنه د سترګو په وسیله ستونزمنه شي، نو ایا د آلاتو په وسیله یې لیدنه جواز لري او که نه؟ د سپوږمۍ د څارني او لیدني آلات د سپوږمۍ د دقیقي مشاهدې او د کشف لپاره کارول کیږي، ترڅو د سپوږمۍ لیدنه اسانه، او روښانه ښکاره شي، بناء له یادو شوو آلاتو څخه د ګټي اخیستني جواز علماوو ورکړی دی، او په دې هکله ډېری معاصر علماء د نظریاتو له پلوه یو شان دي، د هغو علماوو له ډلي څخه د یو شمېر رأیي په لاندې توګه دي:

**په فتاوی اللجنة الدائمة کې وایي: « تجوز الاستعانة بآلات الرصد في رؤية الهلال...»**[1] ژباړه: د ستورو د څارني او یا دقیقي کتني له آلاتو څخه ګټه اخیستنه، د سپوږمۍ په لیدلو کې جواز لري.

[1] فتاوى اللجنة الدائمة تأليف: اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والإفتاء، چاپونکي اداره: رئاسة إدارة البحوث العلمية والإفتاء - الرياض ١٠/ ٩٩.

**په فتاوی دار العلوم زکریا کې وايي:**

( دروبین لکه د عینکو په شان یوازي یوه غټونکي آله ده، نو په هغه سره د سپوږمۍ د لیدلو هیڅ ستونزه نشته، البته کوم چې نور نوي آلات دي، د هغه په وسیله باندې د لیدلو حیثیت یوازي د کشف دی، یعنی داسې نه دی چې یو شی شتون نه لري د هغو په وسیله هرومرو ولیدل شي، نو ځکه له دې آلاتو څخه مرسته اخستنه جواز لري.) [1]

**په مجلة مجمع الفقه الإسلامي کې وايي:**

**«وعندما تكون الرؤية بالعين المجردة متعسرة حيث يندر الصحو لكثرة الضباب والغيوم ولا تمنع الاستعانة بالآلات والمراصد ... في الصوم والفطر.»** [2]

ژباړه: او کله چې د سترګو په وسیله د میاشتې لیدل د ګرد او یا وریځو له امله ستونزمن شي، نو د ستورو د څارني او یا دقیقي کتني له آلاتو څخه ګټه اخیستنه، په روژه او اختر کې شرعاً ممنوع نه ده.

د وړاندې وضاحت له مخي دا پایله تر لاسه شوه چې د روژې او یا اختر د میاشتې د لیدلو لپاره د ستورو د څارني او لیدني له آلاتو لکه تلسکوب، دروبین او داسي نورو... څخه ګټه اخیستنه جواز لري، او که له دې لاري څخه د سپوږمۍ درسته لیدنه وشي، نو شرعاً د صحیح رؤیت تصدیق باندې کیږي.

[1] فتاوی دارالعلوم زکریا تألیف: حضرت مولانا مفتي رضاء الحق، تحقیق: مولوي عبدالرحمن کندهاري، چاپونکي اداره: مکتبة رشیدیة ـ کندهار، د چاپ کال: ۱۳۹۳ هـ ش ـ ۳/ ۴۶۲.

[2] مجلة مجمع الفقه الإسلامي تأليف: منظمة المؤتمر الإسلامي بجدة ۳/ ۱۰۸۱

# دريم فصل

## د مطالعو اختلاف د فقهي مذاهبو په رڼا کې او د اختلاف عوامل

**په دې فصل کې د دوو مبحثونو او شپاړسو مطلبونو په ترتيب سره د مطالعو د اختلاف احکام بيان شوي دي.**

### لومړی مبحث : د فقهي مذاهبو اقوال او د اختلاف لاملونه

په نفسِ اختلاف المطالع کې نزاع نشته، بلکې اختلاف د اختلاف المطالع په اعتبار کې دی[1] يعني ايا د هر قوم لپاره خپل رؤيت اعتبار لري، او که د بل په رؤيت به عمل کوي؟ په دې مبحث کې به د اختلاف المطالع د حکم په اړه خبري کيږې چې ايا د مطالعو اختلاف اعتبار لري، او که يې نه لري؟ او د علماوو دلائل او د هغوی د دلائلو تر منځ مناقشه کيږې، او وروسته به "إن شاء الله" غوره قول او پايله ليکل کيږې.

د مطالعو د اختلاف د اعتبار او عدم اعتبار په اړه دري قولونه شتون لري:

**لومړی قول:** د مطالعو اختلاف اعتبار لري. دا قول په احنافو کې د علامه زيلعي[2] (رحمه الله) دی.

**دويم قول:** که مسافه نژدې وي اعتبار نه لري، او که مسافه بعيده وي بيا اعتبار لري. دا قول په شافعي مذهب کې أصح روايت دی، او له احنافو څخه د علامه کاساني[3] (رحمه الله) هم دا رأيه ده، او د مسافې معيار به وروسته راشي.

---

[1] ردالمحتار تأليف: ابن عابدين ٢/ ٣٩٣

[2] نوم: أبو محمد عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخرالدين الزيعلي الحنفي، په حنفي مذهب کې لوی فقيه وو، زيلعي ځکه ورته وايي، ځکه چې نسبت يې زيلع ته کيږې، او زيلع د (صُومال) په هيواد کې يو ښار دی، او يو شمېر کتابونه يې ليکلي دي، د هغو له ډلې څخه يو مشهور کتاب يې د( تبيين الحقائق شرح کنزالدقائق) په نوم دی، په کال ٧٠٥ هـ کې د مصر پايتخت قاهرې ته يې سفر وکړ، او هلته يې د دين د خدمت کار شروع کړ، او خلکو ډېره فائده څيني حاصله کړه، او بيا په کال ٧٤٣ هـ کې هلته وفات شو، په قرافه کې دفن شوی دی، او قرافه په قاهره کې يوه مقبره ده. مصدر: الفوائد البهية في تراجم الحنفية، تأليف: أبو الحسنات محمد عبدالحي اللكنوي الهندي، ص ١١٥ .

[3] نوم: علاءالدين أبو بكر بن مسعود الكاساني الحنفي، لُقِّب بـ (ملك العلماء)، په حنفي مذهب کې لوی فقيه وو، کاساني ځکه ورته وايي، ځکه چې کاسان ته يې نسبت کيږې، او کاسان په ازبکستان هيواد کې د (قشقداريا) په ولايت کې يو ښار دی، او يو شمېر کتابونه يې ليکلي دي لکه: ( بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع شرح) او دا کتاب يې په حنفي فقه کې ښه معتمد دی، د دو د واده لامل يې هم شوی دی، (السلطان المبين في أصول الدين)=

**دريم قول:** د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري. دا قول د جمهورو علماوو دی، لکه د احنافو ظاهر روايت[1]، مالکيانو،او حنابله وو، د دريو اقوالو مراجع به په تفصيل سره په خپلو ځايونو کې ذکر شي.

## لومړی مطلب: د لومړي قول د اصحابو اقوال او دلايل

د مطالعو اختلاف اعتبار لري، يعني د هر چا لپاره خپل رؤيت معتبر دی، د بل چا په رؤيت باندې خلک مکلف نه دي. دا نظريه د عکرمة[2]، د قاسم بن محمد بن أبي بکر الصديق[3]، د سالم بن عبدالله بن عمر بن الخطاب[4]، او د اسحاق بن رَاهَوَيْه[5] ده.[6]

= (المعتمد من المعتقد) او داسې نور... په کال ۵۸۷ هـ کې وفات شوی دی، او په (حَلَب) ښار کې له خپلي بي بي فاطمه بنت محمد بن أحمد السمرقندي سره دفن شوی دی، حلب د سوريې په شمال کې يو ښار دی. مصدر: الفوائد البهية في تراجم الحنفية، تأليف: أبو الحسنات محمد عبدالحي اللکنوي الهندي، ص ۵۳ .

[1] ظاهر روايت: کله چې يوه مسأله له دغو شپږو کتابونو څخه رانقل شوي وي، نو دېته ظاهر روايت وايي.(المبسوط، الجامع الصغير، الجامع الکبير، الزيادات، السير الصغير، السير الکبير.)

[2] نوم: العلامة الحافظ المفسر أبو عبدالله عکرمة بن عبدالله البربري المدني، په کال ۲۵ هـ کې زېږېدلی دی، له تابعينو څخه لوی فقيه او مفسر وو، او په کال ۱۰۵ هـ کې وفات شوی دی. مصدر: سير الأعلام النبلاء، تأليف: شمس الدين محمد بن أحمد الذهبي ۵/ ۱۲ ، او په گوگل کې د (Wikipedia / ويکي پديا) په نامه صفحه ده.

[3] نوم: أبو محمد القاسم بن محمد بن أبي بکر الصديق، په کال ۳۵ هـ د علي (رضي الله عنه) د خلافت په دوران کې زېږېدلی دی، د تابعينو له ډلي څخه يو د احاديثو له راويانو څخه دی، او په تابعينو کې يو له اوو فقهاوو د مدينې منورې څخه دی، او په کال ۱۰۷ هـ کې وفات شوی دی. مصدر: سير الأعلام النبلاء، تأليف: الذهبي ۵/ ۵۳ ، او په گوگل کې د (Wikipedia / ويکي پديا) په نامه صفحه ده.

[4] نوم: الإمام ، الحافظ سالم بن عبدالله بن عمر بن الخطاب، د عثمان (رضي الله عنه) د خلافت په دوران کې زېږېدلی دی، د تابعينو له ډلي څخه يو د احاديثو له راويانو څخه دی، د مدينې منورې مفتي او محدث وو، په کال ۱۰۶ هـ کې په مدينه منوره کې وفات شوی دی، او په (البقيع) مقبره کې دفن شوی دی. مصدر: سير الأعلام النبلاء، تأليف: الذهبي ۴/ ۴۵۷ .

[5] نوم: أبو يعقوب شيخ المشرق إسحاق بن راهويه المروزي الحنظلي التميمي، په کال ۱۶۱ هـ په (مَرو الشاهجان) کې زېږېدلی دی، او مرو الشاهجان د ترکمنستان هيواد مربط يو ځای دی، او پلار ته يې راهويه ځکه وايې، ځکه چې پلار يې د مکې مکرمې په لاره کې زېږېدلی دی، او د پلار اصل نوم يې ابراهيم دی، او دکتابونو له ډلي څخه يې (المُسند) او داسې نور ... دي، لوی محدث وو، او مشهور شاگردان يې امام أحمد بن حنبل، امام بخاري، امام مسلم، امام تِرمذي، او امام نسائي، او ابن قتيبه الدِّينَوَرِيّ دي. او په کال ۲۳۸ هـ کې د (نيسابور/ نيشاپور) په ښار کې وفات شوی دی. مصدر: الأعلام، للزرکلي ۱/ ۲۹۲ .

[6] المغني تأليف: موفق الدين أبو محمد عبدالله بن أحمد، الشهير بابن قدامه (ت ۶۲۰ هـ) تحقيق: عبدالقادر عطا، نشرونکي اداره: مکتبة القاهرة، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ - ۳۲۸/۴.

او امام ترمذي (رحمه الله تعالی) هم په خپل کتاب ترمذي کې د کريب د حديث لاندې د اهل علم څخه د دې رأيي حکايت کوي.[١] او دا رأيه د ابن الماجشون[٢]، او د امام مالک په مذهب کې د مغيره[٣] رأيه هم ده.[٤]

او په حنفي مذهب کې دا رأيه د امام زيلعي (رحمه الله تعالی) هم اختيار کړي ده، او امام زيلعي (رحمه الله) وايي: «**وَالْأَشْبَهُ أَنْ يُعْتَبَرَ لِأَنَّ كُلَّ قَوْمٍ مُخَاطَبُونَ بِمَا عِنْدَهُمْ**»[٥] ژباړه: او اشبه قول (د فتوی له الفاظو څخه ده) دا دی چې د مطالعو اختلاف معتبر وګڼل شي، ځکه هر قوم په هغه څه مخاطب دی کوم چې له دوی سره ثابت شي. د لومړي قول د اصحابو دلايل په لاندې توګه دي:

**الف: لومړی دليل حديث**

**( عَنْ كُرَيْبٍ، أَنَّ أُمَّ الْفَضْلِ بِنْتَ الْحَارِثِ، بَعَثَتْهُ إِلَى مُعَاوِيَةَ بِالشَّامِ، قَالَ: فَقَدِمْتُ الشَّامَ، فَقَضَيْتُ حَاجَتَهَا،وَاسْتُهِلَّ عَلَيَّ رَمَضَانُ وَأَنَا بِالشَّامِ، فَرَأَيْتُ الْهِلَالَ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ، ثُمَّ قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فِي آخِرِ الشَّهْرِ، فَسَأَلَنِي عبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، ثُمَّ ذَكَرَ الْهِلَالَ فَقَالَ: مَتَى رَأَيْتُمُ الْهِلَالَ؟ فَقُلْتُ: رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ،فَقَالَ: أَنْتَ رَأَيْتَهُ؟ فَقُلْتُ:نَعَمْ، وَرَآهُ النَّاسُ، وَصَامُوا وَصَامَ مُعَاوِيَةُ، فَقَالَ: لَكِنَّا رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ السَّبْتِ،فَلَا نَزَالُ نَصُومُ حَتَّى نُكْمِلَ ثَلَاثِينَ، أَوْ نَرَاهُ، فَقُلْتُ: أَوَ لَا تَكْتَفِي بِرُؤْيَةِ مُعَاوِيَةَ وَصِيَامِهِ؟ فَقَالَ: لَا، هَكَذَا أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)**[٦]

---

[١] سنن الترمذي تأليف: أبو عيسى محمد بن عيسى الترمذي ٦٧/٣ رقم الحديث ٦٩٣، أبواب الصوم (باب ما جاء لكل أهل بلد رؤيتهم) وقال: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

[٢] نوم: أبو مروان عبدالملک بن عبدالعزيز بن عبدالله بن أبي سلمة بن الماجشون التيمي، په ابن الماجشون باندې مشهور دی، د مدينې منورې مفتي، فقيه او مالکي مذهب وو، د امام مالک رحمه الله له مشهورترينو شاګردانو څخه وو، او په کال ٢١٣ هـ کې وفات شوی دی. مصدر: الأعلام، للزركلي ٤/ ١٦٠ . او سير الأعلام النبلاء، للذهبي ١٠/ ٣٥٩ .

[٣] نوم: المغيره بن عبدالرحمن بن الحارث المخزومي المالکي، د مدينې منورې مفتي، قاضي او د امام مالک د مذهب له لومړي طبقاتو څخه ګڼل کيږي، او په کال ١٨٦ هـ کې وفات شوی دی. مصدر: جمرة تراجم الفقهاء المالكية، تأليف: دكتور قاسم علي سعد ٣/ ١٢٦٣ ـ ١٢٦٥ .

[٤] بداية المجتهد تأليف: أبو الوليد محمد بن أحمد، الشهير بابن رشد (ت ٥٩٥ هـ) چاپونکي اداره: دارالحديث، القاهرة، د چاپ کال: ١٤٢٥ هـ ٥٠/٢.

[٥] تبيين الحقائق تأليف: عثمان بن علي فخرالدين الزيلعي الحنفي (ت ٧٤٣ هـ) نشرونکي اداره: المطبعة الكبرى الأميرية، بولاق ـ القاهرة، لومړی چاپ، د چاپ کال: ١٣١٣ هـ ـ ١/ ٣٢١.

[٦] نيل الأوطار تأليف: محمد بن علي اليمني الشوكاني (ت ١٢٥٠ هـ) تحقيق: عصام الدين الصبابطي، چاپونکي اداره: دارالحديث، مصر، لومړی چاپ، د چاپ کال: ١٤١٣ هـ ٢٣٠/٤ كتاب الصيام (باب الهلال إذا رآه أهل بلدة هل يلزم بقية البلاد الصوم)، وقال: رواه الجماعة إلا البخاري وابن ماجه، د حديث تخريج مخکې ذکر شو.

ژباړه: مشهور تابعي کریب[1] د أبو مسلم زوی څخه روایت دی، هغه وایي: زه أم الفضل(لُبابة الکبری بنت الحارث د عباس بن عبدالمطلب ښځه او د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما مور) شام ته معاویه بن أبو سفیان (رضی الله عنهما) ته ولېږلم، أم الفضل د کوم حاجت لپاره چې زه لیږلی وم، هغه حاجت مي ورپوره کړ(د دې پیغام مي معاویه صاحب ته ورسول ) او په داسې حال کې چې زه په شام کې وم، د رمضان میاشت را باندې ظاهره کړل شوه، پس نو د جمعې په شپه د رمضان میاشت مونږ ولیدله، او بیا د رمضان د میاشتې په وروستیو کې مدینې منورې ته راغلم، بیا له ما څخه عبدالله بن عباس د خپلي مور د اړتیا په اړه پوښته وکړه، او وروسته ابن عباس د میاشتې په اړه خبره یاده کړه، او ماته یې وویل: تاسو د رمضان میاشت څه وخت ولیدله، ما ورته وویل: مونږ د جمعې په شپه ولیدله، او ابن عباس ما ته وویل: ایا تا خپله میاشت ولیدله؟ ما ورته وویل: هو، ما او خلکو میاشت ولیدله، خلکو او معاویه صاحب روژه ونیوله، ابن عباس وویل: مگر مونږ د شنبې په شپه میاشت ولیدله، ابن عباس وویل: تر هغه پوري به زمونږ روژه وي، تر څو چې د میاشتې دېرشم پوره نه کړو، او یا پخپله میاشت ونه وینو، کریب وایي: ایا د معاویه په لیدلو او د هغه په روژه باندې کفایت نه کوې، او یا اکتفا نه کوئ، ابن عباس وویل: نه، د أهل الشام په رؤیت او په روژه نیولو باندې کفایت نه کوو، همداسې شان مونږ ته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) امر کړ دی.

**له حدیث څخه استدلال:** عبدالله بن عباس[2] (رضی الله عنهما) د أهل الشام په رؤیت باندې یې عمل ونه کړ، او په اخېر کې یې داسې وویل: هکذا أمرنا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او دا د دو خبره په دې باندې دلالت کوي چې ابن عباس له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه دا خبره یاده کړي ده چې د یو هیواد په رؤیت باندې پر بل هیواد روژه او یا اختر کول لازم نه دی.[3]

---

[1] نوم: الإمام، الحجة أبو رِشدین کریب بن أبي مسلم القرشي الهاشمي، مشهور تابعي دی، په مدینه منوره کې اوسېدل، او په کال ۹۸ هـ وفات شوی دی. مصدر: سیر الأعلام النبلاء، تألیف: الذهبي ۴/ ۴۷۹ ـ ۴۸۰ .

[2] نوم: حَبْرُ الأُمَّةِ، وَفَقِيْهُ العَصْرِ، وَإِمَامُ التَّفْسِيْرِ ـأبي العباس عبدالله بن العباس بن عبدالمطلب القرشي الهاشمي، ۳ کاله مخکې له هجرت څخه په مکه مکرمه کې زېږېدلی دی، په حَبرالأمة، تَرجمان القرآن، مفسر، محدث او فقیه به نومول کېدل، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د کاکا زوی وو، او په کال ۸۰ هـ کې وفات شوی وی. مصدر: سیر الأعلام النبلاء، للذهبي ۳/ ۳۳۱ ـ ۳۵۹ .

[3] نیل الأوطار تألیف: الشوکاني ۴/۲۳۰

## ب: دویم دلیل قیاس

د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف د لمر د مطالعو پر اختلاف باندې قیاس کوي.[1] یعني لکه څرنگه چې د لمانځه وختونه شرعاً د هر ځای لپاره جلا جلا اعتبار لري، او پرې اجماع شوي دی، همدا شان د سپوږمۍ مطالع هم په هر ځای کې جلا اعتبار لري.

## دویم مطلب: د دویم قول د اصحابو اقوال او دلایل

که د دوو هیوادونو او یا ځایونو تر منځ مسافه نژدې وي، نو د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، لکه د بغداد او کوفې تر منځ فاصله، او که مسافه بعیده وي، بیا د مطالعو اختلاف اعتبار لري، لکه د سعودي عربستان او د عراق تر منځ فاصله، یعني د دوی په اند که د هیوادونو تر منځ فاصله لږ وي، نو که په یو هیواد کې میاشت ولیدل شي، د بل هیواد په اوسېدونکو روژه او اختر کول د شرعي ثبوت په وخت کې لازمیږي، او که مسافه ډېره وي، بیا د بل هیواد د میاشتې لیدل د دوی لپاره کافي نه دي، بلکې خپله به یې ویني. دا رأیه په شافعي مذهب کې أصحه رأیه ده، او له احنافو څخه د علامه کاساني (رحمه الله) هم دا رأیه ده.

**په نهایة المحتاج کې راځي: «وَإِذَا رُئِيَ بِبَلَدٍ لَزِمَ حُكْمُهُ الْبَلَدَ الْقَرِيبَ دُونَ الْبَعِيدِ فِي الْأَصَحِّ...»**[2] ژباړه: کله چې په یو هیواد کې میاشت ولیدل شي، نو په نژدې هیواد کې یې حکم لازمیږي، البته د أصح قول مطابق په لرې هیواد کې یې حکم نه لازمیږي. په یاد متن کې صراحةً یادونه وشوه، که د دو هیوادونو تر منځ فاصله نژدې وه، نو بیا د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، او که یاده مسافه بعیده وي بیا د مطالعو اختلاف اعتبار لري.

[1] الفقه الإسلامي تأليف: دوكتور الزحيلي ٣/ ١٦٦١ ، او نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج تأليف: شمس الدين الرملي المصري ويقال له الشافعي الصغير (ت ١٠٠٤ هـ) چاپونکي اداره: دارالفکر-بیروت، د چاپ کال: ١۴٠۴ هـ - ١۵۵/٣.

[2] نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج تأليف: شمس الدين الرملي المصري ويقال له الشافعي الصغير (ت ١٠٠٤ هـ) چاپونکي اداره: دارالفکر-بیروت، د چاپ کال: ١۴٠۴ هـ - ١۵۵/٣.

**امام نووي (رحمه الله) په خپل کتاب (المجموع) کې وايي:**

**«إِذَا رَأَوْا الْهِلَالَ فِي رَمَضَانَ فِي بَلَدٍ وَلَمْ يَرَوْهُ فِي غَيْرِهِ فَإِنْ تَقَارَبَ البلدان فحكمهما حكم بَلَدٌ وَاحِدٌ وَيَلْزَمُ أَهْلُ الْبَلَدِ الْآخَرِ الصَّوْمُ بِلَا خِلَافٍ وَإِنْ تَبَاعَدَا فَوَجْهَانِ مَشْهُورَانِ فِي الطَّرِيقَتَيْنِ (أَصَحُّهُمَا) لَا يَجِبُ الصَّوْمُ عَلَى أَهْلِ البلد الأخرى.»**[1] ژباړه: کله چې د رمضان میاشت په یو هیواد کې خلک ويني، او په داسې حال کې په بل هیواد کې میاشت ونه ليدل شي، که چيري دا دوه هيوادونه د مسافې په لحاظ سره نژدې وو، نو د دوی حکم په رؤيت الهلال کې د یو هیواد په شان دی، او پرته له اختلاف څخه پر بل هیواد روژه لازميږي. او که د دو هیوادونو تر منځ فاصله لري وي، نو په دې کې دوه رأيي دي، خو صحيح ترينه رأيه دا ده چې په نورو هيوادونو باندې روژه نه واجبيږي. امام نووي(رحمه الله) هم د خپل مذهب د أصح روايت خبره وړاندې ياده کړه، هغه دا چې د مطالعو اختلاف د قرب البلاد په صورت کې اعتبار نه لري، او د بعد البلاد په صورت کې اعتبار لري.

**له احنافو څخه د امام کاساني (رحمه الله) رأيه:**

**« ولو صام أهل بلد ثلاثين يوما وصام أهل بلد آخر تسعة وعشرين يوما، فإن كان صوم أهل ذلك البلد برؤية الهلال وثبت ذلك عند قاضيهم، أو عدوا شعبان ثلاثين يوما، ثم صاموا رمضان فعلى أهل البلد الآخر قضاء يوم، لأنهم أفطروا يوما من رمضان، لثبوت الرمضانية برؤية أهل ذلك البلد، إذا كانت المسافة بين البلدين قريبة لا تختلف فيها المطالع، فأما إذا كانت بعيدة فلا يلزم أحد البلدين حكم الآخر لأن مطالع البلاد عند المسافة الفاحشة تختلف فيعتبر في أهل كل بلد مطالع بلدهم دون البلد الآخر.»**[2] ژباړه: او که د يوه هیواد خلک دېرش ورځې روژه ونيسيري، او د بل هیواد خلک نوويشت ورځې روژه ونيسيري، نو که د لومړي هيواد روژه د میاشتې په ليدلو سره وي، او د دوی رؤيت له قاضي سره ثابت شي، او يا د شعبان

---

[1] المجموع شرح المهذب تأليف: النووي الشافعي. چاپونکي اداره: دار الفكر ٢٧٣/٦.

[2] بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع تأليف: علاءالدين أبو بكر بن مسعود الكاساني الحنفي، الملقب بـ(ملك العلماء) (ت ٥٨٧ هـ) نشرونكي اداره: دار الكتب العلمية، دويم چاپ، د چاپ كال: ١٤٠٦ هـ ـ ٨٣/٢ .

د میاشتې دېرشم پوره کړي، بیا د رمضان د میاشتې روژه ونیسیږي، نو په دې وخت کې په هغه بل هیواد چې نوویشت ورځي یې روژه نیولي ده، د یوې ورځې قضاء وربانديې فرض دی، ځکه هغوی له رمضان څخه یوه ورځ روژه ماته کړه، او حال دا چې د هغه بل هیواد په رؤیت باندې د رمضان میاشت ثابته وه، او دا حکم هغه وخت دی کله چې د دو هیوادونو تر منځ مسافه نژدې وي، او مطالع هلته تغیر نه کوي، او که مسافه د دو هیوادونو تر منځ بعیده وي، نو د دوو هیوادونو څخه د یو هیواد حکم پر بل هیواد نه لازمیږي، ځکه د هیوادونو مطالع په ډېره لري مسافې کې تغیر کوي، نو د هر هیواد د خلکو مطالع د خپل هیواد لپاره معتبر دي، د بل هیواد مطالع ورته معتبر نه دي. علامه کاساني (رحمه الله) هم د امام شافعي (رحمه الله) په توګه مسافې ته اعتبار ورکړی دی، په حنفي فقه کې د کاساني صاحب دا رأیه ده، دوی هم د لومړي قول د اصحابو په شان د کریب له حدیث او له هغه قیاس څخه استدلال کوي، بناء د حدیث شریف او قیاس له تکرار څخه ډډه کوو، البته له حدیث څخه یې د استدلال طریقه مختلفه ده، نو هغه ذکر کیږي.

**له حدیث څخه استدلال:** د کریب د حدیث ظاهر داسې دی چې ابن عباس (رضی الله عنهما) د کریب خبره د دې په خاطر رد نه کړه چې دا شاهدي ده، او شاهدي په واحد نه ثابتیږي، بلکې په دې خاطر یې رد کړه چې د میاشتې د لیدلو حکم د بعیدو په حق کې نه ثابتیږي.[1]

## دریم مطلب: د لومړي او دویم قول د اصحابو د دلایلو مناقشه

په دې مطلب کې به د لومړي او دویم قول د اصحابو د دلایلو مناقشه کیږي، ځکه د هغوی دلایل یو شان وو، بناء مناقشه یې هم یو ځای کیږي.

[1] المنهاج شرح صحیح مسلم تألیف: الإمام النووي الشافعي ٧/ ١٩٧، چاپونکي اداره: دار إحياء التراث العربي ـ بیروت، دویم چاپ، د چاپ کال: ١٣٩٢ هـ (بَابُ بَيَانِ أَنَّ لِكُلِّ بَلَدٍ رُؤْيَتَهُمْ).

## الف: حديث

هغوی د کريب له حديث څخه داسې استدلال کول، چې عبدالله بن عباس (رضی الله عنهما) د أهل الشام په رؤيت باندې عمل ونه کړ، او په اخېر کې يې داسې وويل: هكذا أمرنا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) او دا د دو خبره په دې دلالت کوي چې ابن عباس له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه دا خبره ياده کړې ده، چې د يو ځای په رؤيت باندې پر بل ځای روژه او يا اختر کول لازم نه دی.[١] او د کريب د حديث ظاهر داسې دی چې ابن عباس (رضی الله عنهما) د کريب خبره د دې په خاطر رد نه کړه چې دا شاهدي ده، او شاهدې په واحد نه ثابتيږي، بلکې په دې خاطر يې رد کړه چې د مياشتې د ليدلو حکم د بعيدو په حق کې نه ثابتيږي.[٢] د کريب له حديث څخه د وړاندې په شان استدلال کول علماوو درست نه دی ګڼلی او وايي:

**« وَاعْلَمْ أَنَّ الْحُجَّةَ إنَّمَا هِيَ فِي الْمَرْفُوعِ مِنْ رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ لَا فِي اجْتِهَادِهِ الَّذِي فَهِمَ عَنْهُ النَّاسُ وَالْمُشَارُ إلَيْهِ بِقَوْلِهِ: " هَكَذَا أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " هُوَ قَوْلُهُ: فَلَا نَزَالُ نَصُومُ حَتَّى نُكْمِلَ ثَلَاثِينَ، وَالْأَمْرُ الْكَائِنُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - هُوَ مَا أَخْرَجَهُ الشَّيْخَانِ وَغَيْرُهُمَا بِلَفْظِ «لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوْا الْهِلَالَ، وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ ثَلَاثِين ... وَ هذا لا يختص بأهل ناحية على جهة الِانْفِرَادِ بَلْ هُوَ خِطَابٌ لِكُلِّ مَنْ يَصْلُحُ لَهُ مِنْ الْمُسْلِمِينَ فَالِاسْتِدْلَالُ بِهِ على لُزُومِ رُؤْيَةِ أَهْلِ بَلَدٍ لِغَيْرِهِمْ مِنْ أَهْلِ الْبِلَادِ أَظْهَرُ مِنْ الِاسْتِدْلَالِ بِهِ عَلَى عَدَمِ اللُّزُومِ لِأَنَّهُ إذَا رَآهُ أَهْلُ بَلَدٍ فَقَدْ رَآهُ الْمُسْلِمُونَ فَيَلْزَمُ غَيْرَهُمْ مَا لَزِمَهُمْ ... وَعَدَمُ عَمَلِ ابْنِ عَبَّاسٍ بِرُؤْيَةِ أَهْلِ الشَّامِ مَعَ عَدَمِ الْبُعْدِ الَّذِي يُمْكِنُ مَعَهُ الِاخْتِلَافُ فِي عَمَلٍ بِالِاجْتِهَادِ وَلَيْسَ بِحُجَّةٍ... وَلَمْ يَأْتِ ابْنُ عَبَّاسٍ بِلَفْظِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَلَا بِمَعْنَى لَفْظِه ... إنَّمَا جَاءَنَا بِصِيغَةٍ مُجْمَلَةٍ أَشَارَ بِهَا إلَى قِصَّةٍ هِيَ عَدَمُ عَمَلِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ بِرُؤْيَةِ أَهْلِ الشَّامِ ... وَلَمْ نَفْهَمْ مِنْهُ زِيَادَةٌ عَلَى ذَلِكَ ... فَيَنْبَغِي الِاقْتِصَارُ عَلَى الْمَفْهُومِ »**[٣]

[١] نيل الأوطا تأليف: الشوكاني ۴/ ۲۳۰

[٢] المنهاج شرح صحيح مسلم تأليف: الإمام النووي الشافعي ۷/ ۱۹۷، چاپونکي اداره: دار إحياء التراث العربي ـ بيروت، دويم چاپ، د چاپ کال: ۱۳۹۲ هـ (بَابُ بَيَانِ أَنَّ لِكُلِّ بَلَدٍ رُؤْيَتَهُمْ).

[٣] نيل الأوطار تأليف: الشوكاني ۴/ ۲۳۰ ـ ۲۳۱ (بَابُ الْهِلَالِ إذَا رَآهُ أَهْلُ بَلْدَةٍ هَلْ يَلْزَمُ بَقِيَّةَ الْبِلَادِ الصَّوْمُ)

ژباړه: په دې خبره پوه شه چې د ابن عباس (رضي الله عنه) هغه اجتهاد چې خلک ځيني پوه شوي دي، دليل نه دی، بلکې د دو مرفوع روايت دليل ګڼل کيږي، او د ابن عباس (رضى الله عنهما) په دې قول "هكذا أمرنا رسول الله...کې اشاره هغه د ابن عباس مخکينی خبري ته ده ( **فلا نزال نصوم حتى نكمل ثلاثين...**) او دا خبره خو له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه ثابته ده. لکه څرنګه چې بخاري او مسلم او داسې نورو روايت کړی دی، چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي: (**لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوْا الْهِلَالَ، وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ ثَلَاثِين.**)[1] او دا حديث (**لا تصوموا حتى تروا الهلال...**) د يوې ناحيې تر خلکو پوري ځانګړی نه دی، بلکي دغه حديث د مسلمانانو له ډلي څخه د هر هغه چا لپاره خطاب دی، چې مکلف، او وړ وي، نو له دې حديث څخه داسې استدلال کول چې د يو ښار د خلکو ليدل پر نورو لازميږي ډېر ظاهر دی، تر دې چې لازم نه شي، ځکه که د يو ښار خلکو مياشت وليدله، نو په حقيقت کې ټولو مسلمانانو مياشت ليدلې ده، نو پر نورو هم هغه څه لازم دي چې پر هغوی لازم شول، او د شام د خلکو له رؤيت سره د ابن عباس (رضي الله عنه) عمل نه کول سره د دې چې فاصله هم دومره لرې نه وه چې د مطالعو د اختلاف تغير ورسره امکان ولري، دا عدم عمل په اجتهاد او رأيه سره دی، بناء حجت نه دی، او ابن عباس خو دلته نه د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم) د حديث الفاظ ذکر کړي، او نه يې د حديث معنى ذكر کړي، بلکې يوازي يې يوه مجمله صيغه ياده کړي ده، چې له مخې يې يوې قصې ته اشاره کوله، او هغه دا وه چې مونږ د شام د خلکو په ليدلو عمل نه کوو، او له هغه څخه پرته نور څه مونږ ته نه دي څرګند شوي، نو واجب دی چې د حديث په مفهوم باندې اقتصار وشي. او که دا خبره ورسره ومنل شي چې په رؤيت الهلال کې يې د امام خبره راوړه ده، او د امام خبره خو موجب د عمل وي، نو بيا کريب يو وو، او د اختر د مياشتې په ثبوت کې د يوه قول نه قبليږي.[2] او په فتاوی فريديه کې وايي: « **وبالجملة أن هذا واقعة الحال**

---

[1] موطأ الإمام مالك ، مالک بن أنس بن مالک بن عامر الأصبحي المدني ( ت ١٧٩ هـ ) تحقيق: محمد فؤاد عبدالباقي، چاپونکي اداره: دار إحياء التراث العربي ـ بيروت، د چاپ کال: ش١٤٠٦ هـ. ١/ ٢٨٧، حديث نمبر ٣ .
[2] فتح القدير، تأليف: ابن الهمام ٢/ ٣١٤ .

**ولم ينكشف إجماله فلا يمكن الاستدلال به**»[1] ژباړه: په تړوله کې دا پېښه واقعة الحال دی، او اجمال (ابهام) یې نه دی روښانه شوی، بناء استدلال ځیني کول ممکن نه دی.

**ب: قياس**

د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف د لمر د مطالعو پر اختلاف باندې قیاس کوي.[2] یعني لکه څرنګه چې د لمانځه وختونه شرعاً د هر ځای لپاره جلا جلا اعتبار لري، او پرې اجماع شوي ده، همدا شان د سپوږمۍ مطالع هم د هر ځای لپاره جلا اعتبار لري.

**د قیاس ځواب علماوو په لاندې توګه کړی دی:**

د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف د مطالع الشمس په اختلاف قیاس کول دا قیاس مع الفارق دی، بناء دلیل نشي کېدلای، ځکه د روژې په هکله د شارع خطاب عام دی، او تر مطلق رؤیت پوري تعلق نیسي، په فتح القدیر کې راځي: (د لمانځه په هکله داسې عام خطاب نه دی ثابت چې تر مطلق غروب او زوال پوري تړاو ورکړ شوی وي.)[3] د مطالع الشمس اختلاف ته چې د لمانځه په وختونو کې اعتبار ورکول کیږي، دا ځکه چې مشقت او حرج پر مسلمانانو واقع نه شي، او د مطالع القمر اختلاف ته په روژه او عیدالفطر کې د نه اعتبار ورکولو په صورت کې پر مسلمانانو کومه ستونزه او مشقت نه را منځته کیږي، ځکه روژه او اختر په کال کې یوځلي وي، او لمانځونه خو په شپه او ورځ کې پنځه ځلي وي. لکه څرنګه چې علامه شامي[4] (رحمه الله) وایي: «**ولو تعلق عموم الخطاب بمطلق مسمى الأوقات لزم الحرج العظيم لتكرارها كل يوم بخلاف الهلال**

---

[1] فتاوی فریدیه تألیف: فقیه العصر مفتي محمد فرید ۴/ ۹۲ خپرونکي اداره: (مکتبة رشیدیة) ـ باکستان.

[2] الفقه الإسلامي تألیف: دوکتور الزحیلي ۳/ ۱۶۶۱

[3] فتح القدیر تألیف: محمد بن عبدالواحد کمال الدین، المعروف بابن الهمام (ت ۸۶۱ هـ) چاچونکي اداره: دارالفکر ـ ۲/ ۳۱۴.

[4] نوم: محمد أمین بن عمر بن عبدالعزیز الدمشقي الحنفي، المعروف بابن عابدین ، په کال ۱۱۹۸ هـ د سوریې په پایتخت (دمشق) کې زیږېدلی دی، لوی فقیه او خاتم المحققین وو، ډېر کتابونه یې لیکلي دي، یو شمېر یې په لاندې توګه دي: (ردالمحتار على الدرالمختار) (العقود الدرية في تنقيح الفتاوى الحامدية)(مجموعة رسائل ابن عابدین) او داسې نور... او په کال ۱۲۵۲ هـ په دمشق کې وفات شوی دی، او په (الباب الصغیر) مقبره په دمشق کې دفن شوی دی. مصدر: الأعلام، تألیف: خیر الدین بن محمود الزرکلي الدمشقي ۶/ ۴۲.

**فإنه في السنة مرة.**»[1] ژباړه: لکه څرنګه چې په روژه کې خطاب عام او تر مطلق رؤیت پوري تعلق ورکړ شوی دی، همداسې شان که د لمانځه په اړه وای، نو لوی مشقت او سختي به رامنځ ته شوي وه، ځکه د لمانځونو تکرار هره ورځ وي، او په داسې حال کې چې روژه په کال کې یو ځلي وي.

## څلورم مطلب: د مطالعو د اختلاف مسافه

په دې مطلب کې به په دې اړه څېړنه وشي، چې په څومره اندازه کې د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف تغیر کوي؟ مخکې یادونه وشوه چې د دویم قول د اصحابو دا رأیه ده، که د دوو هیوادونو تر منځ مسافه نژدې وي، نو د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، او که مسافه بعیده وي، بیا د مطالعو اختلاف اعتبار لري. نو دلته به إن شاءالله دا څرګند شي چې د شوافعو په وړاندې د سپوږمۍ د مطالعو د اختلاف مسافه څومره اندازه ده؟ په یاد مطلب کې یوازې د شافعي مذهب اقوال راخستل کیږي، ځکه دوی د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف ته د اعتبار او عدم اعتبار خبري ته تر مسافې پوري تعلق او تړاو ورکړی دی، او بل خوا د لومړي او دریم قول د اصحابو رأیي د مطالعو د اختلاف د اعتبار او عدم اعتبار په اړه مطلقاً ذکر شوي دي، بناء د دوی په مذهب کې د اختلاف المطالع په اړه د مسافې اندازې ته نه کتل کیږي، که څه هم په یادو مذاهبو کې د مسافې اندازه ذکر شوي ده.

### په روضة الطالبین کې وایي:

**«أَنَّ التَّبَاعُدَ: أَنْ تَخْتَلِفَ الْمَطَالِعُ، كَالْحِجَازِ، وَالْعِرَاقِ، وَالتَّقَارُبُ: أَنْ لَا تَخْتَلِفَ، كَبَغْدَادَ، وَالْكُوفَةِ قُلْتُ: الْأَصَحُّ: هُوَ الْأَوَّلُ**»[2] ژباړه: بعیده مسافه هغه ده چې د سپوږمۍ مطالعې پکې تغیر کوي، لکه د حجاز او عراق تر منځ فاصله، او قریبه مسافه هغه ده چې د سپوږمۍ مطالعې پکې تغیر نه کوي، لکه د بغداد او کوفې تر منځ فاصله، د مسافې په اړه په شافعي مذهب کې درې اقوال شتون لري، خو کوم قول چې صحیح او راجح دی هغه لومړی قول دی، نو په دې خاطر امام نووي (رحمه الله) هم وایي: هغه اول قول اصح دی.

---

[1] مجموعة رسائل ابن عابدين تأليف: للعلامة المحقق والفهامة المدقق، السيد محمد أمين، الشهير بابن عابدين ۱/ ۲۵۲ ، چاپونکي اداره: عالم الکتب ، في رسالته (تنبيه الغافل والوَسنان على أحكام هلال رمضان، الفصل الرابع).

[2] روضة الطالبين و عمدة المفتين تأليف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف المعروف بالنووي ۲/ ۳۴۸

په شافعي مذهب کې چې د مسافې په اړه یادونه شوي ده، له هغې څخه موخه امام نووي (رحمه الله) وړاندې څرګنده او ښکاره کړه، نو د دوی په مذهب کې د اصح روایت پر اساس بعیده مسافه هغه ده چې د سپوږمۍ مطالع پکې تغیر کوي، او قریبه مسافه هغه ده چې د سپوږمۍ مطالع پکې تغیر نه کوي.

**او په نهایة المحتاج کې وایي:**

«**الْبَعِيدُ بِاخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ. قُلْت: هَذَا أَصَحُّ، وَاَللَّهُ أَعْلَمُ**»[1] ژباړه: بعیده او لرې مسافه تر اختلاف المطالع پورې تړاو لري، زه وایم: چې دا خبره اصحه ده، والله أعلم. امام رملي (رحمه الله) دا څرګند کړل چې بعیده مسافه د مطالعو تر اختلاف پورې تعلق لري، او قریبه مسافه د مطالعو تر نه اختلاف پورې تړاو لري، یعني کله چې په یوه هیواد کې میاشت ولیدل شي، او په بل هیواد هم په هماغه وخت یا نژدې وخت کې ولیدل شي، یا په یوه شپه کې په دوو او یا له دوو زیاتو هیوادونو کې د سپوږمۍ رؤیت وشي، او په یادو شوو هیوادونو کې په اسمان کې کوم علت هم موجود نه وي، نو دا ددغو هیوادونو تر منځ د فاصلې په نژدېوالي باندې دلالت کوي، او که خبره بر عکس وي، نو د فاصلې پر لرېوالي دلالت کوي، نو دا ثابت شو چې د بُعد او قُرب معیار یوه شپه او یوه ورځ دی، څکه میاشت کله نه ویشت وي، او کله بیا دېرش وي، اته ویشت او یا یو دېرش نه راځي، او که یاده فاصله په کیلومتر باندې وټاکل شي، نو اساس به یې تخمین او یا اټکل وي، بناء دلیل نشي کېدلای.

**پنځم مطلب: د دریم قول د اصحابو اقوال او دلایل**

د مطالعو اختلادف د روژې او د عید الفطر د میاشتو په اثبات کې اعتبار نه لري، دا د جمهورو علماوو قول دی. لکه د احنافو ظاهر روایت، مالکیانو، حنابله وو، او یو قول د شوافعو دی، خو اصح قول د شوافعو دا دی

[1] نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج تأليف: شمس الدين محمد بن أبي العباس الرملي الشافعي ٣/ ١٥٦

که مسافه د هیوادونو ترمنځ نږدې وه، نو اعتبار نه لري، او که لرې وه، بیا اعتبار لري، لکه څرنګه چې یې وړاندې یادونه وشوه. د تفصیل بعد الإجمال تر قاعدې لاندې د مذاهبو رأیې په تفصیل سره بیانیږي:

**الف: لومړی د احنافو رأیه**

په احنافو کې د اکثرو علماوو دا رأیه ده چې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، دا قول مفتی به، او ظاهر روایت دی.

**په الدرالمختار کې راځي:**

**«وَاخْتِلَافُ الْمَطَالِعِ» ... «غَيْرُ مُعْتَبَرٍ عَلَى» ظَاهِرِ «الْمَذْهَبِ» وَعَلَيْهِ أَكْثَرُ الْمَشَايِخِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى...«فَيَلْزَمُ أَهْلَ الْمَشْرِقِ بِرُؤْيَةِ أَهْلِ الْمَغْرِبِ» إذَا ثَبَتَ عِنْدَهُمْ رُؤْيَةُ أُولَئِكَ بِطَرِيقٍ مُوجِبٍ.**[1] ژباړه: د مطالعو اختلاف په ظاهر مذهب کې اعتبار نه لري، او اکثر مشایخ په همدې رأیه دي، او پر دې قول باندې فتوی دی. د اهل مغرب خلک چې میاشت ویني، نو د اهل مشرق پر خلکو باندې د روژې نیول لازم دی، البته کله چې له اهل مغرب سره د میاشتې لیدل په موجبه طریقه( هغه طریقه چې د روژې واجبوونکي او ثابتوونکي وي) ثابت شي. او د موجبې طریقې تفصیل به وروسته إن شاء الله راشي.

**او علامه شامي (رحمه الله) وايي:**

**«وَلَا عِبْرَةَ بِاخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ فَيَلْزَمُ بِرُؤْيَةِ أَهْلِ الْمَغْرِبِ أَهْلَ الْمَشْرِقِ؛ وَإِذَا ثَبَتَ فِي مِصْرٍ لَزِمَ سَائِرَ النَّاسِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ»**.[2] ژباړه: د مطالعو اختلاف معتبر نه دی، د اهل مغرب خلک چې میاشت ویني، نو د اهل مشرق پر خلکو باندې د روژې نیول لازم دی، او کله چې په یو ښار کې د میاشت لیدل ثابت شي، نو پر باقي خلکو باندې په ظاهر روایت کې د روژې نیول لازمیږي. او په بل ځای کې وايي: «**لکن المعتمد الراجح**

---

[1] تنویرالأبصار مع الدرالمختار تألیف: محمد بن عبدالله التمرتاشي والحصفکي ۲/ ۳۹۳.

[2] رد المحتار تألیف: ابن عابدین ۶۱۹/۲ کتاب الحج (باب الهدي).

**عندنا أنه لا اعتبار به وهو ظاهرالرواية وعليه المتون كالكنز وغيره...»**[1] ژباړه: ليکن معتمد او راجح قول زمونږ په وړاندې دا دی، چې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، دا ظاهر روايت دی، او د متونو خبره ده لکه کنز او داسې نور.

**په کنزالدقائق راځي:**

**«وَلَا عِبْرَةَ بِاخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ»**[2] **وَقِيلَ يُعْتَبَرُ... وَأَكْثَرُ الْمَشَايِخِ عَلَى أَنَّهُ لَا يُعْتَبَرُ.»**[3] ژباړه: د مطالعو اختلاف ته اعتبار نشته، اوځيني علماء اعتبار ورکوي، البته د ډېرو مشايخو دا رأيه ده چې اختلاف المطالع اعتبار نه لري.

**په الاختيار لتعليل المختار کې راځي:**

**« فَإِذَا ثَبَتَ فِي بَلَدٍ لَزِمَ جَمِيعَ النَّاسِ، وَلَا اعْتِبَارَ بِاخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ»**[4] ژباړه: کله چې په يو هيواد کې د مياشتې ليدل ثابت شي، نو پر ټولو خلکو روژه نيول لازم دی، او د مطالعو اختلاف ته اعتبار نشته.

**په فتح القدير کې راځي:**

**«وَإِذَا ثَبَتَ فِي مِصْرَ لَزِمَ سَائِرَ النَّاسِ فَيَلْزَمُ أَهْلَ الْمَشْرِقِ بِرُؤْيَةِ أَهْلِ الْمَغْرِبِ فِي ظَاهِرِ الْمَذْهَبِ... وَالْأَخْذُ بِظَاهِرِ الرِّوَايَةِ أَحْوَط.»**[5] ژباړه: کله چې په يو ښار کې د مياشتې ليدل ثابت شي، نو په ټولو خلکو باندې د روژې نيول لازم دی، د اهل مغرب په ليدلو سره په اهل مشرق باندې په ظاهر مذهب کې روژه لازميږي، او د ظاهر روايت اخيستل، او عمل باندې کول احتياط تر دی.

---

[1] مجموعة رسائل ابن عابدين تأليف: علامه ابن عابدين ١/ ٢٥١ د رسالې نوم: ( تنبيه الغافل والوسنان على أحكام هلال رمضان ).

[2] كنزالدقائق تأليف: أبو البركات عبدالله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي (ت ٧١٠ هـ ) تحقيق: د. سائد بكداش، چاپونکي اداره: دار السراج، لومړی چاپ، د چاپ کال: ١٤٣٢ هـ ص ٢٢٠.

[3] تبيين الحقائق تأليف: الزيلعي ١/ ٣٢١.

[4] الاختيار لتعلبل المختار تأليف: أبو الفضل عبدالله بن محمود مجد الدين الحنفي (ت ٦٨٣ هـ ) چاپونکي اداره: مطبعة الحلبى ـ القاهرة، د چاپ كال: ١٣٥٦ هـ ١/ ١٢٩.

[5] فتح القدير تأليف: كمال الدين محمد بن عبدالواحد، الشهير بابن الهمام ٢/ ٣١٣ـ ٣١٤ .

**په مجمع الأنهر کې راځي:**

**«وَإِذَا ثَبَتَ فِي مَوْضِعٍ لَزِمَ جَمِيعَ النَّاسِ وَلَا اعْتِبَارَ بِاخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ حَتَّى قَالُوا لَوْ رَأَى أَهْلُ الْمَغْرِبِ هِلَالَ رَمَضَانَ يَجِبُ بِرُؤْيَتِهِمْ عَلَى أَهْلِ الْمَشْرِقِ إذَا ثَبَتَ عِنْدَهُمْ بِطَرِيقٍ مُوجِبٍ.»**[1] ژباړه: کله چې د میاشتې لیدل په یو ځای کې ثابت شي، نو په ټولو خلکو باندې د روژې نیول لازم دی، او د مطالعو اختلاف ته اعتبار نشته، حتی علماء وایي: که چیري د مغرب خلک د رمضان میاشت ویني، نو د دوی په لیدلو سره په اهل مشرق باندې روژه نیول واجب دی، البته که د مغرب له خلکو سره د میاشتې لیدل په موجبه طریقه ثابت شي.

**په بحرالرائق کې راځي:**

**« فَإِذَا رَآهُ أَهْلُ بَلْدَةٍ، وَلَمْ يَرَهُ أَهْلُ بَلْدَةٍ أُخْرَى وَجَبَ عَلَيْهِمْ أَنْ يَصُومُوا بِرُؤْيَةِ أُولَئِكَ إذَا ثَبَتَ عِنْدَهُمْ بِطَرِيقٍ مُوجِبٍ، وَيَلْزَمُ أَهْلَ الْمَشْرِقِ بِرُؤْيَةِ أَهْلِ الْمَغْرِبِ، وَقِيلَ: يُعْتَبَرُ فَلَا يَلْزَمُهُمْ بِرُؤْيَةِ غَيْرِهِمْ إذَا اخْتَلَفَ الْمَطْلِعُ، وَهُوَ الْأَشْبَهُ كَذَا فِي التَّبْيِينِ، وَالْأَوَّلُ ظَاهِرُ الرِّاوِيَةِ، وَهُوَ الْأَحْوَطُ كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ، وَهُوَ ظَاهِرُ الْمَذْهَبِ، وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ.»**[2] ژباړه: کله چې د یو هیواد خلک میاشت ویني، او په داسې حال کې د بل هیواد خلک میاشت ونه ویني، نو په نالیدلو باندې واجب دی چې د هغوی په رؤیت باندې روژه ونیسیږي، البته دا وجوب هغه وخت دی چې له هغوی سره میاشت په موجبه طریقه ثابت شي. او د مغرب په رؤیت باندې د مشرق پر خلکو روژه لازمیږي، او ځیني وایي: د مطالعو اختلاف اعتبار لري، نو کله چې مطلع مختلف وي د مشرق پر خلکو باندې د مغرب د خلکو رؤیت نه لازمیږي، دا قول أشبه دی. او لومړی قول چې اعتبار نه لري ظاهر روایت، أحوط، ظاهر مذهب، او فتوی ورباندې شوي ده.

---

[1] مجمع الأنهر في شرح ملتقي الأبحر تألیف: عبد الرحمن بن محمد، المدعو بشیخي زاده (ت ۱۰۷۸ هـ) چاپونکي اداره: دار إحیاء التراث العربي، ۲۳۹/۱.

[2] بحرالرائق شرح کنزالدقائق تألیف: زین الدین بن ابراهیم، الشهیر بابن نجیم المصري الحنفي (ت ۹۷۰ هـ) چاپونکي اداره: دار الکتب الإسلامي، ۲۹۰/۲.

**په مراقي الفلاح کې راځي:**

**«وإذا ثبت الهلال في بلدة و مطلع قطرها لزم سائر الناس في ظاهر المذهب وعليه الفتوى» وهو قول أكثرالمشايخ فيلزم قضاء يوم على أهل بلدة صاموا تسعة وعشرين يوماً لعموم الخطاب: «صوموا لرؤيته»**[1]
ژباړه: کله چې د میاشت رؤیت په شرعي توګه په یوه ښارګوټي، او یا یې د مطلعې په یو قطر کې ثابت شي، نو په ټولو باقي خلکو باندې د روژې نیول د ظاهر مذهب پر اساس لازم دی، او دا قول د زیاتره مشایخو دی، او پر دې قول باندې فتوی دی.

**او په الفقه الحنفي في ثوبه الجديد کې راځي:**

**« و إذا ثبت رؤية الهلال في بلدة لزم سائر المسلمين في كل أقطار الدنيا، وعليه الفتوى لعموم الخطاب في الحديث الشريف (صوموا لرؤيته...).**[2] ژباړه: او کله چې د میاشت لیدل په یوه ښارګوټي کې ثابت شي، نو د دنیا د ټولو قطرونو پر باقي مسلمانانو باندې یې حکم لازمیږي، او په همدې قول باندې فتوی ده، ځکه چې په دغه (**صوموا لرؤيته...**) حدیث شریف کې خطاب عام دی.

په حنفي فقه کې اکثرو فقهاوو په دې باندې صراحت کول چې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، او له معتمدوو او في المذهب مشهورو کتابونو څخه د دوی اقوال را واخیستل شو، اوس نو د دې لپاره چې دا څېړنه نوره هم غني شي، د حنفي مذهب له یو شمېر معتمدوو فتواګانو څخه هم په دې اړه اقوال را نقل کیږي.

**په فتاوی عالمګریه کې راځي:**

«**وَلَا عِبْرَةَ لِاخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ...**»[3] ژباړه: په ظاهر روایت کې د مطالعو اختلاف ته اعتبار نشته.

---

[1] مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح تألیف: حسن بن عمار بن علي الشرنبلالي المصري الحنفي (ت ۱۰۶۹ هـ) نشرونکي اداره: المكتبة العصرية، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۲۵ هـ ص ۲۴۳ ـ ۲۴۴.

[2] الفقه الحنفي في ثوبه الجديد تألیف: عبدالحميد محمود طهماز ۴۰۲/۱

[3] الفتاوی الهندية تألیف: لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخي في الهند، چاپونکي اداره: دار الفکر، دویم چاپ، د چاپ کال: ۱۳۱۰ هـ ۱۹۹/۱.

**په فتاوی قاضي خان کې راغلي دي:**

«**ولا عبرة لاختلاف المطالع في ظاهر الرواية... وقال بعضهم يعتبر اختلاف المطالع.**»[1] ژباړه: په ظاهر روايت کې د مطالعو اختلاف ته اعتبار نشته، او ځيني علماء وايي: چې اختلاف المطالع معتبر دی.

**په فتاوی تاتارخانيه کې راغلي دي:**

«**لاعبرة لاختلاف المطالع في ظاهر الرواية...**»[2] ژباړه: په ظاهر روايت کې د مطالعو اختلاف ته اعتبار نشته.

د اختلاف المطالع په اړه په حنفي فقه کې ټول روايتونه را نقل شو، او په حنفي مذهب کې د مطالعو اختلاف ته د ظاهر روايت پر اساس اعتبار نه دی ورکړ شوی، او د احنافو په ډېرو کتابونو کې پر همدې قول صراحتاً فتوی ورکړ شوي ده، لکه: الدرالمختار، بحرالرائق، مراقي الفلاح، الفقه الحنفي في ثوبه الجديد، مجموعة رسائل ابن عابدين، نو دې ته ترجيحِ صريحې وايي، او په معتمد متن کې هم په دې اړه صراحت وشو، لکه کنز، او د هر متن خبره (مفتی به) وي. لکه څرنګه چې علامه شامي (رحمه الله تعالی) وايي: « **المذهب الصحيح المفتى به الذي مشت عليه أصحاب المتون الموضوعة لنقل الصحيح من المذهب الذي هو ظاهر الرواية.**»[3] ژباړه: صحيح او مفتی به مذهب هغه دی چې د متونو اصحابو رانقل کړی وي، او دا متون د مذهب د صحيح او ظاهر روايتونو د نقل لپاره وضع شوی دي، نو دې ته ترجيحِ التزامي وايي، د جمهورو علماوو له ډلي څخه دويم د مالکي مذهب د علماوو اقوال او د هغوی مذهب بيانيږي، که څه هم د هغوی مذهب وړاندې په اجمالي توګه بيان شو، خو بيا هم د هغوی له کتابونو څخه عبارتونه راخيستل د څېړنې پياوړتيا ډېره وي.

---

[1] فتاوی قاضيخان في مذهب الإمام الأعظم أبي حنيفة النعمان تأليف: الإمام فخرالدين الحسن بن منصور، المعروف بقاضيخان (ت ٥٩٢ هـ) تحقيق: سالم مصطفى البدري، چاپونکي اداره: دار الکتب العلمية ـ بيروت، لومړی چاپ، د چاپ کال: ٢٠٠٩ م ١/ ١٧٦ .

[2] فتاوی تاتارخانيه تأليف: شيخ فريد الدين عالم بن العلاء الدهلوي الهندي، ٣/ ٣٦٥ کتاب الصوم، چاپونکي اداره: (مکتبة رشيدية).

[3] شرح عقود رسم المفتي تأليف: ابن عابدين ص ٥٩

## ب: دویمه د مالکیانو رأیه

د امام مالک (رحمه الله تعالی) په مذهب کې د مطالعو اختلاف ته هم اعتبار نه ورکول کیږي، تفصیل یې په لاندې توګه دی:

**په مختصر الخلیل کې راغلي دي:**

**«وعم إن نقل بهما عنهما...»**[1] **د منح الجليل مؤلف د یاد متن شرحه داسې کوي: «وَعَمَّ» أَيْ: شَمِلَ وُجُوبُ الصَّوْمِ كُلَّ مَنْ نُقِلَتْ إلَيْهِ رُؤْيَةُ الْعَدْلَيْنِ أَوْ الْمُسْتَفِيضَةِ مِنْ أَهْلِ سَائِرِ الْبِلَادِ قَرِيبًا أَوْ بَعِيدًا...«إنْ نُقِلَ»«بِ» أَحَدِ «هِمَا» أَيْ: الْعَدْلَيْنِ وَالْمُسْتَفِيضَةِ «عَنْ» رُؤْيَةِ وَاحِدٍ مِنْ «هُمَا» أَيْ الْعَدْلَيْنِ وَالْمُسْتَفِيضَةِ.**[2] ژباړه: د روژې د واجبوالي حکم هر هغه چا ته شاملیږي، چې هغوی ته د دوو عادلانو رؤیت او یا مستفیضه (منتشره) خبره نقل کړل شي، او دا شمولیت د ټولو هیوادونو لپاره نژدې وي او که لرې وي یو شان دی، البته که چیرې د دغو دواړو (رؤية العدلين أو المستفيضة) په وسیله یو له دوی څخه د رؤیت خبره نقل کړل شي.

**مستفیضه خبره:** ( کله چې په یو ښار کې میاشت ولیدل شي، او له هغه ښار څخه په تواتر سره یو څو کسان د سپوږمۍ د لیدلو خبر راوړي، له استفاضې څخه عبارت دی.) د استفاضې په اړه به په راتلونکو مطالبو کې إن شاء الله پوره یادونه وشي. او په بل کتاب راغلي دي: « **وعم الخطاب بالصوم سائر البلاد...**»[3] ژباړه: او د روژې د نیولو خطاب ټولو هیوادونو ته شاملیږي.

---

[1] مختصر الخلیل تألیف: خلیل بن إسحاق المالکي المصري ( ۷۷۶ هـ ) المحقق: أحمد جاد، نشرونکي اداره: دارالحدیث ـ القاهرة ، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۲۶ هـ ص ۶۱ .

[2] منح الجلیل شرح مختصر الخلیل تألیف: أبو عبدالله محمد بن أحمد المالکي ( ت ۱۲۹۹ هـ ) نشرونکي اداره: دار الفکر ـ بیروت، د چاپ کال: ۱۴۰۹ هـ ۲/ ۱۱۱ .

[3] تحبیر المختصر شرح مختصر الخلیل تألیف: تاج الدین بهرام بن عبدالله الدمیري (ت ۸۰۳ هـ ) تحقیق: د. أحمد بن عبدالکریم نجیب، او د. حافظ بن عبدالرحمن خیر، چاپونکي اداره: مرکز نجیبویة، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۳۴ هـ ۱/ ۶۲۵ .

**او په مواهب الجلیل کې راځي :**

« **أَنَّ الْحُكْمَ بِثُبُوتِ رَمَضَانَ يَعُمُّ كُلُّ مَنْ نُقِلَ إِلَيْهِ إِذَا نُقِلَ... بِشَهَادَةِ عَدْلَيْنِ أَوْ نُقِلَ بِاسْتِفَاضَةٍ** » [1] ژباړه: د روژې د ثبوت په اړه چې کوم حکم دی، هر هغه چاته شاملیږي چې هغوی ته د رؤیت خبره نقل کړل شي، البته کله چې د دو عادلانو د شاهدۍ له ثبوت څخه وروسته، او یا په مستفیضه طریقه نقل کړل شي.

**او په بدایة المجتهد کې راغلي دي:**

« **إِذَا ثَبَتَ عِنْدَ أَهْلِ بَلَدٍ أَنَّ أَهْلَ بَلَدٍ آخَرَ رَأَوُا الْهِلَالَ، أَنَّ عَلَيْهِمْ قَضَاءَ ذَلِكَ الْيَوْمِ الَّذِي أَفْطَرُوهُ وَصَامَهُ غَيْرُهُمْ.** »[2] ژباړه: کله چې په یو هیواد کې دا خبره ثابته شي چې په فلان ښار کې د روژې میاشت لیدل شوې ده، او دوی له هغوی سره روژه ونه نیوله، نو پر دوی باندې د هغې خوړل شوي روژې قضاء راوړل لازم دی.

له وړاندې متن څخه دا خبره صراحتاً معلومه شوله چې د مطالعو اختلاف ته کوم اعتبار نه ورکول کیږي، په پورتني او دې ته ورته نورو کتابونو کې د امام مالک (رحمه الله تعالی) مذهب بیان شوی دی، او مونږ ته دا پایله په لاس راغله چې په یاد مذهب کې هم د مطالعو اختلاف ته کوم اعتبار نه ور کول کیږي، البته دا خبره ورسره ذکر شوله چې د رؤیت الهلال خبره به د دو عادلانو د شاهدې له ثبوت څخه وروسته، او بیا به په مستفیضه طریقه نقل کیږي. د جمهورو علماوو له ډلې څخه دریم مذهب د حنابله وو دی، د دوی د رأیې یادونه وړاندې په اجمالي توګه وشوله، خو دلته په تفصیلي توګه بیانیږي.

[1] مواهب الجليل شرح مختصر الخليل تأليف: شمس الدين أبو عبدالله محمد بن محمد، الحطاب ۳۸۴/۲
[2] بداية المجتهد ونهاية المقتصد تأليف: أبو الوليد محمد بن أحمد، المعروف بابن رشد ۵۰/۲

## ج: دريمه د حنابلو رأيه

د امام أحمد بن حنبل (رحمه الله) په مذهب کې د مطالعو اختلاف ته هم اعتبار نه دی ورکول شوی، د دوی په معتمد کتاب (مُغْنِي) کې ليکي دي: «**وإذا رَأَى الهِلالَ أَهْلُ بَلَدٍ، لَزِمَ جَمِيعَ البِلادِ الصَّوْمُ...**»[1] ژباړه: او کله چې د يو هيواد خلک د رمضان مياشت ويني، نو په ټولو اسلامي هيوادونو باندې د روژې نيول لازميږي.

**او په الإنصاف کې راغلي دي: «وإذا رأى الهِلالَ أَهْلُ بَلَدٍ، لَزِم النَّاسَ كُلَّهم الصَّوْمُ، لا خِلافَ فى لُزومِ الصَّوْمِ على مَن رآه، وأمَّا مَن لم يَرَه، إن كانتِ المَطالِعُ مُتَّفِقَةً، لَزِمَهم الصَّوْمُ أيضًا، وإن اخْتَلَفَتِ المَطالِعُ، فالصَّحيحُ مِنَ المذهبِ، لُزومُ الصَّوْمِ أيضًا...»**[2]

ژباړه: کله چې د يو هيواد اوسېدونکي د روژې مياشت ويني، نو په ټولو خلکو باندې د روژې نيول لازميږي، ځوک چې مياشت ويني، نو پر دو باندې د روژې په لازمېدلو کې د علماوو ترمنځ کوم اختلاف نه نشته، او ځوک چې مياشت نه ويني، که مطالع متفقي وي(قرب البلاد) وي، نو د روژې نيول هم ورباندې لازميږي، او که مطالع مختلفي وي( بعد البلاد) وي، نو د مذهب د صحيح روايت پر اساس د روژې نيول همدا شان لازمېږي. له وړاندې صراحتونو څخه دا څرګند شو چې د امام أحمد بن حنبل (رحمه الله تعالى) په مذهب کې د مطالعو اختلاف ته که مطالع متفقي، او که مختلفي وي، کوم اعتبار نه ورکول کيږي.

**امام بُهوتي (رحمه الله) وايي:**

**«وإذا رآه أهل بلد» أي متى ثبتت رؤيته ببلد «لزم الناس كلهم الصوم» لقوله - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «صوموا لرؤيته» وهو خطاب للأمة كافة».**[3] ژباړه: کله چې د يو هيواد خلک مياشت ويني، او يا هلته د

---

[1] المغني تأليف: ابن قدامه ۴/ ۳۲۸

[2] الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف تأليف: علاء الدين أبو الحسن على بن سليمان المَرداوي الحنبلي (ت ۸۸۵ هـ ) تحقيق: د. عبدالله بن عبدالمحسن التركي، چاپونکي اداره: هجر ـ مصر ، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۱۵ هـ ۷/ ۳۳۵ ـ ۳۳۶.

[3] الروض المربع شرح زاد المستقنع تأليف: أبو السعادات منصور بن يونس البُهوتي الحنبلي (ت ۱۰۵۱ هـ ) تحقيق: د. خالد بن علي المشيقح، چاپونکي اداره: دار الركائز ـ الكويت، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۴۳۸ هـ ص ۲۲۶ .

مياشتې رؤيت ثابت شې، نو به ټولو خلکو باندې د روژې نيول لازميږي، ځکه رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي: (**صوموا لرؤيته...**) دا خطاب د ټول امت لپاره عام دی.

د جمهورو علماوو رأيي په تفصيل سره ذکر شوې، له دوی څخه هر يو دا صراحت کول چې د مطالعو اختلاف ته اعتبار نه ورکول کيږې. او د جمهورو علماوو دليل په لاندې توګه دي:

**عن أَبِيَ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ غُبِّيَ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِينَ)**[1]

ژباړه: د رمضان د مياشتې په ليدلو سره روژه ونيسئ، او د شوال د مياشتي په ليدلو سره روژه وخورئ، او که پر تاسي باندې د وريځي له امله مياشت پټه کړل شوه (د رمضان د مياشتي په ليدلو مو قدرت پيدا نه کړ) نو پس د شعبان د مياشتې دېرشمه ورځ پوره کړئ، او بيا روژه د رمضان د مياشتې په اوله ورځ ونيسئ.

**له پورته حديث څخه دوی داسې استدلال کوي:** دا خطاب (**صوموا...**) په حديث کې عام دی، او په دې قول (**لرؤيته...**) کې تر مطلق رؤيت پوري تعلق نيسي، او د يو قوم په رؤيت باندې د رؤيت د نوم تصديق کيږې، نو هغه حکم چې تر مطلق رؤيت پوري تعلق نيسي، د حکم عموميت ثابتوي، پس نو واجبوالی عام کيږې.[2]

له وړاندې څرګندوالي څخه دا پايله مونږ ته په لاس راغله، د روژې په اړه چې کوم حکم دی، عام او تر مطلق رؤيت پوري تعلق ورکړ شوی دی، په هر ځای کې که د روژې او عيدالفطر مياشت په شرعي توګه وليدل شي(د سترګو ليدنه، د ليدونکو شمېر په نظر کې نيول، د سپوږمۍ د ليدلو وخت په نظر کې نيول) ، او ناليدلو او يا ناخبرو ته د رؤيت الهلال خبره له باوري سرچينې څخه راشي، او د دوی له لپاره غالب ګومان افاده کوي، نو عمل باندې کول لازم ګڼل شوی دی. والله أعلم.

---

[1] صحيح البخاري تأليف: محمد بن اسماعيل أبوعبدالله البخاري الجعفي ٣/ ٢٧ مکمل تخريج يې مخکې شوی دی.
[2] فتح القدير تأليف: ابن الهمام ٣١٤/٢

## شپږم مطلب: د اختلاف المطالع په اړه د معاصرو علماوو رأيي

په دې مطلب کې به د سپوږمۍ د مطالعو د اختلاف د عدم اعتبار په اړه د ځينو معاصرو علماوو نظريات را نقل کيږي.

**د دوکتور وهبة الزحيلي (رحمه الله) رأيه:**

«**وهذا الرأي (رأي الجمهور) هو الراجح لدي، ولأن إيجاب الصوم معلق بالرؤية.**»[1] ژباړه: او دا د جمهورو رأيه زما رأيه هم ده، او ما ته راجحه رأيه ده، ځکه د روژې واجبوالی د مياشت تر ليدلو پوري تړاو لري.

**د حکيم الأمة أشرف علي تهانوي[2] (رحمه الله) رأيه:**

د الدرالمختار د قول له يادولو څخه وروسته يې ويلي دي: (له دې څخه معلومه شوه چې مفتی به قول دا دې چې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري)[3] تهانوي (رحمه الله) په روښانه توګه صراحت وکړ چې د مطالعو اختلاف معتبر نه دی.

**د مفتي محمد کفايت الله دهلوي[4](رحمه الله) رأيه:** (د مطالعو اختلاف شرعاً اعتبار نه لري، او د احنافو په وړاندې همدا صحيحه، او محققه خبره ده.)[5]

---

[1] الفقه الإسلامي وأدلته تأليف: أ. د. وهبة بن مصطفى الزحيلي ٣/ ١٦٦٢

[2] نوم: أشرف علي بن عبدالحق التهانوي، المعروف بحكيم الأمة، په كال ١٢٨٠ هـ په (تهانه بهون) ښار كې زيږيدلی دی، او په كال ١٣٦٢ هـ كې په همدې ښار كې وفات شوی دی. مصدر: په ګوګل كې د (Wikipedia / ويكي پديا) په نامه صفحه ده.

[3] امداد الفتاوى تأليف: حكيم الأمة أشرف علي التهانوي ٢/ ١٤٧ د فتوى رقم ١٦٣، چاپونكي اداره: (مكتبة الحرم) كابل/ پيښور.

[4] نوم: مفتي كفايت الله بن عنايت الله بن فيض الله الحنفي الدهلوي، ولقب بمفتي ـ كفايت الله ـ په كال ١٢٦٢هـ كې زيږيدلی دی، او په كال ١٣٧٢ هـ كې وفات شوی دی. مصدر: په ګوګل كې د (Wikipedia / ويكي پديا) په نامه صفحه ده.

[5] كفاية المفتي تأليف: مفتي محمد كفايت الله الدهلوي ٤/ ٢٨٧ د فتوى رقم ٢٤٥ چاپونكي اداره: (مكتبة العلوم الدينية) ـ باكستان

**د شیخ الحدیث غلام رسول[1] (حفظه الله) رأیه:**

( له یادې څېړنې څخه وروسته مونږ دې پایلې ته رسیږو چې د حنفي فقهې د نصوصو په چوکاټ کې له شک څخه پرته هغه دویم قول چې ( د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري ) قوي او راحج قول دی.)[2]

**په فتاوی حقانیه کې راغلي دي:**

( د مطالعو د اختلاف په اړه د فقهاوو کرامو له اقوالو څخه داسې معلومیږي چې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، دا ظاهر مذهب دی، او پر دې قول باندې فتوی منقوله ده، بناء که چیري د شرعي قواعدو او ضوابطو پر اساس نالیدلو ته د سپوږمۍ د لیدلو خبره ورسیږي، نو په هر ځای کې د روژې نیول، او د اختر لمانځل په کار دي.) [3]

**په فتاوی رشیدیه کې راغلي دي:**

( په روژه او عیدالفطر کې د مطالعو د اختلاف هیڅ اعتبار نشته، البته له روژې او اختر څخه پرته اعتبار لري.)[4]

**د دارالعلوم دیوبند په فتاوی کې راغلي دي:**

( د صحیح او مختار مذهب موافق د مطالعو اختلاف په روژې او عید الفطر کې معتبر نه دی، د مغرب د خلکو په لیدلو د مشرق پر خلکو باندې د روژې او یا اختر حکم ثابتیږي، او کله چې معتبر، راجح، ظاهر الروایة، او مفتی به د مطالعو د اختلاف عدم اعتبار دی، نو بیا په دې اړه څېړنه او بحث د مقلدینو لپاره بې موقع دی، ځکه د محققینو ترجیح زمونږ لپاره کافي دلیل دی.)[5]

---

[1] نوم: شیخ غلام رسول الغزنوي بن شیخ محمد انور، د غزني ولایت او قره باغ ولسوالي دی، ډېرې لیکنې لري، د هغو له لېست څخه یو شمېر دا دی: ( تلخیص درس الترمذي، په دوه جُلده کې دی ) ( تحقیق المقال في رؤیة الهلال ) او داسې نور...

[2] تحقیق المقال في حکم رؤیة الهلال تألیف: شیخ الحدیث غلام رسول الغزنوي القره باغي ص ۲۳ چاپونکي اداره: (اسد دانش مطبعه) ـ کابل.

[3] فتاوی حقانیه تألیف: شیخ الحدیث مولانا عبدالحق ۳/ ۳۶۷ چاپونکي اداره: ( جدید کتب خانه ) ــ وزیرستان.

[4] فتاوی رشیدیه تألیف: مفتي رشید أحمد گنگوهي ۲/ ۹۵ چاپونکي اداره: ( تاج کتب خانه ) ــ کندهار.

[5] فتاوی دار العلوم دیوبند تألیف: شیخ و مفتي عزیزالرحمن العثماني ۶/ ۲۹۲ چاپونکي اداره: (مکتبة حبیبیة ) ـ کوټه.

د معاصرو علماوو له ډلي څخه د مثال په توګه د يو شمېر اقوال د اختلاف المطالع په هکله را انقل شول، په داسې حال کې چې په دې هکله ډېری معاصر علماء خپلي رأيي لري، او دا ښکارندوينه کوي چې د مطالعو اختلاف ته اعتبار نشته.

## اووم مطلب: د راجح قول بيان

د فقهاوو د رأيو، دلائلو، او مناقشې ته په کتلو سره د سپوړمۍ په شرعي طريقې د ثبوت په صورت کې اصولاً راجح او غوره قول چې ګڼل شوی دی، هغه دا دی چې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، که څه هم مقابل جانب د مطالعو اختلاف ته د خپلو دلايلو پر اساس اعتبار ورکوي. والله تعالى أعلم، وعلمه أتم. د جمهورو علماوو د رأيو د ترجيح لاملونه:

د دلائلو قوت، لکه څرنګه چې مفتي محمد تقي العثماني (حفظه الله) وايي: « **فالذي يظهر مما سبق أن مذهب الجمهور في عدم اعتبار اختلاف المطالع هو الأقوى دليلاً**»[1] له نص څخه د استدلال د طريقې دقت، د شارع د حکم عموميت، د شارع د خطاب تر مطلق رؤيت پوري تړاو، احتياطاً په ظاهر روايت باندې عمل کول. لکه څرنګه چې علامه کمال الدين (رحمه الله) چې وايي: «**الْأَخْذُ بِظَاهِرِ الرِّوَايَةِ أَحْوَطُ**»[2] او د جمهورو رأيه د متونو دی، په داسې حال کې چې متون اصولاً له شروحو څخه لومړيتوب لري، او شروح له فتاوی څخه اولويت لري. لکه څرنګه چې علامه ابن عابدين (رحمه الله تعالى) په رسم المفتي کې وايي: «**يقدم المتون ثم الشروح ثم الفتاوى... المذهب الصحيح المفتى به الذي مشت عليه أصحاب المتون الموضوعة لنقل الصحيح من المذهب الذي هو ظاهر الرواية.**»[3] او بيا وايي: « **إذا كان أحدهما ظاهر الرواية، فيقدم على الآخر...**»[4] او کوم قول چې اکثره مشايخو اختيار کړی وي، هغه له هغه قول څخه قوي دی چې لږو مشايخو اختيار کړی وي، لکه څرنګه چې مفتي محمد تقي العثماني (حفظه الله تعالى) وايي:

[1] بحوث في قضايا فقهية معاصرة تأليف: أ. د. محمد تقي العثماني، چاپونکي اداره: دار القلم ـ دمشق ـ ٢/ ٢٥٥.
[2] فتح القدير تأليف: ابن الهمام ٢/ ٣١٣ ـ ٣١٤
[3] شرح عقود رسم المفتي تأليف: ابن عابدين ص ٥٩
[4] مخکينی مصدر ص ٦٧

**«إذا كان أحدهما مختارَ أكثر المشايخ، ولآخرُ مختارَ قليلٍ منهم، فالرّاجحُ ما اختاره الأكثرون.»**[1] او دا دواړه الفاظ (عليه الفتوى، الأشبه) په فتوى کې مُصححان او يا دواړه ترجيح صريحي دي، نو په دې وخت کې هغه لفظ لومړيتوب لري، کوم چې اکثرو فقهاوو ذکر کړی وي، لکه ابن عابدين (رحمه الله) وايي: « **إذا كان أحد القولين المصححين... فالعبرة بما قاله الأكثر.**»[2] . د اتو لاملونو پر اساس د جمهورو علماوو مذهب ته لومړيتوب ورکړ شوی دی.

## اتم مطلب: د مطالعو د اختلاف لامل

د اسلامي امت لپاره د سپوږمۍ د ليدلو موضوع په ځانګړي توګه د روژې، اخترونو، او اسلامي نېټو د ثبوت په برخه کې له مهمو مسايلو څخه شمېرل کيږي. د تاريخ په اوږدو کې علماوو د "اختلاف المطالع" د توپير مسأله تر بحث او څېړنې لاندې نيولي ده، د خپلو دلايلو او څېړنې پر اساس يوې پايلې او نتېجې ته رسېدلي دي، بناء د مطالعو د اختلاف اساسي لامل د هيوادونو او يا قطرونو تر منځ تغير، او فاصله د مطالعو د اختلاف لوی او ستر لامل جوړ شوی دی، لکه څرنګه چې فقهاوو د اختلاف المطالع د لامل په اړه همدا شان وضاحت کړی دی، علامه شامي (رحمه الله) په خپله رساله کې ليکلي دي: « **اعلم أن مطالع الهلال تختلف باختلاف الأقطار والبلدان فقد يرى في بلد دون آخر كما أن مطالع الشمس تختلف فإن الشمس قد تطلع في بلد ويكون الليل باقيا في بلد آخر... فتحقق اختلاف المطالع وهذا مما لانزاع فيه.**»[3] ژباړه: په دې خبره پوه شه، چې د قطرونو او هيوادونو په تغير سره د سپوږمۍ مطالع هم تغير کوي، نو په پايله کې په يو هيواد کې سپوږمۍ ليدل کيږي، خو په بل هيواد کې نه ليدل کيږي، لکه څرنګه چې د لمر مطالع تغير خوري، هغه داسې چې په يو هيواد کې لمر راپورته کيږي، او په داسې حال کې په هيواد کې شپه وي، نو د مطالعو اختلاف ثابت شو، او دا مسأله له هغو مسايلو څخه ده، چې د علماوو تر منځ پکې اختلاف نشته.

---

[1] أصول الإفتاء وآدابه تأليف: مفتي محمد تقي العثماني، چاپونکي اداره: إمام غزالي، لومړی چاپ، د چاپ کال: ۱۳۹۷ هـ ش ـ ص ۲۲۶.
[2] شرح عقود رسم المفتي تأليف: ابن عابدين ص ٦٧.
[3] مجموعة رسائل ابن عابدين تأليف: ابن عابدين ۲۵۰/۱ في رسالته (تنبيه الغافل والوسنان على أحكام هلال رمضان)

نو دا خبره ښه روښانه شوه چې د سپوږمۍ د مطالعو د اختلاف لوی او ستر لامل د هیوادونو او یا قطرونو تر منځ تغیر او توپیر دی. د هیوادونو تر منځ د فاصلې توپیر او تغیر د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف رامنځ ته کړی دی، او کېدلای شي چې د ساینسي علومو له اړخ څخه دا اختلاف نور لاملونه هم ولري، البته دلته یې شرعي اړخ په نظر کې نیول شوی دی.

## نهم مطلب: د میاشتې د اثبات طریقې

کله چې په یو هیواد کې میاشت ولیدل شي، نو شرعي یې د اثبات طریقې کومې دي؟ مخکې یادونه وشوه چې د یو هیواد رؤیت د بل هیواد لپاره هغه وخت دلیل ګڼل کیږي کله چې په موجبې طریقې د میاشتې ثبوت هلته وشي، بناء اړتیا شته چې موجبه طریقه روښانه شي. علامه شامي(رحمه الله) د ذکر شوي طریقې په اړه لیکلي دي : (**بِطَرِيقٍ مُوجِبٍ**) «**كَأَنْ يَتَحَمَّلَ اثْنَانِ الشَّهَادَةَ أَوْ يَشْهَدَا عَلَى حُكْمِ الْقَاضِي أَوْ يَسْتَفِيضَ الْخَبَرُ بِخِلَافِ مَا إذَا أَخْبَرَا أَنَّ أَهْلَ بَلْدَةِ كَذَا رَأَوْهُ؛ لِأَنَّهُ حِكَايَةٌ**».[1]

ژباړه: لکه دا چې دوه کسان ګواهي پر ځان واخلي، یا دا چې دوه کسان د قاضي پر حکم شاهدي ورکړي، او یا د رؤیت خبره خپره شي، بر خلاف د دې خبري چې دوه کسان یوازي دومره خبر وکړي چې د فلاني ښار خلکو همداشان میاشت لیدلي وه، نو دا دلیل نه نیول کیږي، ځکه یو شان حکایت دی. په وړاندې عبارت کې د روژې واجبوونکي درې طریقې ذکر شولې، دا درې طریقې داسې ښکارندوینه نه کوي چې یوازي دغه ذکر شوي طریقې د میاشت د اثبات لپاره منحصري دي، او نه علامه شامي (رحمه الله) دا درې طریقې د حصر په کلمه ذکر کړي دي، بلکې نورې طریقې هم کېدلای شي چې د میاشتې اثبات باندې وشي، بناء د میاشتې د اثبات طریقې فقهاوو څلور ذکر کړي دي.

[1] رد المحتار تألیف: ابن عابدین ۳۹۴/۲

**الف: لومړۍ طريقه، شهادة على الرؤية (د مياشتې په ليدلو شاهدي ورکول)**

که چیرته په اسمان کې کوم علت(گرد، دود، او يا وريځ) وي نو د روژې د مياشتې د اثبات لپاره د يو عادل، عاقل، مسلمان، او بالغ کس شاهدي قبليږي، نوموړی کس که څه هم آزاد، غلام، نارينه، او يا ښځه وي، او که په اسمان کې علت نه وو، نو بيا د يوې لويې ډلې چې د دوی په خبره غلبة الظن حاصليږي شاهدي يې قبليږي، او د دې لويې ډلې د ټاکلو شمېر امام ته سپارل شوی دی، البته له امام عظم (رحمه الله) څخه په دې هکله د دوو شاهدانو د قبلوليت هم روايت شته. او د اختر د مياشتې لپاره که په اسمان کې علت وو، نو بيا د دو عادلو نارينو او يا د يوه نارينه او دوو ښځو شاهدي قبليږي، او که په اسمان کې علت نه وو، نو بيا د جمع غفير چې د دوی په خبره باندې غالب گومان رامنځته کيږي شاهدي يې قبليږي.

**په دې هکله په الدرالمختار کې وايي:**

**«لِلصَّوْمِ مَعَ عِلَّةٍ كَغَيْمٍ» وَغُبَارٍ «خَبَرُ عَدْلٍ» «وَلَوْ» كَانَ الْعَدْلُ «قِنًّا أَوْ أُنْثَى أَوْ مَحْدُودًا فِي قَذْفٍ تَابَ» «وَشَرْطُ لِلْفِطْرِ» مَعَ الْعِلَّةِ وَالْعَدَالَةِ «نِصَابُ الشَّهَادَةِ وَلَفْظُ أَشْهَدُ» «وَ» قُبِلَ «بِلَا عِلَّةٍ جَمْعٌ عَظِيمٌ يَقَعُ الْعِلْمُ» الشَّرْعِيُّ وَهُوَ غَلَبَةُ الظَّنِّ «بِخَبَرِهِمْ وَهُوَ مُفَوَّضٌ إلَى رَأْيِ الْإِمَامِ مِنْ غَيْرِ تَقْدِيرٍ بِعَدَدٍ» عَلَى الْمَذْهَبِ وَعَنْ الْإِمَامِ أَنَّهُ يُكْتَفَى بِشَاهِدَيْنِ...»** [1]

ژباړه: د روژې د مياشتې د ليدلو لپاره که په اسمان کې کوم علت وو، نو د يو عادل کس شاهدي قبليږي، که څه هم دا عادل غلام، ښځه او محدود في القذف وي، او د اختر د مياشتې د ليدلو لپاره که په اسمان کې کوم علت وو، نو د دو عادلانو شاهدانو، او يا د يو نارينه او دوو ښځو د (أشهد) په لفظ سره يې شاهدې قبليږي، او که په اسمان کې کوم علت نه وو، نو په روژه او اختر کې د يوې لويې ډلې چې د دوی په خبره غالب گومان حاصليږي، شاهدې يې قبليږي، او د دې لويې ډلې د ټاکلو شمېر امام ته سپارل شوی دی، البته له امام عظم (رحمه الله) څخه په دې هکله د دوو شاهدانو د قبلوليت هم روايت شته.

---

[1] تنوير الأبصار مع الدر تأليف: التمرتاشي و الحصفكي ٢/ ٣٨٥ـ ٣٨٨

**او په فتاوی هندیه کې وايي:**

**«إِنْ كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ فَشَهَادَةُ الْوَاحِدِ عَلَى هِلَالِ رَمَضَانَ مَقْبُولَةٌ إِذَا كَانَ عَدْلًا مُسْلِمًا عَاقِلًا بَالِغًا حُرًّا كَانَ أَوْ عَبْدًا ذَكَرًا كَانَ أَوْ أُنْثَى... وَإِنْ لَمْ يَكُنْ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ لَمْ تُقْبَلْ إِلَّا شَهَادَةُ جَمْعٍ كَثِيرٍ يَقَعُ الْعِلْمُ بِخَبَرِهِمْ، وَهُوَ مُفَوَّضٌ إِلَى رَأْيِ الْإِمَامِ مِنْ غَيْرِ تَقْدِيرٍ هُوَ الصَّحِيحُ كَذَا فِي الِاخْتِيَارِ شَرْحِ الْمُخْتَارِ... وَإِنْ كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ لَا تُقْبَلُ إِلَّا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ وَيُشْتَرَطُ فِيهِ الْحُرِّيَّةُ، وَلَفْظُ الشَّهَادَةِ كَذَا فِي خِزَانَةِ الْمُفْتِينَ... وَإِنْ كَانَتْ مُصْحِيَةً لَا يُقْبَلُ إِلَّا قَوْلُ الْجَمَاعَةِ كَمَا فِي هِلَالِ رَمَضَانَ كَذَا فِي خِزَانَةِ الْمُفْتِينَ، وَهَكَذَا فِي الْكَافِي.»**[1]

ژباړه: که چیرته په اسمان کې کوم علت وي، نو د روژې د میاشتې د اثبات لپاره د یو عادل، عاقل، مسلمان، او بالغ کس شاهدي قبلیږي، نوموړی کس که څه هم آزاد، غلام، نارینه، او یا ښځه وي، او که په اسمان کې علت نه وو، نو بیا د یوې لویې ډلې چې د دوی په خبره غلبة الظن حاصلیږي، شاهدي یې قبلیږي، او د دې لویې ډلې د ټاکلو شمېر امام ته سپارل شوی دی، او د اختر د میاشتې لپاره که په اسمان کې علت وو، نو بیا د دو عادلو نارینو او یا د یوه نارینه او دوو ښځو شاهدي قبلیږي، البته حریت او د (أشهد) لفظ کارونه پکې شرط دی، او که په اسمان کې علت نه وو، نو بیا د جمع غفیر چې د دوی په خبره باندې غالب گومان رامنځته کیږې شاهدي یې قبلیږي.

په اخیر کې دې پایلې ته ورسېږو که په اسمان کې علت وو، نو د روژې د میاشتې لپاره د یو عادل کس نارینه وي او که ښځه شاهدې یې قبلیږي، او د اختر د میاتشې لپاره که په اسمان کې علت وو، نو د دو عادلانو شاهدې قبلیږي، او که په اسمان کې کوم علت نه وي، نو د روژې او اختر د میاشتو لپاره د یوې لویې ډلې چې د دوی په خبره غالب گومان حاصلیږي، شاهدې یې قبلیږي، او د دې شمېر د ټاکلو اندازه د هیواد تر امام پورې تړاو لري.

---

[1] فتاوی هندیه تألیف: مجموعة من المؤلفین ۱/ ۱۹۷ـ ۱۹۸

**لسم مطلب: د تليفون او د نورو الكترونيكي وسايلو په وسيله د شاهدي وركولو حكم**

په وړاندې مطلب کې دا څرګند شو چې کله څو کسان میاشت ووینې، نو د قاضي په وړاندې به د مياشت د ليدلو شاهدي وركوي، اوس دا پوښتنه پيدا كيږي چې ايا شاهدان كولاى شي د تليفون او داسې نورو وسايلو په وسيله شاهدي وركړي؟

**په دې اړه دوه صورتونه شتون لري:**

**لومړی صورت:** (د تليفون او داسې نورو وسايلو په وسيله شاهدي وركول.)

**دويم صورت:** د تليفون او داسې نورو وسايلو په وسيله د سپوږمۍ د ليدلو خبر وركول.

**د لومړي صورت وضاحت:** (د تليفون او داسې نورو وسايلو په وسيله شاهدي وركول.)

كله چې څو كسان مياشت ووينې، او بيا غواړي چې د تليفون په وسيله باندې شاهدي ادا كړي، دا من وراء حجاب شاهدې شرعاً نه قبليږي، بلكې شاهدان به د قاضي په وړاندې حاضريږي، ځكه مشهوره قاعده ده چې( **الصوت يشبه الصوت، أم النغمة تشبه النغمة.** )[1] ژباړه: يو غږ له بل غږ سره مشابهت لري. بناء په ياده طريقه كې د دوكې، او دروغو امكانات نسبتاً له حاضرېدلو څخه ډېر شته.

**په فتاوی رحيميه كې وايي:** ( بلا شبه شهادت من وراء الحجاب معتبر نه دی، د شاهدانو حاضرېدل اړين دی)[2]

**په آلات جديده كې په اړه داسې راغلي دي:** ( د تليفون په وسيله په روژه او اختر كې شاهدې اعتبار نه لري، په كومو احكامو كې چې پرده د قبوليت مانع ګرځي، په هغو كې اعتبار نه لري، او په كومو احكامو كې

---

[1] دررالحكام شرح غررالأحكام تأليف: محمد بن فرامرز بن علي، الشهير بملا أو منلا (ت ٨٨٥ هـ) چاپونكي اداره: دار إحياء الكتب العربية ٢/ ٣٧٤
[2] فتاوي رحيميه تأليف: مفتي سيد عبد الرحيم لاجپوري ٧/ ٣٠٥ چاپونكي اداره: (مكتبة فاروقيه) ــ پېښور

چې پرده د قبولیت مانع نه ګرځي په هغو کې اعتبار لري.)[1] له وړاندې څرګندوالي څخه دا پایله په لاس راغله چې من وراء حجاب شاهدي د منلو وړ نه دی.

**د دویم صورت وضاحت:** (د تلیفون او داسې نورو وسایلو په وسیله د سپوږمۍ د لیدلو خبر ورکول.)

که چیري د تلیفون په وسیله د میاشتې د لیدلو خبر محکمې ته ورکړل شي، نو دا یوازي (إخبار عن الرؤیة) دی، نو په دې اړه علماوو وایي:

**په فتاوی حقانیه کې وایي:** (که چیري د تلیفون په وسیله خبر د غلبة الظن لپاره مفید وي، د دوکې او داسې نورو... اندېښنه نه وي، نو د تلیفون په خبر باندې په عمل کولو کې هیڅ ستونزه نشته.)[2]

**او په فتاوی دارالعلوم زکریا کې وایي:**

(که چیري په تلیفون کې خبري کوونکی شناخته سړی وي، او د هغه د صداقت او رښتینولي ګمان هم غالب وي، له خپلي خوا په شرعي توګه د لیدلو خبر در کړي، نو په شخصي توګه په دې خبرې عمل کول روا دی، البته واجب نه دی، او که چیري له هري خوا په تواتر سره د تلیفون خبري راغلې، او د شهرت ترحده ورسیږي، نو دغو خبرو ته د شرعي شاهدۍ درجه حاصلیږي، او عمل باندې کول لازمیږي.)[3] له ذکر شوي صراحت څخه دا معلوم شو، که د تلیفون خبري غالب ګومان افاده کول، له چل، او فریب څخه خوندیتوب پکې وي، نو په یاد صورت کې د تلیفون خبره د منلو وړ ده. او که له هري خوا په تواتر سره د رؤیت الهلال خبري د تلیفون او داسې نورو وسایلو په وسیله راشي، نو د شرعي شاهدۍ درجه حاصلوي، نو په دې وخت کې د شاهدۍ ادا کولو ته اړتیا نشته، له شاهدۍ پرته د روژې او یا اختر کول لازمیږي، او استفاضه له شاهدۍ څخه قویتره ده.

---

[1] آلات جدیدة، تألیف: مفتي محمد شفیع العثماني ص ٢٣٣ ــ ٢٣٤، چاپونکي اداره: (حبیبي خپرندویه ټولنه) ــ کندهار.

[2] فتاوی حقانیه، تألیف: شیخ الحدیث مفتي عبدالحق ٣/ ٣٧٢ چاپونکي ادره: (جدیده کتب خانه) ــ باکستان.

[3] فتاوی دارالعلوم زکریا تألیف: حضرت مولانا مفتي رضاءالحق ٣/ ٤٦٥

**ب: دويمه طريقه، شهادة على شهادة الرؤية ( په شاهدي باندې شاهدي ورکول )**

کله چې اصلي شاهدان د کوم عذر پر اساس د قاضي او يا کمېټې په وړاندې له حاضريدلو څخه ناتوانه شي، نو اصلي شاهدان له خپل لوري څخه دوه باوري سړي د خپلې شاهدي لپاره شاهدان نيسي، او قاضي ته يې وليږي، او دا دوه سړي د دې شاهدي ورکړي چې فلان بن فلان او فلان بن فلان مونږ په خپله شاهدي باندې شاهدان نيولي يوو ،او هغوی مونږ دلته د شاهدانو په توگه راليږلي يوو، چې تاسو ته د هغوی د رؤيت شاهدي ووايو. نو شرعاً د بل چا په شاهدي باندې شاهدي ورکول جواز لري، البته کله چې هغه اصلي شاهدان د کوم عذر پر اساس محکمې ته له حاضرېدلو څخه نا توانه شي.

**په الدرالمختار کې وايي:**

**«هِيَ مَقْبُولَةٌ»... لَكِنْ لَا تُقْبَلُ إلَّا «بِشَرْطِ تَعَذُّرِ حُضُورِ الْأَصْلِ بِمَوْتٍ» أَيْ مَوْتِ الْأَصْلِ...«أَوْ مَرَضٍ أَوْ سَفَرٍ» «وَ» كَيْفِيَّتُهَا أَنْ «يَقُولَ الْأَصْلُ مُخَاطِبًا لِلْفَرْعِ»...«اشْهَدْ عَلَى شَهَادَتِي أَنِّي أَشْهَدُ بِكَذَا»...«وَيَقُولُ الْفَرْعُ أَشْهَدُ أَنَّ فُلَانًا أَشْهَدَنِي عَلَى شَهَادَتِهِ بِكَذَا وَقَالَ لِي اشْهَدْ عَلَى شَهَادَتِي بِذَلِكَ...»**[1]

ژباړه: شرعاً په شاهدي باندې شاهدي ورکول جواز لري، ليکن هغه وخت دا شاهدې قبليږي، چې اصلي شاهدان د کوم عذر پر اساس له حاضرېدلو څخه ناتوانه شي، او دا شاهدي به په داسې توگه ورکول کيږي: اصل شاهد به دويم شاهد ته ووايي: زما په شاهدې داسې گواهي ورکړه، چې فلاني د مياشتې په ليدلو شاهدې ورکوله، او هغه دويم شاهد به وايي: زه په دې خبره شاهدې ورکوم، چې فلاني زه په خپله گواهي نيولی يم، او هغه ماته ويل: زما شاهدې په دې اړه ورکړه.

البته که څوک د بل چا په شاهدې باندې په داسې توگه شاهدې ورکړي چې له هغه څخه يې د من وراء حجاب په توگه شاهدې اورېدلي وي، او يې شاهد نه وو نيولی، د هغه له خوا يې گواهي ورکړه، په داسې

[1] تنويرالأبصار مع الدر تأليف: التمرتاشي و الحصفكي ۵/ ۴۹۹ ـ ۵۰۰

توگه شاهدۍ شرعاً نه قبلیږي. په دې اړه په مختلفو کتابونو کې صراحتونه راغلي دي، د هغه له ډلې څخه يو شمېر په لاندې توگه دي:

**په فتاوی هنديه کې وايي:**

**«فَإِذَا سَمِعَ شَاهِدًا يَشْهَدُ بِشَيْءٍ لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَشْهَدَ عَلَى شَهَادَتِهِ إلَّا أَنْ يُشْهِدَهُ كَذَا فِي الْكَافِي... وَلَوْ سَمِعَ مِنْ وَرَاءِ الْحِجَابِ لَا يَسَعُهُ أَنْ يَشْهَدَ لِاحْتِمَالِ أَنْ يَكُونَ غَيْرَهُ، إذْ النَّغْمَةُ تُشْبِهُ النَّغْمَةَ»**[١] ژباړه: کله چې يو کس د بل کس د شاهدۍ ادا کېدل واورېدل، چې هغه په کوم شی باندې شاهدۍ ادا کوي، نو د هغه اورېدونکي لپاره رواه نه ده، چې د هغه په شاهدۍ باندې پرته له دې چې شاهد يې نيولی وي شاهدۍ ورکړي، او که يو کس د پردې تر شا د شاهد شاهدۍ واورېدله، نو د دو لپاره روانه ده، چې د هغه په شاهدۍ باندې شاهدۍ ورکړي، ځکه دا امکان لري چې بل څوک وي، او يو غږ له بل غږ سره مشابهت لري.

**په درر الحکام کې وايي:**

**«وَلَا يَشْهَدُ عَلَى الشَّهَادَةِ مَا لَمْ يُشْهَدْ عَلَيْهَا»**[٢] ژباړه: او د بل چا په شاهدۍ دې گواهي تر هغه پوري نه وايې، تر څو چې يې په شاهدۍ ويلو باندې شاهد نه وي نيولی.

**د الفقه الإسلامي صاحب وايي:**

**« فإذا سمع شاهداً يشهد بشيء لم يجز أن يشهد بنفسه على شهادته إلا أن يُشهده على شهادته، ويأمره بأدائها ليكون نائباً عنه»**[٣] ژباړه: کله چې يو کس د بل کس د شاهدۍ ادا کېدل واورېدل، چې هغه په کوم شی باندې شاهدۍ ادا کوي، نو د هغه اورېدونکي لپاره رواه نه ده، چې د هغه په شاهدۍ باندې پرته له دې چې شاهد يې نيولی وي، او يا يې د شاهدۍ ورکولو امر ورته کړی وي، شاهدۍ ادا کړي.

---

[١] فتاوی هنديه تألیف: مجموعة من المؤلفين ٣/ ٤٥٢

[٢] دررالحکام شرح غررالأحکام تألیف: محمد بن فرامرز بن على الشهير بملا ٢/ ٣٧٤

[٣] الفقه الإسلامي تألیف: دوکتور وهبة بن مصطفى الزحيلي ٨/ ٦٠٣٤

له ذکر شوي ثرګندوالي څخه دې پايلې ته ورسېدلو چې د يو سړي په شاهدۍ باندې ګواهي ورکول هغه وخت جواز لري، چې اصلي شاهدان د ګواهي له ادا کېدلو څخه ناتوانه وي، او دا اصلي شاهدان نور ګواهان د شاهدۍ په ادا کولو ونيسي. او که اصلي شاهدانو بل څوک په ګواهي نه وي نيولی، او هغه له خپل ځان څخه د هغه پر ځای شاهدۍ ورکوي، نو دا شاهدي شرعاً جواز نه لري.

**ج: دريمه طريقه، شهادة على قضاء القاضي الشرعي(د قاضي په قضاوت شاهدي ورکول)**

که چيري د قاضي په مجلس کې شرعي شهادت وړاندې شي، او په مجلس کې دوه هغه کسان چې د هغوی شاهدي قبليږي، له اول څخه ترآخره پوري حاضر وي، او بيا د بل ځای قاضي په وړاندې حاضر شي، او دا ګواهي ورکړي چې د فلاني قاضي په مجلس کې زمونږ په وړاندې د رؤيت الهلال شاهدي وړاندې شوه، او د هغوی له شاهدۍ څخه وروسته قاضي د رؤيت الهلال فيصله وکړه. دا طريقه هم د رؤيت الهلال لپاره معتبره ده، او د هغوی په شاهدۍ باندې د مياشتې د ليدلو فيصله کيدلای شي، ځکه د قاضي قضاء دليل ګڼل کيږي.

**په دې اړه په الدرالمختار کې وايي:**

**«شَهِدُوا أَنَّهُ شَهِدَ عِنْدَ قَاضِي مِصْرَ كَذَا شَاهِدَانِ بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ» فِي لَيْلَةِ كَذَا «وَقَضَى» الْقَاضِي «بِهِ وَوَجَدَ اسْتِجْمَاعَ شَرَائِطِ الدَّعْوَى قَضَى» أَيْ جَازَ لِهَذَا «الْقَاضِي» أَنْ يَحْكُمَ «بِشَهَادَتِهِمَا»لِأَنَّ قَضَاءَ الْقَاضِي حُجَّةٌ وَقَدْ شَهِدُوا بِهِ لَا لَوْ شَهِدُوا بِرُؤْيَةِ غَيْرِهِمْ لِأَنَّهُ حِكَايَةٌ.**[1] ژباړه: څو يا دو کسانو د يو ښار د قاضي په وړاندې د دې خبري شاهدۍ ورکړه، چې د فلاني ښار د قاضي په وړاندې دو شاهدانو د مياشتې د ليدلو شاهدۍ ورکړه، او قاضي هم د هغوی په شاهدۍ باندې فيصله او حکم وکړ، نو دا کار د قاضي لپاره جواز لري، ځکه د قاضي قضاء دليل ګڼل کيږي، او په داسې توګه يې شاهدۍ نه قبليږي چې د نورو په رؤيت باندې شاهدۍ ورکړي، ځکه دا بيا حکايت دی.

[1] تنوير الأبصار مع الدر تأليف: التمرتاشي والحصفكي ٢/ ٣٩٠

**د: څلورمه طريقه، استفاضة الخبر ( د رؤيت د خبري خپرېدل )**

کله چې په يو ښار کې سپوږمۍ وليدل شي، او له ليدلي ښار څخه په تواتر د رؤيت الهلال خبره ناليدلي ښار ته راورل شي، له استفاضې څخه عبارت دی، البته يوازي د خبري نشرېدل کافي نه دی.

**علامه شامي (رحمه الله) وايي:**

**«اعْلَمْ أَنَّ الْمُرَادَ بِالِاسْتِفَاضَةِ تَوَاتُرُ الْخَبَرِ مِنْ الْوَارِدِينَ مِنْ بَلْدَةِ الثُّبُوتِ إلَى الْبَلْدَةِ الَّتِي لَمْ يَثْبُتْ بِهَا لَا مُجَرَّدُ الِاسْتِفَاضَةِ.»**[1] ژباړه: په دې خبره پوه، چې له استفاضې څخه موخه دا ده چې په کوم ښار کې مياشت ليدل شوي وي، له هغه ښار څخه د رؤيت خبره په تواتر سره ناليدلي ښار ته راورل شي، او يوازي د خبري نشرېدل کفايت نه کوي.

**او په بل ځای کې علامه ابن عابدين (رحمه الله) وايي:**

**«مَعْنَى الِاسْتِفَاضَةِ أَنْ تَأْتِيَ مِنْ تِلْكَ الْبَلْدَةِ جَمَاعَاتٌ مُتَعَدِّدُونَ كُلٌّ مِنْهُمْ يُخْبِرُ عَنْ أَهْلِ تِلْكَ الْبَلْدَةِ أَنَّهُمْ صَامُوا عَنْ رُؤْيَةٍ لَا مُجَرَّدِ الشُّيُوعِ مِنْ غَيْرِ عِلْمٍ بِمَنْ أَشَاعَهُ.»**[2]

ژباړه: له استفاضې څخه دا موخه ده، چې په کوم ښار کې مياشت ليدل شوي وي، له هغه ښار څخه مختلفي مختلفي ډلي راشي، او هره ډله دا خبر ورکوي چې د فلاني ښار خلکو د مياشتې د ليدلو له امله روژه نيولي ده، يوازي د خبري نشرېدل او خپرېدل بسنه نه کوي، په داسې حال کې چې نشرونکی يې هم معلوم نه وي، او بيا وايي: استفاضه او يا منتشره خبره له شاهدې څخه قويتره، او يقين افاده کوي، او عمل باندې کول لازم دی. « **الصَّحِيحُ مِنْ مَذْهَبِ أَصْحَابِنَا أَنَّ الْخَبَرَ إذَا اسْتَفَاضَ وَتَحَقَّقَ فِيمَا بَيْنَ أَهْلِ الْبَلْدَةِ الْأُخْرَى يَلْزَمُهُمْ حُكْمُ هَذِهِ الْبَلْدَةِ ... وَهِيَ أَقْوَى مِنْ الشَّهَادَةِ ... فَإِنَّهَا تُفِيدُ الْيَقِينَ.»**[3]

[1] منحة الخالق حاشية بحرالرائق تأليف: ابن عابدين، ۲/ ۲۹۱ (قبيل باب ما يفسد الصوم ومالا يفسده) ومجموعة رسائل ابن عابدين تأليف: ابن عابدين ۱/ ۲۵۳

[2] رد المحتار تأليف: ابن عابدين ۲/ ۳۹۰

[3] رد المحتار تأليف: ابن عابدين ۲/۳۹۰

ژباړه: زمونږ د اصحابو له مذهب څخه صحيح روايت دا دی، چې کله د رؤيت خبره د بل هيواد په خلکو کې منتشره او ثابته شي، نو په هغوی باندې د دې هيواد (په کوم هيواد کې چې مياشت ليدل شوي) حکم لازميږي.
او هغه استفاضه او منتشره خبره له شاهدي څخه قويتره ده، ځکه چې استفاضه خبره يقين افاده کوي.

دا څلور طريقې هغه طريقي دي چې د هغو په وسيله باندې د مياشتو اثبات کيږي، که له دغو طريقو څخه په يوه طريقه هم د روژې او اختر د مياشو اثبات باندې وشي، نو عمل باندې کول لازم دی. او اوس دې خبرې ته راځو چې ايا اعلان په موجبه طريقه کې داخليږي او که نه؟

**يوولسم مطلب: د اعلان په وسيله له نورو هيوادونو سره د روژې او اختر کولو حکم**

کله چې په يو هيواد کې د مياشت د ليدلو څخه وروسته د قاضي په وړاندې شاهدان شاهدي ورکړي، او قاضي د شاهدانو گواهي قبوله کړي، او بيا د روژې او يا اختر په اړه خپله پريکړه وکړي، بيا دا پريکړه له رسمي پاڼي څخه خپره کړي، او د روژې او يا اختر په اړه اعلان وکړي، اوس پوښتنه دا ده چې په ذکر شوي طريقه باندې د نا خبرو لپاره عمل کول روا ده؟ او د نورو هيوادونو لپاره موجب د عمل ده؟ او دا اعلان په موجبه طريقې کې داخليږي او که نه؟

پخوا به په يو ښار کې د سپوږمۍ د ليدلو خبره د ناليدلو لپاره د توپونو د ډزونو، او د څراغونو د رڼاوو په وسيله خلکو ته رسول کېدله، د هغوی به باور او غالب گومان باندې راتلل، او دا طريقه د هغوی لپاره موجب د عمل وه. لکه څرنگه چې په دې اړه علامه شامي (رحمه الله) وايي:

**«وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ يَلْزَمُ أَهْلَ الْقُرَى الصَّوْمُ بِسَمَاعِ الْمَدَافِعِ أَوْ رُؤْيَةِ الْقَنَادِيلِ مِنْ الْمِصْرِ؛ لِأَنَّهُ عَلَامَةٌ ظَاهِرَةٌ تُفِيدُ غَلَبَةَ الظَّنِّ وَغَلَبَةُ الظَّنِّ حُجَّةٌ مُوجِبَةٌ لِلْعَمَلِ... وَاحْتِمَالُ كَوْنِ ذَلِكَ لِغَيْرِ رَمَضَانَ بَعِيدٌ إِذْ لَا يُفْعَلُ مِثْلُ ذَلِكَ عَادَةً فِي لَيْلَةِ الشَّكِّ إِلَّا لِثُبُوتِ رَمَضَانَ»**[1]

[1] رد المحتار تأليف: ابن عابدين ۲/ ۳۸٦

ژباړه: او ښکاره خبره دا ده چې د کليو په خلکو باندې د روژې نيول له ښار څخه د توپونو د غږونو په اورېدلو، او د څراغونو د رڼاو په ليدلوسره لازميږي، ځکه دا يوه څرګنده نښانه ده، چې غالب ګومان افاده کوي، او غالب ګومان دليل او واجبونکی د عمل دی، او دا احتمال چې د توپونو ډزي او د څراغونو رڼاوي به د بل څه لپاره وي ناشونی دی، ځکه د شک په شپه معمولاً داسې څه د رمضان له ثبوت څخه پرته د بل څه لپاره نه وي.

له وړاندې څرګندوالي څخه دا ثابت شو چې د شک په شپه د توپونو غږونه او د څراغونو رڼاوي د کليو د خلکو لپاره غالب ګومان افاده کوي، او موجب د عمل ورته ګرځول شوی دی، بناء علماء په دې اړه وايي: چې له يوې رسمي پاڼې څخه د روژې او اختر اعلان د قوت او دلالت له پلوه له يادو شوو طريقو څخه ښه ښکاره او څرګند دی، نو په طريقه اولی سره د رسمي پاڼې په اعلان باندې عمل کول روا دی، او د خلکو لپاره واجبونکی د عمل دی. او دا اعلان له داسې رسمي پاڼې څخه چې د ټولو باور باندې راځي موجب د عمل دی، وړاندې علامه شامي (رحمه الله) د موجبي طريقې درې لاري ذکر کړې، او دا خبره څرګنده شوه چې هغه درې طريقې د حصر په کلماتو نه وې ذکر شوي، بلکې د نورو طريقو هم د وخت په تېرېدلو سره امکان وو، لکه په نن وخت کې د اختر او يا روژې لپاره له يو رسمي پاڼې څخه د رؤيت الهلال اعلان کول، او دا قياس هم نه دی، بلکې (**تصريح بما دل عليه كلام المجتهد**) دی، او هم علامه شامي (رحمه الله) اجتهاد نه دی کړی، بلکې د کليې تطبيق په جزئياتو کې تر سره شوی دی، او په هر هيواد کې د هلال د کمېټې يوه رسمي پاڼه وي، لکه څرنګه چې زمونږ په ګران هيواد کې د روژې او اختر د اعلان لپاره د هلال د کمېټې يوه رسمي پاڼه شته، او د هغې له لورې خلکو ته د روژې او اختر اعلان کيږي، بناء له داسې ټاکلي او معلومې سرچينې څخه د روژې او اختر په هکله اعلان کول معتبر ګڼل شوی دی، او په نن وخت کې د خلکو غالب ګومان باندې حاصليږي، او غالب ګومان دليل او موجب د عمل دی. والله أعلم.

**او په دې اړه د علماوو اقوال په لاندې توګه دي:**

**په فتاوی فریدیه کې وايي:**

**« الراديو وغيرها أشد حفاظة، و أوضح دلالة، كما لا يخفى، بخلاف ضرب المدافع و رؤية القناديل من المصر...»**[1] ژباړه: د راديو او داسې نورو وسايلو اعلان، د حفاظت او دلالت له پلوه د توپونو له ډزونو او د څراغونو له رڼاو څخه ډېر خوندي او واضح تر دي.

**او په فتاوی حقانيه کې وايي:**

( کله چې قاضي او يا د هلال کمېټه د شاهدانو په شاهدي باندې ډاډه شي، او بيا د روژې او يا اختر اعلان د راډيو، او ټي وي په وسيله باندې خپور کړي، نو دا اعلان د روژې او اختر لپاره ثبوت جوړېدلای شي.)[2]

**په خلاصة العذب الزلال کې وايي:**

**« لا بأس بالإعتماد في نقل ثبوت الرؤية على الصوت المسموع من التلفون، إذا عرف المتكلم، وعلم صوته، و وثق بخبره، وكان عدلا، ومثله التلغراف والراديو وغير ذلک، مما جعل لتبليغ الأخبار.»**[3]

ژباړه: کوم غږ چې له تيليفون څخه د رؤيت الهلال د ثبوت په اړه اورېدل کيږي، په هغه باندې باور او اعتماد کول جواز لري، البته کله چې متکلم او غږ يې وپېژندل شي، او د هغه په خبره باور وشي، او عادل وي، د تيليفون په شان د نورو وسايلو حکم همداسې دی، لکه تلګراف، راديو، او ټول هغه وسايل چې د خبرو د رسولو لپاره جوړ شوي وي.

لکه څرنګه چې نن سبا د کمېټو په اعلان باندې عمل کيږي، د خلکو غالب ګومان باندې راځي، او د ټولو خلکو باور او يقين باندې راځي، بناء د مطالعو د اختلاف د نه اعتبار په صورت کې د لرې او نژدې اعلان فرق

[1] فتاوی فريديه تأليف: فقيه العصر مفتي محمد فريد ۴/ ۵۸ ، خپرونکي اداره: (مکتبة رشيدية) ـ باکستان.
[2] فتاوی حقانيه تأليف: شيخ الحديث مفتي عبدالحق ۳/ ۳۷۱ چاپونکي اداره: (جديده کتب خانه) ـ باکستان.
[3] خلاصة العذب الزلال في مباحث رؤية الهلال تأليف: علامه سيد محمد بن عبدالوهاب بن عبدالرازق ص ۴۹ .

نشته، نو له وړاندې وضاحت څخه دا پایله په لاس راغله چې له یوې معتمدې سرچینې څخه د روژې او یا اختر اعلان په موجبه طریقه کې داخل دی، البته که چیري دا اعلان له یوې غیري رسمي او نا معلومي پاڼي څخه وي، او وایي چې په فلاني ښار کې میاشت لیدل شوي دی، او په داسې حال کې چې دا اعلان د کمېټې له خوا نه وي، د منلو وړ او موجب د عمل نه دی، ځکه دا یو حکایت دی. والله أعلم، وعلمه أتم.

**دوولسم مطلب: د رادیو او تلوېزیون په اعلان د روژې او اختر کولو حکم**

په دې مطلب کې به دا خبره واضح شي چې د رادیو او تلوېزیون له لاره د میاشتې د لیدلو اعلان کول څه حکم لري، له دې لارې څخه د اعلان کولو لپاره لومړی د هلال د کمېټې اعلان له خپلي باوري سرچېنې څخه اړین دی، او وروسته که دا اعلان له رادیو او تلوېزیون څخه خپریږي، په دې خپریدلو کې کومه ستونزه نشته، البته مهم دا دی چې د هلال د کمېټې له لوري د رؤیت الهلال د خبري نشرېدل مطمئن شي. نو بیا د رادیو او تلوېزیون په وسیله اعلان کول کومه ستونزه نه لري. والله أعلم.

**په فتاوی حقانیه کې وایي:**

(کله چې قاضي او یا د هلال کمېټه د شاهدانو په شاهدې باندې ډاډه شي، او بیا د روژې او یا اختر اعلان د راډیو، او ټي وي په وسیله باندې خپور کړي، نو دا اعلان د روژې او اختر لپاره ثبوت جوړېدلای شي.)[1]

**او په فتاوی دارالعلوم زکریا کې وایي:**

(د رادیو خبر د یو اعلان حیثیت لري، او دا اعلان که چیري د کمېټې له فیصلې سره موافق وي، نو باور او اعتماد باندې کول روا دی)[2]

[1] فتاوی حقانیه تألیف: شیخ الحدیث مفتي عبدالحق ۳/ ۳۷۱ چاپونکي اداره: (جدیده کتب خانه) ــ پاکستان.
[2] فتاوی دارالعلوم زکریا تألیف: حضرت مولانا مفتي رضاءالحق ۳/ ۴۶۴

**او په فتاوی فریدیه کې وايي:**

( د هلال د کمېټې اعلان د رادیو، تلوېزیون او داسې نورو وسایلو په وسیله واجب الإعتماد دی، البته خبره به یې تفصیلي وي،حکم ورکونکی او د حکم لامل به پکې ذکر وي، په داسې شان سره چې غالب گومان باندې حاصلیږي.)[1] نو دې پایلې ته ورسېدلو چې د رادیو، تلوېزیون او داسې نورو وسایلو په وسیله د سپوږمۍ د رؤیت خبره د هلال د کمېټې له تائید څخه وروسته د خلکو لپاره موجب د عمل دی.

**دیارلسم مطلب: ایا د سپوږمۍ د ثبوت لپاره د حاکم (قاضي) حکم شرط دی؟**

په دې مطلب به دا ذکر شي چې ایا د روژې د میاشتې د ثبوت لپاره د حاکم حکم شرط دی او که نه؟ مخکې یادونه وشوه چې د روژې د میاشتې په ثبوت کې کله چې په اسمان کې علت وي، نو د یو عادل کس خبره قبلیږي، ځکه په رمضان کې رؤیة الهلال، من باب الإخبار څخه دی، بناء د لیدونکو تعداد په نظر کې نه نیول کیږي، په الدرالمختار کې راځي: «**وَقُبِلَ... بِلَا حُكْمٍ وَمَجْلِسِ قَضَاءٍ لِأَنَّهُ خَبَرٌ لَا شَهَادَةٌ.**»[2] ژباړه: او د یوه نفر خبره به د رمضان په اثبات کې له حکم او د قاضي له مجلس څخه پرته قبولیږي، ځکه دا په رؤیت الهلال باندې خبر دی، نه شهادت.

او زه داسې فکر کوم چې په افغانستان کې د هلال کمېټه د مطالعو اختلاف ته اعتبار ورکوي، او یا کېدلای شي چې اعتبار نه ورکوي، خو د سعودي عربستان څخه د رؤیت الهلال خبره د اعلان په وسیله ممکن د اعتبار وړ ورته نه وي، نو له دغو دو احتمالاتو څخه د دوی طرزالعمل خالي نه دی، ښه نو اوس به د افغانستان خلک څه کوي؟چې په سعودي عربستان کې میاشت ولیدل شي، او په افغانستان کې میاشت ونه لیدل شي، په داسې حال کې چې وړاندې په تفصیل سره د دې خبرې یادونه او څېړنه وشوه، چې د یوه هیواد رؤیت د بل هیواد لپاره کله چې په موجبه طریقه ورته ورسیږي، دلیل کېدلای شي، او دا هم څرگند شو چې د اعلان په وسیله باندې د سپوږمۍ د لیدلو خبره له اعتباري او معتمدي سرچینې څخه موجب د عمل دی، نو په داسې

---

[1] فتاوی فریدیه تألیف: فقیه العصر مفتي عارف بالله محمد فرید ۴/ ۵۷

[2] الدرالمختار وحاشیة ابن عابدین، للحصفکي ۲/ ۳۸۵.

حالت کې به خلک د خپل هیواد د آمر د حکم او فیصلې مطابق عمل کوي، ځکه د هغه حکم په خلکو باندې واجب العمل دی، او اختلاف له منځ څخه رفع کوي، نو په دې صورت کې د سعودي عربستان اعلان په اساس روژه او عیدالفطر خلک نه شي کولای، ځکه رسول الله(صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: (**صَوْمُكُمْ يَوْمَ تَصُومُونَ وَفِطْرُكُمْ يَوْمَ تُفْطِرُونَ**)[1] ژباړه: ستاسو روژه او اختر به له جماعت سره وي، که څه هم د حاکم حکم د رؤیت الهلال په ثبوت کې شرط نه دی، خو که حاکم حکم وکړ، نو پر خلکو باندې یې پیروي واجب دی.

**په الفقه على المذاهب الأربعة کې وايي:**

«**لا يشترط في ثبوت الهلال ووجوب الصوم... حكم الحاكم. ولكن لو حكم بثبوت الهلال بناء على أي طريق في مذهبه وجب الصوم على عموم المسلمين. ولو خالف مذهب البعض منهم. لأن حكم الحاكم يرفع الخلاف، وهذا متفق عليه، إلا عند الشافعية قالوا: يشترط في تحقيق الهلال ووجوب الصوم... أن يحكم به الحاكم.**»[2] ژباړه: د میاشتې په ثبوت، او د روژې په وجوب کې د حاکم حکم شرط نه دی، لیکن که په خپل مذهب کې یې د میاشتې پر ثبوت باندې پر هره رأیه حکم وکړ، نو پر ټولو خلکو باندې روژه واجبیږي، که څه هم د ځینو خلکو له مذهب سره د دو فیصله مخالف وي، ځکه د حاکم حکم اختلاف له منځ څخه رفع کوي، او شرعي دلیل ګڼل شوی دی، او دا رأیه د شافعي مذهب څخه پرته د ټولو مذاهبو په اتفاق دی، او په شافعي مذهب کې په دې اړه وايي: د میاشتې په ثبوت، او د روژې په واجبوالي کې د حاکم حکم شرط دی.

---

[1] سنن الدارقطني تأليف: أبو الحسن علي بن عمر البغدادي الدارقطني (ت ٣٨٥ هـ) لومړی چاپ، د چاپ کال: ١٤٢٤ هـ، ٣/ ١١٤ حديث نمبر: ٢١٨٠، او امام ترمذي هم په ترمذي کې په بل لفظ روايات کړی دی (الصَّوْمُ يَوْمَ تَصُومُونَ، وَالفِطْرُ يَوْمَ تُفْطِرُونَ، وَالأَضْحَى يَوْمَ تُضَحُّونَ) وقال: «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ» ٣/ ٧١ حديث نمبر: ٦٩٧.

[2] الفقه على المذاهب الأربعة تأليف: شيخ عبدالرحمن بن محمد عوض الجزيري ١/ ٥٠١.

## دويم مبحث: د مطالعو د اختلاف اغيزي

د مطالعو اختلاف يو له اساسي موضوعاتو څخه ګڼل کيږي، ځکه د دې اهميت په عبادتي مسايلو کې خاصة د روژې، اخترونو، او اسلامي مياشتو د پيل او پای پوري ډېر تړاو لري، بناء په دې مبحث کې به دا واضح شي، چې د مطالعو اختلاف پر لمانځه، روژه، او اخترونو باندې څومره اغيزي لري.

### لومړی مطلب: پر لمانځه باندې د سپوږمۍ د مطالعو د اختلاف اغيزه

په دې مطلب کې به دا خبره روښانه شي چې د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف د لمانځه پر وختونو باندې کومه اغېزه لري او که يې نه لري؟ د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف د لمانځه پر وختونو باندې کومه اغېزه نه لري، يعني د هر ښار او هيواد لپاره د لمانځه خپل خپل وخت ته اهميت ورکړل شوی دی، او د بل هيواد او يا ښار پر مطالعوعمل نه کيږي، ځکه د لمانځه وختونه د لمر د مطالعو تر اختلاف پوري تعلق او تړاو لري، او لمونځ په خپل وخت کې فرض دی، او د لمانځه اوقات په هره سيمه کې مختلف دي، نو ځکه بايد خپل وخت ته يې اعتبار ورکړل شي، او د لمانځه وختونو ته چې د هرې سيمه جلا اعتبار ورکړل شوی دی، دا ځکه چې مشقت او حرج پر مسلمانانو واقع نه شي، او د مطالع القمر اختلاف ته په روژه او عيد الفطر کې د نه اعتبار ورکولو په صورت کې پر مسلمانانو باندې کومه ستونزه او مشقت نه را منځته کيږي، ځکه روژه او اختر په کال کې يوځلي وي، او لمانځونه خو په شپه او ورځ کې پنځه ځلي وي. لکه څرنګه چې علامه شامي (رحمه الله) وايي: «**ولو تعلق عموم الخطاب بمطلق مسمى الأوقات لزم الحرج العظيم لتكرارها كل يوم بخلاف الهلال فإنه في السنة مرة.**»[1] ژباړه: لکه څرنګه چې په روژه کې خطاب عام او تر مطلق رؤيت پوري تعلق ورکړ شوی دی، همداسې شان که د لمانځه په اړه وای، نو لوی مشقت او سختي به رامنځ ته شوي وه، ځکه د لمانځونو تکرار هره ورځ وي، او په داسې حال کې چې روژه په کال کې يو ځلي وي.

[1] مجموعة رسائل ابن عابدين تأليف: ابن عابدين ٢٥٢/١ في رسالته (تنبيه الغافل والوسنان على أحكام هلال رمضان، الفصل الرابع)

**رشيد أحمد گنگوهي (رحمه الله تعالى) وايي:**

**«فإن اختلاف المطالع معتبر في جميع المسائل عند جميع الأئمة كالزكاة والأضحية وأوقات الصلاة، فالمعتبر عند كل أهل بلد رؤيتهم إلا أن الإمام خصص من ذلك الحكم الصيام خاصة، فقال: بأن رؤية أهل مطلع يجب الصيام بحسبها لكل أهل الأرض.»** [١]

ژباړه: د مطالعو اختلاف د ټولو أئمه وو په وړاندې په ټولو مسائلو کې معتبر دی. لکه زکات، قرباني، او د لمانځه وختونه، مگر امام أبو حنيفه (رحمه الله) له يادو احکامو څخه روژه ځانگړې کړې ده. او وايي: د يوې مطلعې د خلکو رؤيت د ټولې ځمکې په خلکو روژه واجبوي.

له وړاندې څرگندوالي څخه دا پايله په لاس راغله چې د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف د لمانځه پر وختونو باندې کومه اغيزه نه لري، دا ځکه چې د لمانځه وختونه د لمر د مطالعو تر اختلاف پورې تعلق لري، او د لمر د مطالعو اختلاف ته ځکه اعتبار ورکړ شوی دی، چې د مسلمانانو لپاره د مشقت او سختې لامل نه شي.

**دويم مطلب: پر روژه او عيدالفطر باندې د سپوږمۍ د مطالعو د اختلاف اغيزه**

په دې مطلب کې به دا ورښانه شي چې د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف پر روژه او عيدالفطر باندې کومې اغيزې لري، د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف پر روژه او عيدالفطر باندې د اغيزې لرلو او نه لرلو په اړه د علماوو تر منځ اختلاف شته، او دا اختلاف د مطالعو د اختلاف تر اعتبار او عدم اعتبار پورې تعلق لري، او د مطالعو داختلاف په اړه درې اقوال وو، د لومړي قول د اصحابو دا رأيه وه چې د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف په روژه او عيدالفطر کې اعتبار لري، يعني د هر ځای خپل رؤيت ته اعتبار ورکول کيږي، د بل ځای په رؤيت باندې به عمل نه کيږي، او دا رأيه له احنافو څخه د امام زيلعي (رحمه الله) وه.

---

[١] الکوکب الدري علي جامع الترمذي تأليف: شيخ رشيد أحمد بن هداية أحمد الأنصاري الکنکوهي (ت ١٣٢٣ هـ) تحقيق: محمد زکريا بن محمد يحيى الکاندهلوي، چاپونکې اداره: ندوة العلماء ـ الهند، د چاپ کال: ١٣٩٥ هـ ٢/ ٣٣ (باب ما جاء أن الصوم لرؤية الهلال والافطارله).

او د دویم قول د اصحابو دا رأيه وه چې د مطالعو اختلاف په نژدې فاصله کې اعتبار نه لري، او په لرې فاصله کې اعتبار لري، د نژدې او لرې فاصلې معیار هم څرګند شو، او دا رأيه په احنافو کې د ملک العلماء امام کاساني (رحمه الله) وه، او د دریم قول د اصحابو دا رأيه وه چې د مطالعو اختلاف په روژه او عیدالفطر کې اعتبار نه لري، یعني که په هر ځای کې په شرعي توګه د میاشتې لیدنه وشي، او نورو ته په موجبه طریقې ورسیږي، نو د نالیدلو لپاره موجب د عمل دی، او دا رأيه په احنافو کې د ډېرو مشایخو وه، نو اوس دې پایله ته رسیږو چې د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف د لومړي او دویم قول د اصحابو په وړاندې په روژه او عیدالفطر باندې کومه اغیزه نه لري، او د دریم قول د اصحابو په وړاندې د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف پر روژه او عیدالفطر باندې اغېزه لري.

## دریم مطلب: په لوی اختر کې د مطالعو اختلاف

په یاد مطلب که دا موضوع تر څېړنې لاندې نیول کیږي چې ایا د سپوږمۍ د مطالعو اختلاف پر عید الأضحی کې کومه اغېزه لري او که یې نه لري؟ او په لوی اختر (عید الأضحی) کې د مطالعو اختلاف اعتبار لري او که یې نه لري؟ په حنفي فقه کې په لوی اختر کې د مطالع اختلاف اعتبار لري. یعني کله چې په یو هیواد کې د میاشت لیدل په شرعي طریقه ثابت شي، او په داسې حال کې په بل هیواد کې میاشت نوې لیدل شوي، نو د حنفي فقه موافق له هغوی سره لوی اختر کول لازمي نه دي.

**علامه ابن عابدین (رحمه الله) وایي:**

**« لِأَنَّ اخْتِلَافَ الْمَطَالِعِ إنَّمَا لَمْ يُعْتَبَرْ فِي الصَّوْمِ لِتَعَلُّقِهِ بِمُطْلَقِ الرُّؤْيَةِ، وَهَذَا بِخِلَافِ الْأُضْحِيَّةِ فَالظَّاهِرُ أَنَّهَا كَأَوْقَاتِ الصَّلَوَاتِ يَلْزَمُ كُلَّ قَوْمٍ الْعَمَلُ بِمَا عِنْدَهُمْ فَتُجْزِئُ الْأُضْحِيَّةُ فِي الْيَوْمِ الثَّالِثَ عَشَرَ وَإِنْ كَانَ عَلَى رُؤْيَا غَيْرِهِمْ هُوَ الرَّابِعَ عَشَرَ وَاَللَّهُ أَعْلَمُ »** [1]

[1] ردالمحتار تألیف: ابن عابدین ۲/ ۳۹۴

ژباړه: د مطالعو اختلاف ته چې په روژه کې اعتبار نه دی ورکړل شوی، ځکه تر مطلق رؤيت پورې تعلق لري، او دا د عيدالأضحی بر خلاف دی، نو ښکاره خبره دا ده چې د مطالعو اختلاف په عيدالأضحی کې د لمانځونو د وختونو په څېر دی، په هر قوم باندې د خپل ثبوت پر مهال عمل لازمیږي، نو د ذوالحجې په دیارلسم تاريخ هم قرباني صحيحه ده، که څه هم د بل ځای په رؤيت کې د ذوالحجې څوارلسم تاريخ وي. والله أعلم.

له وړاندې متن څخه دا څرګند شو، چې د مطالعو اختلاف په لوی اختر کې لکه د لمانځونو د وختونو په څېر اعتبار لري، او دليل يې دا بيان کړ چې اختلاف المطالع په روژه کې ځکه اعتبار نه لري، ځکه چې تر مطلق رؤيت پورې تړاو لري، او په لوی اختر کې همداسې خبره نه ده. او بيا يې وويل: د ذوالحجې په ديارلسم تاريخ هم قرباني کول روا ده، په داسې حال کې چې په بل هيواد کې د ذوالحجې څوارلسم تاريخ وي، او دا پيښه په کال ۱۴۰۴ هـ کې وشوه، هغه داسې چې په سعودي عربستان کې د ذوالحجې د مياشتې څوارلسم تاريخ وو، او په افغانستان کې د ذوالحجې د مياشتې ديارلسم تاريخ وو، يعني يوه ورځ له هغوی څخه اختر شاته وو، نو په لوی اختر کې يې د مطالعو اختلاف ته اعتبار ورکړی وو.

**په الکوکب الدري کې راغلي دي:**

**«فإن اختلاف المطالع معتبر في جميع المسائل عند جميع الأئمة كالزكاة والأضحية وأوقات الصلاة، فالمعتبر عند كل أهل بلد رؤيتهم إلا أن الإمام خصص من ذلك الحكم الصيام خاصة، فقال: بأن رؤية أهل مطلع يجب الصيام بحسبها لكل أهل الأرض.»** [1]

ژباړه: د مطالعو اختلاف د ټولو أئمه وو په وړاندې په ټولو مسائلو کې معتبر دی. لکه زکات، قرباني، او د لمانځه وختونه، مګر امام أبو حنيفه له يادو احکامو څخه روژه ځانګړې کړې ده. او وايي: د يوې مطلعې د

[1] الکوکب الدري علي جامع الترمذي تأليف: شيخ رشيد أحمد بن هداية أحمد الأنصاري الکنکوهي ۲/ ۳۳ (باب ما جاء أن الصوم لرؤية الهلال والافطارله).

خلکو رؤیت د ټولي ځمکي په خلکو روژه واجبوي. علامه گنگوهي (رحمه الله) هم په لوی اختر کې د مطالعو اختلاف ته اعتبار ورکړی دی، او دا خبره يې هم یاده کړه چې د نورو علماوو هم دا رایه ده. او دا هم څرگند شو چې د سپوږمۍ د مطالعو  اختلاف پر عیدالأضحی باندې کومه اغېزه نشته، او د لمانځه د وختونو په څېر د هر ښار او هیواد لپاره خپلو خپلو وختونو ته اعتبار ورکول کیږي.

**وآخر دعوانا أن الحمدُ لله رب العالمين.**

د الله تعالی حمد او ثناء وایم چې ما ته يې د دې څېړنې د پوره کېدلو او سرته رسولو توفق را نصیب کړ. د انسان هڅې همېشه نیمگړتیاوي لري، بناء له دې اصل څخه زمونږ څېړنه هم مستثنی نه ده، که کوم افکار نا درست وو، نو د انساني سهوي پایله به وي، او د الله تعالی دین ځیني پاک او مبرا دی.

## د څېړنې پایلې:

د دې لنډې څېړنې له لیکلو څخه وروسته غواړم چې هغه پایلې او نتایج راوړم کوم چې د دې څېړنې په پایله کې ورته رسېدلی یم:

**الف:** فلکي علوم په خپل ذات کې مذموم علوم نه دي، بلکې له روژې او اختر څخه پرته په نورو چارو کې زمونږ لپاره ډېرې ګټورې پایلې لري. د بېلګې په توګه: انسان ته د الله تعالی د کایناتو د جوړښت په اړه ښه ژوره پوهه ورکوي، او د الله تعالی د کایناتو د جوړښت، قدرت، او عظمت په اړه د فکر کولو ښه فرصت برابروي.

**ب:** د فلکي حساباتو په وړاندوینو باندې عمل کول په اسلام کې مطلقاً منع شوی نه دی، بلکې په ځانګړو احکامو کې یې منع راغلې دی، لکه د روژې په واجبوالي کې او داسې نور... ، نو دا ځانګړي احکام به له اصل څخه مستثنی وي.

**ج:** که چیري مسلمانان فلکي علومو ته ارزښت ورنه کړي، نو په یاده برخه کې د مسلمانانو د شاتګ لامل کیږې، لکه څرنګه چې په دې برخه کې شاته پاته شوي دي.

**د:** اصل په اختلاف المطالع کې اختلاف نشته، بلکې اختلاف یې په اعتبار او عدم اعتبار کې دی، او په دې اړه درې اقوال وو، لومړی قول دا وو چې د مطالعو اختلاف اعتبار لري، او دویم قول دا وو چې د مطالعو اختلاف په نژدې فاصله کې اعتبار نه لري، او په لرې فاصله کې اعتبار لري، او د نژدې او لرې فاصلې معیار تر اختلاف المطالع پورې تعلق لري، او دریم قول دا وو چې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، او دا راجح او مفتی به قول وو، نو اوس که په یو هیواد کې د میاشتې اثبات په شرعي طریقې وشي، او بیا یې له معتمدې سرچینې څخه اعلان وشي، او نالیدلو ته د غالب ګومان لپاره مفید وي، نو موجب د عمل دی، البته که په

افغانستان کې له نورو هیوادونو سره روژه او یا عید الفطر نه کوي، نو بیا به خلک د خپل وطن د رؤیت مطابق عمل کوي، ترڅو د خپل آمر مخالفت رامنځ ته نشي، او له اختلافاتو څخه مخنیوی وشي. والله أعلم.

**هـ :** د اختلاف المطالع قضیه یوه پیچده قضیه ده، حل کېدل یې یو ډېر ستونزمن کار دی، بناء په دې اړه د مخکیني علماوو له نصوصو څخه د فهم تقلید کول یوه ښه د حل لاره ده، البته که د مخکینو علماؤ په یوه مسأله کې د نظرونو اختلاف وو، نو بیا د فتوی د اصولو مطابق اقدام کیږي.

## د څېړنې وړاندیزونه:

د مطالعو د اختلاف د حکم او څرګندوالي په اړه په عامه توګه د فقهي مذهبونو او په ځانګړي توګه د حنفي مذهب د څرګند دریځ د روښانه کولو څخه وروسته علماوو ته دا لاندې یو څو سپارښتني لرم:

**لومړی:** د مطالعو د اختلاف په اړه له معاصرو علماوو سره دا ښایي چې پر یو قول باندې اتفاق وکړي، تر څو له تکراري اختلافاتو څخه وژغورل شي.

**دویم:** دا او دې ته ورته اختلافي موضوعاتو کې باید له اختلاف سره ښه تعامل وکړل شي، له اختلاف سره ښه تعامل کول د اتفاق او یوالي لامل کیږي، او همدا د پخواني علماوو یو ښه دریځ دی.

**دریم:** په اختلافي مسایلو کې د فتوی د اصولو او قوانینو مطابق د مسألې د حل لوري ته تلل، یو مهم اصل ګڼل کیږي.

**څلورم:** د حکومت له اړونده ارګانونو او په ځانکړي توګه له علماوو څخه احتراماً دا غوښتنه کیږي، چې دوی باید په ځانګړې توګه د اختلافي، او جدیده مسایلو د حل لپاره یو (فقهې مجلس) د افغانستان په کچه ولري، تر څو اختلافي مسایل، جدیده مسایل، فکري پوهاوی، او د مستشرقینو د نیوکو لپاره جواب ویونکي وي. او د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره له پوهانوسره مشوره کول اړینه ده، د یادو سپارښتنو د تطبیق په هیله.

## د قرآني آيتونو نوملړ

| گڼه | آيتونه | سورت | صفحه |
|---|---|---|---|
| ۱ | فمن شهد منكم الشهر فليصمه... | بقرة | ۱۴ |
| ۲ | ولله على الناس حج البيت من استطاع إليه سبيلاً... | آل عمران | ۱۴ |
| ۳ | إن في خلق السموات والأرض... | آل عمران | ۱۸ |
| ۴ | قالوا يشعيب ما نفقه كثيرا مما تقول... | هود | ۱۲ |
| ۵ | هو الذي جعل الشمس ضياء... | يونس | ۱۷ |
| ۶ | هو الذي جعل الشمس ضياء... | يونس | ۱۷ |
| ۷ | وإن من شيء إلا يسبح بحمده... | الإسراء | ۱۲ |
| ۸ | أقم الصلاة لدلوك الشمس... | الإسراء | ۱۴ |
| ۹ | حتى إذا بلغ مطلع الشمس... | الكهف | ۱۰ |
| ۱۰ | وهو الذي خلق الليل والنهار... | الأنبياء | ۱۶ |
| ۱۱ | و كل في فلك يسبحون... | يس | ۱۶ |
| ۱۲ | و سخر لكم ما في السموات وما في الأرض جميعا منه... | جاثيه | ۱۷ |
| ۱۳ | سلام هي حتى مطلع الفجر. | قدر | ۱۰ |

## د نبوي احاديثو نوملړ


| گڼه | حديث | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | لا تصوموا حتى تروا الهلال ولا تفطروا حتى تروه... | ۲۰ |
| ۲ | إنا أمة أمية لا نكتب ولا نحسب... | ۲۸ |
| ۳ | صوموا لرؤيته و أفطروا لرؤيته... | ۲۴ |
| ۴ | عن كريب فقدمت الشام... واستهل علي رمضان... فرأيت الهلال. | ۳۷ |
| ۵ | ليس لقاتل ميراث | ۱۴ |


## د اعلامو نوملړ


| گڼه | اعلام | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | تقي الدين السبكي | ۱۹ |
| ۲ | شيخ أحمد محمد شاكر | ۱۹ |
| ۳ | القرضاوي | ۱۹ |
| ۴ | ابن سريج | ۲۱ |
| ۵ | مطرف بن عبدالله | ۲۲ |
| ۶ | ابن قتيبه الدينوري | ۲۲ |
| ۷ | شهاب الدين الرملي | ۲۲ |
| ۸ | البهوتي | ۲۷ |
| ۹ | الإمام النووي | ۲۷ |
| ۱۰ | الزيلعي | ۳۶ |

| | | |
|---|---|---|
| ١١ | الكاساني | ٣٦ |
| ١٢ | عكرمه بن عبدالله المدني | ٣٧ |
| ١٣ | قاسم بن محمد | ٣٧ |
| ١٤ | سالم بن عبدالله | ٣٧ |
| ١٥ | إسحاق بن راهويه | ٣٧ |
| ١٦ | ابن الماجشون | ٣٨ |
| ١٧ | المغيرة المالكي | ٣٨ |
| ١٨ | كريب | ٣٩ |
| ١٩ | عبدالله بن عباس | ٣٩ |
| ٢٠ | ابن عابدين | ٤٥ |
| ٢١ | أشرف علي التهانوي | ٥٧ |
| ٢٢ | مفتي كفايت الله | ٥٧ |
| ٢٣ | شيخ غلام رسول | ٥٨ |

**مأخذونه:**

١ـ  القرآن الكريم

٢ـالبخاري، أبو عبدالله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي البخاري (المتوفى: ٢٥٦ هـ) صحيح البخاري، پوره نوم يې:(الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله ــ صلى الله عليه وسلم ــ وسننه وأيامه) تحقيق: د.مصطفى ديب البغاء ، نشرونكي اداره: ( دار طوق النجاة) ــ بيروت، لومړی چاپ، د چاپ كال: ١٤٢٢ هـ ش.

٣ـالترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى بن سَورة بن موسى بن الضحاك (المتوفى: ٢٧٩ هـ ) سنن الترمذي، تحقيق: د. بشار عواد معروف ، نشرونكي اداره: (دار الغرب الإسلامي) ــ بيروت، د چاپ كال: ١٩٩٨ م .

٤ـ النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: ٢٦١ هـ) صحيح مسلم، پوره نوم يې:(المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم) تحقيق: محمد فؤاد عبدالباقي ، نشرونكي اداره: (دار إحياء التراث العربي) ــ بيروت.

٥ـ الهمام ، كمال الدين محمد بن عبدالواحد السيواسي المعروف بابن الهمام الحنفي (ت ٨٦١هـ) شرح فتح القدير على الهداية، نشرونكي اداره: (دارالفكر) ــ بيروت.

٦ـالدمشقي، محمد أمين بن عمر بن عبدالعزيز الشهير بابن عابدين الدمشقي الحنفي (ت ١٢٥٢ هـ) رد المحتار على الدر المختار، چاپونكي اداره: ( دارالفكر) ــ بيروت، دويم چاپ، د چاپ كال: ١٤١٢ هـ / ١٩٩٢م.

٧ـ الزيلعي، عثمان بن على بن محجن البارعي، فخرالدين الزيلي الحنفي ( ت ٧٤٣ هـ) تبيين الحقائق شرح كنزالدقائق وحاشية الشلبي، الحاشية: شهاب الدين أحمد بن محمد الشلبي ( ت ١٠٢١ هـ) چاپونكي اداره: (المطبعة الكبرى الأميرية) ــ القاهرة  لومړی چاپ، د چاپ كال: ١٣١٣ هـ .

٨ ـ المصري، زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم المصري(ت ٩٧٠ هـ) البحرالرائق شرح كنزالدقائق، ومنحة الخالق، وتكملة الطوري وفي آخره: تكمله الطوري تأليف: محمد بن حسين بن على الطوري الحنفي القادري ( ت ١١٣٨ هـ) وبالحاشية: منحة الخالق لابن عابدين، نشرونكي اداره: (دار الكتاب الإسلامي)، دويم چاپ.

٩ـ الشيخ زاده، عبدالرحمن بن محمد بن سليمان المدعو بشيخي زاده. (ت ١٠٧٨ هـ) مجمع الأنهر في شرح ملتقي الأبحر، چاپونكي اداره: (دار إحياء التراث العربي).

١٠ـ الكاساني، علاءالدين أبوبكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي الملقب بـ « ملك العلماء » (ت ٥٨٧ هـ) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، چاپونكي اداره: (دارالكتب العلمية) دويم چاپ، د چاپ كال: ١٤٠٦ هـ / ١٩٨٦ م .

١١ـ الموصلي، عبدالله بن محمود مودود الموصلي البلدحي،مجد الدين أبو الفضل الحنفي(ت ٦٨٣ هـ) الاختيار لتعليل المختار، چاپونكي اداره: (دار الكتب العلمية) ــ بيروت، د چاپ كال: ١٣٥٦ هـ / ١٩٣٧ م .

١٢ـ النسفي، أبو البركات عبدالله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي ( ت ٧١٠ هـ) كنزالدقائق، تحقيق: أ. د. سائد بكداش، چاپونكي اداره: (دارالبشائر الإسلامية، دارالسراج) لومړى چاپ، د چاپ كال: ١٤٣٢ هـ / ٢٠١١ م .

١٣ـ الشرنبلالي، حسن بن عمار بن على الشرنبلالي المصري الحنفي (ت ١٠٦٩ هـ) مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح، نشرونكي اداره: (المكتبة العصرية) لومړى چاپ، د چاپ كال: ١٤٢٥ هـ / ٢٠٠٥ م .

١٤ـ مجلة الأحكام العدلية، تأليف: لجنة مكونة من عدة العلماء وفقهاء في الخلافة العثمانية، تحقيق: نجيب هواويني، چاپونكي اداره: (نور محمد، كارخانه تجارتِ كتب ) ــ آرام باغ، كراتشي.

١٥ـ الفتاوى الهندية، تأليف: لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخي، نشرونكي اداره: (دارالفكر) دويم چاپ، د چاپ كال: ١٣١٠ هـ.

١٦ـ الشوكاني، محمد بن على بن محمد بن عبدالله الشوكاني اليمني (ت ١٢٥٠ هـ) نيل الأوطار، تحقيق: عصام الدين الصبابطي، چاپونكي اداره: دارالحديث ــ مصر، لومړى چاپ، د چاپ كال: ١٤١٣هـ / ١٩٩٣ م.

١٧ـ الفرغاني، الإمام فخرالدين الحسن بن منصور، المعروف بقاضيخان الفرغاني (ت ٥٩٢ هـ) فتاوي قاضيخان في مذهب الإمام الأعظم أبي حنيفة النعمان، تحقيق: سالم مصطفى البدري، چاپونكي اداره: (دارالكتب العلمية) ــ بيروت، لومړى چاپ، د چاپ كال: ٢٠٠٩م.

١٨ـ فتاوى اللجنة الدائمة، تأليف: اللجنة الدائمة للبحوث العلمية و الإفتاء، تحقيق: أحمد بن عبدالرزاق الدويش، چاپونكي اداره: (رئاسة إدارة البحوث العلمية و الإفتاء) ــ الرياض.

١٩ـ الجندي، خليل بن إسحاق بن موسى ضياء الدين الجندي المالكي المصري (ت ٧٧٦ هـ) مختصر خليل، تحقيق: أحمد جاد، نشرونكي اداره: (دارالحديث) ــ القاهرة، لومړى چاپ، د چاپ كال: ١٤٢٦ هـ / ٢٠٠٥م.

٢٠ـ الحطاب، شمس الدين أبو عبدالله محمد بن محمد بن عبدالرحمن الطرابلسي المغربي المالكي، المعروف بالحطاب (ت ٩٥٤ هـ) مواهب الجليل في شرح مختصر خليل، چاپونكي اداره: (دارالفكر) دويم چاپ، د چاپ كال: ١٤١٢ هـ ١٩٩٢م.

٢١ـ الدميري، تاج الدين بهرام بن عبدالله بن عبدالعزيز الدميري (ت ٨٠٣ هـ) تحبير المختصر شرح مختصر خليل، تحقيق: د. أحمد بن عبدالكريم نجيب ـ د. حافظ بن عبدالرحمن خير، چاپونكي اداره: (مركز نجيبويه للمخطوطات وخدمة التراث) لومړى چاپ، د چاپ كال: ١٤٣٤ هـ / ٢٠١٣ م.

٢٢ـ المالكي، محمد بن أحمد بن محمد عليش، أبو عبدالله المالكي (ت ١٢٩٩هـ) منح الجليل شرح مختصر خليل، چاپونكي اداره: (دارالفكر) ــ بيروت، د چاپ كال: ١٤٠٩ هـ / ١٩٨٩ م.

٢٣ـ العبدري، محمد بن يوسف بن أبي القاسم بن يوسف العبدري الغرناطي، أبو عبدالله المواق المالكي (ت ٨٩٧هـ) التاج والإكليل لمختصرخليل، چاپونكي اداره: (دارالكتب العلمية) لومړی چاپ، د چاپ كال: ١٤١٦ هـ / ١٩٩٤ م .

٢٤ـ الحفيد، أبو الوليد محمد بن أحمد الشهير بابن رشد الحفيد (ت ٥٩٥ هـ) بداية المجتهد ونهاية المقتصد، چاپونكي اداره: (دارالحديث) ـ القاهرة ، د چاپ كال: ١٤٢٥ هـ / ٢٠٠٤ م .

٢٥ـ المالكي، محمد بن أحمد بن محمد عليش، أبو عبدالله المالكي (ت ١٢٩٩هـ) فتح العلي المالك في الفتوى على مذهب الإمام المالك، چاپونكي اداره: (دارالمعرفة).

٢٦ـ النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف، النووي (ت ٦٧٦هـ) المجموع شرح المهذب، نشرونكي اداره: (دارالفكر).

٢٧ـ النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف، النووي (ت ٦٧٦هـ) روضة الطالبين وعمدة المفتين، تحقيق: زهير الشاويش، نشرونكي اداره: (المكتب الإسلامي) ـ بيروت ، دمشق ، عمان، دريم چاپ ، د چاپ كال: ١٤١٢هـ / ١٩٩١م .

٢٨ـ الرملي، شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة شهاب الدين الرملي ( ت ١٠٠٤ هـ) نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج، نشرونكي اداره: (دارالفكر) ـ بيروت ، د چاپ كال: ١٤٠٤ هـ / ١٩٨٤ م .

٢٩ـ الرملي، شهاب الدين أحمد بن حمزة الأنصاري الرملي الشافعي (ت ٩٥٧ هـ) فتاوى الرملي، چاپونكي اداره: (المكتبة الإسلامية).

٣٠ـ النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف، النووي (ت ٦٧٦هـ) المنهاج شرح صحيح مسلم ، نشرونكي اداره: (دار إحياء التراث العربي) ـ بيروت، دويم چاپ، د چاپ كال: ١٣٩٢ هـ .

٣١ـ الصالحي، موفق الدين أبو محمد عبدالله بن أحمد بن محمد بن قدامة المقدسي الجماعيلي الدمشقي الصالحي الحنبلي (ت ٥٤١ ــ ٦٢٠ هـ) المغني، تحقيق: الدكتور عبدالله بن عبدالمحسن التركي ، الدكتور عبد الفتاح محمد الحلو، چاپونكي اداره: (دار عالم الكتب) ــ العربية السعودية ، دريم چاپ ، د چاپ كال: ١٤١٧ هـ / ١٩٩٧ م .

٣٢ـ المرداوي، علاء الدين أبو الحسن على بن سليمان بن أحمد المرداوي (ت ٨٨٥ هـ ) الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف، تحقيق: الدكتور عبدالله بن عبدالمحسن التركي، الدكتور عبد الفتاح محمد الحلو، چاپونكي اداره: (هجر) ــ مصر ، لومړى چاپ، د چاپ كال: ١٤١٥ هـ / ١٩٩٥ م .

٣٣ـ البهوتي، أبو السعادات منصور بن يونس البهوتي الحنبلي المصري (ت ١٠٥١ هـ ) كشاف القناع عن متن الإقناع، نشرونكي اداره: ( دارالكتب العالمية ).

٣٤ـ العسقلاني، أحمد بن على بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي ( ت ٨٥٢ هـ ) فتح الباري شرح صحيح البخاري، چاپونكي اداره: (دارالمعرفة) ــ بيروت ، د چاپ كال: ١٣٧٩ هـ .

٣٥ـ العيني، أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابي الحنفي بدرالدين العيني ( ت ٨٥٥ هـ ) عمدة القاري شرح صحيح البخاري، چاپونكي اداره: ( دار إحياء التراث العربي ) ــ بيروت.

٣٦ـ العبسي، أبو بكر بن أبي شيبة، عبدالله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي العبسي ( ت ٢٣٥ هـ ) مصنف ابن أبي شيبه، تحقيق: كمال يوسف الحوت ، چاپونكي اداره: (مكتبة الرشد) ــ رياض ، لومړى چاپ ، د چاپ كال: ١٤٠٩هـ .

٣٧ـ البيهقي، أحمد بن الحسين الخراساني، أبو بكر البيهقي (ت ٤٥٨ هـ ) السنن الكبرى، تحقيق: محمد عبدالقادر عطاء، نشرونكي اداره: ( دارالكتب العلمية ) ــ بيروت ، دريم چاپ ، د چاپ كال: ١٤٢٤ هـ / ٢٠٠٣م.

٣٨ـ الغزنوي، شيخ غلام رسول الغزنوي القره باغي، تحقيق المقال في حكم رؤية الهلال، چاپونكي اداره: ( اسد دانش مطبعه ) ــ كابل.

٣٩ـ العثماني، أ. د. محمد تقي العثماني، بحوث في قضايا فقهية معاصرة، چاپونكي اداره: (مكتبة وزارة الأوقاف و الشؤون الإسلامية و إدارة الشؤون الإسلامية ) ـ القطر، د چاپ كال: ١٤٣٤ هـ / ٢٠١٣ م .

٤٠ـ الزحيلي، د. وهبة بن مصطفى الزحيلي ( ت ١٤٣٦ هـ ) التفسير المنير في العقيدة والشريعة والمنهج، چاپونكي اداره: ( دارالفكر المعاصر ) ــ دمشق ، دويم چاپ ، د چاپ كال: ١٤١٨ هـ .

٤١ـ الآمدي، أبو الحسن سيدالدين علي بن أبي علي محمد بن سالم الثعلبي الشهير بـ الآمدي (ت ٦٣١ هـ ) الإحكام في أصول الأحكام، تحقيق: عبدالرزاق عفيفي ، چاپونكي اداره: (المكتب الإسلامي ) ــ بيروت .

٤٢ـ الزحيلي، د. وهبة بن مصطفى الزحيلي ( ت ١٤٣٦ هـ ) أصول الفقه الإسلامي، چاپونكي اداره: ( مكتبة رشيدية ).

٤٣ـ الدمشقي، محمد أمين بن عمر بن عبدالعزيز الشهير بابن عابدين الدمشقي الحنفي (ت ١٢٥٢ هـ) مجموعة رسائل ابن عابدين، چاپونكي اداره: ( دار عالم الكتب ).

٤٤ـ الكنكوهي، رشيد أحمد الكنكوهي ( ت ١٢٢٣ هـ ) الكوكب الدري على جامع الترمذي، تحقيق: محمد زكريا بن محمد يحيى الكاندهلوي، چاپونكي اداره: (مطبعة ندوة العلماء ) ــ هند ، د چاپ كال: ١٣٩٥ هـ .

٤٥ـ الدمشقي، محمد أمين بن عمر بن عبدالعزيز الشهير بابن عابدين الدمشقي الحنفي (ت ١٢٥٢ هـ) شرح عقود رسم المفتي، چاپونكي اداره: ( إمام محمد غزالي ) لومړی چاپ ، د چاپ كال: ١٣٩٥ هـ ش .

٤٦ـ العثماني، شيخ . د. محمد تقي العثماني، چاپونكي اداره: ( إمام محمد غزالي ) أصول الإفتاء وآدابه، لومړی چاپ، د چاپ كال: ١٣٩٧ هـ ش .

۴۷ـ التمرتاشي، محمد بن عبدالله بن أحمد الخطيب التمرتاشي الغزي الحنفي الشهير بالشمس الدين والتمرتاشي ( ت ۱۰۰۴ هـ ) تنوير الأبصار وجامع البحار، چاپونكي اداره: ( مكتبة النبوية ) ـ مصر، د چاپ كال: ۱۹۱۳ م.

۴۸ـ المجددي، فقيه العصر مفتي محمد فريد المجددي ( ب ت ) فتاوى فريديه، تحقيق: لطف الرحمن، خپرونكي اداره: (مكتبة رشيدية ) ــ باكستان، لومړى چاپ، د چاپ كال: ۲۰۱۱ م.

۴۹ـ الأنصاري، محمد بن مكرم بن علي، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الشهير بابن منظور ( ت ۷۱۱ هـ) لسان العرب، چاپونكي اداره: (دار صادر) ــ بيروت ، دريم چاپ ، د چاپ كال: ۱۴۱۴ هـ .

۵۰ـ المعجم الوسيط، تأليف: مجمع اللغة العربية بالقاهرة ( إبراهيم مصطفى / أحمد الزيات / حامد عبدالقادر / محمد النجار ) چاپونكي اداره: (دارالدعوة ) .

۵۱ ـ الحصفكي، محمد بن علي بن محمد بن علي بن عبدالرحمن الحنفي الشهير بـ الحصفكي ( ت ۱۰۸۸ هـ ) الدرالمختار ، چاپونكي اداره: ( دارالكتب العلمية ) ـــ بيروت، لومړى چاپ، د چاپ كال: ۱۴۲۳ هـ ـــ ۲۰۰۲ م .

۵۲ ـ الدهلوي، الإمام فريد الدين عالم بن العلاء الدهلوي الهندي ( ت ۷۸۶ هـ ) فتاوى تاتار خانيه، تحقيق: شبير أحمد القاسمي، چاپونكي اداره: ( مكتبة رشيدية ).

۵۳ ـ گنگوهي، مفتي رشيد أحمد گنگوهي، فتاوى رشيديه، چاپونكي اداره: ( تاج كتب خانه ) ــ كندهار.

۵۴ ـ الرازي، أحمد بن فارس بن زكرياء القزويني الرازي، أبو الحسين ( ت ۳۹۵ هـ ) معجم مقاييس اللغة، تحقيق: عبدالسلام محمد هارون ، چاپونكي اداره: ( دار الفكر ) د چاب كال: ۱۳۹۹ هـ ـــ ۱۹۷۹ م .

۵۵ ـ معجم اللغة العربية المعاصرة، تأليف: د. أحمد مختار عبد الحميد عمر ( ت ۱۴۲۴ هـ ) چاپونكي اداره: (عالم الكتب ) لومړى چاپ، د چاپ كال: ۱۴۲۹ هـ ـــ ۲۰۰۸ م.

٥٦ ـ التهانوي، حكيم الأمة أشرف علي التهانوي ( ت ١٩٤٣ م ) امداد الفتاوى، تحقيق: مفتي محمد شفيع العثماني، چاپونكي اداره: ( مكتبة الحرم ) ـ كابل ـ پېښور.

٥٧ ـ الدهلوي، مفتي كفايت الله الدهلوي ( ت ١٩٥٢ م ) كفايت المفتي، چاپونكي اداره: ( مكتبة العلوم الدينية ).

٥٨ ـ الجزيري، عبدالرحمن بن محمد عوض الجزيري المصري ( ت ١٣٦٠ هـ ) الفقه على المذاهب الأربعة ، چاپونكي اداره: (دار الكتب العلمية ) ـ بيروت، دويم چاپ، د چاپ كال: ١٤٢٤ هـ ـ ٢٠٠٣ م .

٥٩ ـ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد، تأليف: عبدالحميد محمود طهماز ( ب ت ) چاپونكي اداره: (دارالقلم ) ـ دمشق، دويم چاپ، د چاپ كال: ١٤٣٠ هـ ـ ٢٠٠٩ .

٦٠ـ العروسي، محمد تاج شيخ عبدالرحمن العروسي (ب ت ) اختلاف المطالع وأثره في أحكام الشريعة ، چاپونكي اداره: ( عين الجامعة ).

٦١ـ البيضاوي، ناصرالدين أبو سعيد عبدالله بن عمر بن محمد الشيرازي البيضاوي ( ت ٦٨٥هـ ) أنوار التنزيل و أسرار التأويل، تحقيق: محمد عبدالرحمن المرعشلي، چاپونكي اداره: (دار إحياء التراث العربي ) ـ بيروت، لومړی چاپ، د چاپ كال: ١٤١٨ هـ .

٦٢ـ الجرجاني، على محمد بن على الزين، المعروف بالشريف الجرجاني، (ت ١٣٣٩ هـ ) كتاب التعريفات، چاپونكي اداره: (دار الكتب العلمية )، بيروت، لومړی چاپ، د چاپ كال: ١٤٠٣ هـ .

٦٣ ـ الحموي، أبو العباس أحمد بن محمد بن على الفيومي ثم الحموي (ت ٧٧٠ هـ) المصباح المنير في غريب الشرح الكبير، چاپونكي اداره: (المكتبة العلمية ).

٦٤ـ الأصبهاني، أبو القاسم الحسين بن محمد المعروف بالراغب الأصبهاني (ت ٥٠٢ هـ) المفردات في غريب القرآن ، تحقيق: صفوان عدنان الداودي،چاپونكي اداره: (دار القلم ) ـ بيروت، لومړی چاپ، د چاپ كال: ١٤١٢ هـ .

٦٥ـ الرفاعي، الدكتور مأمون الرفاعي ( ب ت ) نظرية الحساب الفلكي والرؤية الفلكية.

٦٦ـ السبكي، أبوالحسن تقي الدين علي بن عبدالكافي السبكي (ت ٧٥٦ هـ) فتاوى السبكي، چاپونكي اداره: (دار المعارف).

٦٧ـ القرضاوي، أ.د. يوسف القرضاوي ( ت ١٤٤٤ هـ ) الحساب الفلكي وإثبات أوائل الشهور.

٦٨ ـ شاكر، شيخ أحمد محمد شاكر ( ت ١٣٧٧ هـ ) أوائل الشهورالعربية، چاپونكي اداره: (مكتبة ابن تيمية) دويم چاپ، د چاپ كال: ١٤٠٧ هـ.

٦٩ـ فتاوى دارالعلوم زكريا، حضرت مولانا مفتي رضاء الحق ( ب ت ) چاپونكي اداره: (رشيديه مكتبه) ــ كندهار.

٧٠ـ العثماني، مفتي محمد تقي عثماني، فصل في رؤية الهلال، چاپونكي اداره: (مكتبة دارالعلوم الدينية) ــ باكستان.

٧١ ـ الرملي، شهاب الدين الرملي الشافعي (ت ٩٥٧ هـ ) فتاوى الرملي، چاپونكي اداره: (المكتبة الإسلامية).

٧٢ ـ مجلة مجمع الفقه الإسلامي تأليف: منظمة المؤتمر الإسلامي بجدة.

٧٣ ـ التهانوي، حكيم الأمة أشرف علي التهانوي ( ت ١٨٦٣ هـ ) إمداد الفتاوى، د فتوى رقم ١٦٣، چاپونكي اداره: (مكتبة الحرم) كابل/ پيښور.

٧٤ ـ الدهلوي، مفتي محمد كفايت الله الدهلوي ( ت ١٨٧٥ هـ ) كفاية المفتي، د فتوى رقم ٢٤٥، چاپونكي اداره: (مكتبة العلوم الدينية) ــ باكستان.

٧٥ ـ فتاوى حقانيه تأليف: شيخ الحديث مولانا عبدالحق ( ت ١٩٨٨ م ) چاپونكي اداره: ( جديد كتب خانه) ــ وزيرستان.

۷۶ ـ ملا، محمد بن فرامرز بن علي، الشهير بملا أو منلا (ت ۸۸۵ هـ ) دررالحكام شرح غررالأحكام ، چاپونكي اداره: (دار إحياء الكتب العربية).

۷۷ ـ لاجپوري، مفتي سيد عبد الرحيم لاجپوري ( ب ت ) فتاوي رحيميه، چاپونكي اداره: (مكتبة فاروقيه) ــ پېښور.

۷۸ ـ العثماني، مفتي محمد شفيع العثماني ( ت ۱۹۷۶ م ) آلات جديدة ، چاپونكي اداره: (حبيبي خپرندويه ټولنه) ــ كندهار.

۷۹ ـ الفاسي، علامه سيد محمد بن عبدالوهاب بن عبدالرازق الفاسي( ب ت ) خلاصة العذب الزلال في مباحث رؤية الهلال.

۸۰ ـ المدني، مالك بن أنس بن مالک بن عامر الأصبحي المدني ( ت ۱۷۹ هـ ) موطأ الإمام مالك، تحقيق: محمد فؤاد عبدالباقي، چاپونكي اداره: (دار إحياء التراث العربي)ـ بيروت، د چاپ كال: ۱۴۰۶ هـ .

۸۱ ـ البغدادي، أبو الحسن علي بن عمر البغدادي الدارقطني (ت ۳۸۵ هـ ) سنن الدارقطني، لومړی چاپ، د چاپ كال: ۱۴۲۴ هـ .

**خلاصة البحث:**

بحثتُ في هذا البحث مسألةً مهمةً التي تتعلّقُ باختلاف المطالع. فقضيةُ اختلاف المطالع تُعَدُّ من القضايا الأساسيّةِ في الإسلام، و تزدادُ أهميةُ هذه القضيةِ عندما قامَ الباحثونَ بالدارسات الأخرى المتعلّقةِ بها. وقد وقع خِلافُ بين الفقهاء في مسألة اختلاف المطالع؛ فذهبَ بعضُهم إلى اعتبار اختلاف المطالع مستندينَ على أدلتهم، بينما ذهب جمهورُ العلماء إلى عدم اعتباره، وهذا القول هو الراجح و عليه الفتوى، كما رجّحه وفضّله العلامةُ ابن عابدين ( رحمه الله ) في رسالته المعروفة. وحكم الحديث في هذه المسألة يتعلّق برؤية الهلال على الإطلاق، فإذا ثبت في موضع بطريق موجب، وبلغ خبره إلى الآخرين بطريق يفيد لغلبة الظنهم، فإنّ تلك الرؤية تُعَدُّ حُجّةٌ عليهم.

أما المسألة الثانية، و التي كانت من المهم التطرّق إليها، فهي الإعتماد على الحسابات الفلكية في دخول شهر رمضانَ وتحديدِ الأعياد. فقد أجمعتِ المذاهبُ الأربعةُ و مُعْظَمُ الفقهاء على عدم جواز الإعتماد على هذه الحسابات، لأن الشريعةَ قد علّق تكليفَ المسلمين على صيام رمضان و العيدينِ بثبوت رؤية الهلال بالعين المجرّدة، و إنّ الرؤية بالعين المجرّدة تفيد اليقين شرعاً. و إذا غُمَّ على المسلمينَ رؤيةُ الهلال، فإنّ الحكمَ الشرعيَّ في هذه الحالة هو إكمالُ عِدِّةِ الشّهرِ إلى ثلاثينَ يوماً. وقد تمّ تناولُ هذه المسائل ونحوها في هذا البحث مما يتعلّق بموضوعه.

الكلماتُ المفتاحيّةُ: الهلال، المطالع، الاختلاف، الحكم، الصيام، العيدين، الفلك.

## Abstract

In this research, the important issue of the difference in moon sightings has been studied. The case of Ikhtilāf al-Maṭāliʿ (difference of horizons in moon sightings) is considered one of the fundamental issues in Islam, and its importance increases even more when researchers conduct further studies on it. Among scholars, there exists disagreement regarding this matter: some scholars, based on their evidences, give it consideration, while the majority of scholars do not recognize the difference of horizons as valid. That quote counted valid and better among scholars.

as ʿAllamah Ibn ʿĀbidīn has also given preference and superiority to this opinion in his treatise. According to this position, the ruling of Islam concerning the new moon is connected to actual sighting. If the crescent moon is sighted in any place in accordance with Sharia, and trustworthy and reliable news of this sighting reaches others who did not see it, then that sighting is regarded as proof for them as well.

The second issue, which is also essential and should be studied, concerns the reliance on astronomical calculations for determining the beginning of Ramadan and Eid. According to four Imams of sect (madhhab) and the majority of jurists, such reliance is not permissible, because Muslims are obliged to fast in Ramadan and celebrate Eid only when the new moon is actually sighted. Seeing the moon with the naked eye provides Sharia certainty. If, however, the moon is not sighted due to any obstacle, then the ruling of Islamic law in this regard is that the month must be completed as thirty days. These and related matters have been examined in this research.

Salam University
Faculty of Sharia
Master Program in Jurisprudence & Law

Islamic Emarat of Afghanistan
Ministry of Higher Education
DM of Academic Affairs

# The Differences in moon sightings and Their Impact on Jurisprudential Rulings in the Light of Islamic Jurisprudence

**(Master's Thesis)**

Dr.Mohammad Younas (Ibrahimi)

By: Enayatullah (Noori)

Year:2024

Salam University
Faculty of Sharia
Master Program in Jurisprudence & Law

Islamic Emarat of Afghanistan
Ministry of Higher Education
DM of Academic Affairs

# The Differences in moon sightings and Their Impact on Jurisprudential Rulings in the Light of Islamic Jurisprudence

(Master's Thesis)

Dr.Mohammad Younas (Ibrahimi)

By: Enayatullah (Noori)

Year:2024

Scanned with OKEN Scanner